سوال:......

د كوم مال زكوة چي وركول سوى دى او ددې مال څخه يې هيڅ تجارت او نور څه نه دي كړي هغه بدستور موجود دى نو واس بل كال يا بل وخت پر دې مال باندي آيا بيا وركول كيږي كه نه؟

جواب:......

تر څو پوري چي دا پيسې مقدار نصاب يا تر دې زياتي پاته وي تر هغه وخته پوري هر كال پر هغه باندي زكة واجبيږي هو چي كله د زكاتو په ادا كولو سره د مقدار نصاب څخه كمي پاته سي بيا د كال پوره كېدلو سره زكوة نه وابجيږي خو دا چي د كال پوره كېدلو درمخه يو څه نوري پيسې په دې كي ګډي كړي چي نصاب پوره سي نو بيا زكوة واجبيږي وعلى هذا . وَاللهُ اعلم .

سوال:......

د سپينو زرو او سرو زرو ما سوا په خالص نوټ او د ګيلټ د و سپينو يا

روئی روپیو بانډي زکوة ادا کیږي که نه؟

جواب :......

په دې وجه چي نوټ مال نه دی بلکه سند دی د مال او محض حواله دی، یعني د سرکار چي ذمه چي قرض دی ددې د وصولولو او زکوة د مال د تملیک څخه اداکیږي بدون تملیک مال نه ادا کیږي او فقط د اصول قرض وکیل جوړولو څخه وکیل نه مالک کیږي بلکه چي کله یې وصول کړي او قبضه یې کړي په دې وخت کي مالک کیږي په دې وجه په نوټ ورکولو سره زکوة نه ادا کیږي لکن چا ته چي په زکوة کي نوټ ورکول سوی دی که هغه د دې په بدل کي د یو څخه پیسې او داسي نور واخلي نو ادا کیږي او که چیري ده یعني چا ته چي په زکوة کی نوټ ورکول سوی وو یو چا ته قرض یا په ادائیگي قرض کي نوټ ورکي نو زکوة نه سو ادا .

"فی تنویر الابصار متن الدر المختار هی تملیك جز مال عینه الشارع الخ او بعد توکیل بالقبض"

قبض دین څخه د ادا زکوة روایت په وروسته صفحه کي درج وي او د پاته دکځاد ونی څخه زکوة ادا کیږي ولي چي زکوة د خلاف جنس څخه ادا کول جائز دی پر کوم شي چي زکوة واجب دی ددې د قیمت څلوېښتمه حصه دی ددې سکو څخه ورکي:

"کما الشامی ص٤٧ / ج: ۲ ، تحت قوالدر (والمتبر وزنها اداء و وجوباً) و اجمعوا علی انه لو ادّی من خلاف جنسه اعتبرت القیمة ، و اللّٰه اعلم"

سوال :......

د ډاکخانې په ذریعه زکوة پیسې و یو مستحق د استولو په صورت کي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي كومي پيسې په ډاكخانه كي داخليږي هغه پيسې مستحق ته نه رسيږي بلكه د هغه په عوض كي نوري پيسې ورسيږي نو دا رقم زكوة ادا كيږي كه نه؟

جواب:......

”في الدر المختار (تمليك الدين ممن ليس عليه الدين باطل الا) في ثلاث حوالة ووصيةٍ و(اذا سلطه) اى سلط المملك غير المديون (على قبضه) اى الدين فيصح حينئذ ومنه ما لو وهبت من ابنها ما على ابيه فالمعتد الصحة للتسليط۔

وقال الشامي تحت (قوله على قبضه) وحينئذ يصير وكيلا في القبض عن الامر ثم اصيلاً في القبض لنفسه ومقتضاه صحة عزله عن التسليط قبل القبض و إذا قبض بدل الدراهم د نانير صحّ الانه صار الحق للموهوب له فملك للاستبدال وإذا نوى في ذلك التصدق بالزكوة اجزاه كما في الاشباه“(شامي / ج: ٤ / ص: ٧٩٥)

په دې كي تصريح دى چي كه يو سړي ته د خپل قرض اصولولو لپاره وويل سي نو هغه سړى وكيل بالقبض كيږي او چي كله يې هغه وصول كړي نو د مؤكل د طرف څخه وكيل او د خپل ځان د طرف څخه اصيل جوړيږي وصولوي يې، او كه چيري هغه د درهم پر ځاى دينار وصول كړى بيا هم صحيح دى پس چي ډاكخانه داخل شده روپيو ته بعينه نه رسوي نو هغه د ده پر ذمه قرض كيږي او مرل اليه وكيل عن الآمر او اصيل عن نفسه د كېدلو حيثيت څخه هغه وصول كوي نو هغه ددې مالك كيږي او د زكوة نيت د روانېدلو مني آرډر په وخت كړى وو په دې وجه زكوة ادا سو

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم وار يعني وخت قبض د نيت ادائيگي زكوة ضرورت نسته (كما هو مصّرح في قوله و إذا نوى من ذلك التصدق بالزكوة اجرأة) و الله اعلم البته كه د ډاكخانې څخه مرسل اليه ته نوټ وصول سو نو زكوة دا نسو بلكي دې په بدله كي پيسې چي د چا څخه واخلي نو بيا ادا كيږي، كما مر في الجواب عن السوال الاوّل .

سوال:......

ديو سړي په ذمه باندي ديو څو كلو زكوة اداكول واجب وو . دې سړي و خپل مال ته د كوم چي زكوة واجب نه وو په تجارت ولګولى په تجارت كي تاوان وكړ يعني نقصان راغلى او د تجارت په وجه هغه قرضداره سو نو په دې صورت كي ددې سړي د ذمې څخه زكوة معاف سو كه پر واجبيږي؟

جواب:......

"في الدر المختار والتوى بعد القرض والاعادة واستبدال مال التجاة و السّائمة بالسّائمة استهلاك و في الشامي تحت قوله (و يعتبر مال التّجارة الخ) تتمه و حكم النقود مثل مال التجارة ففي الفتح رجل له الف حال حولها فاشترى بها عبد التجارة فمات او عروضا للتجارة فهلك بطلت عنه زكوة الالف ولو كان العبد للخدمة لم تسقط بموته و تمامه فيه "(/ ص: ۳۳ / ج: ۲)

د دې څخه معلومه سوه چي په صورت مسئوله كي (يعني داسي مال يې په تجارت كي ولګاوئ په كومو كي چي زكوة واجب وو او په مال كي نقصان وسو نو) زكوة ساقط سو كه چيري په تجارت كي بيع و شراء د غبنِ فاحش سره كړي وي نو غبن مقدار نه ساقطيږي:

"كما في الشامي (صفحه مذكوره) عن البدائع و ان حابى بما لا يتغابن فيه ضمن قدر زكوة المحاباة الخ"

سوال :......

و يو محتاج ته عمرو پنځه روپۍ ما هوار ېې له يو څه محنته وو احسانه الله وركوي پر عمرو لس روپۍ زكوة واجبېږي په ماه شعبان رمضان شريف كي پنځه روپۍ وركولو په وخت كي د ادائيګي زكوة نيت كوي آيا په دې صورت كي زكوة ادا كيږي؟

جواب : ....

هو ا زكوة ادا كيږي د زكوة وركولو دا په ژبه سره ويل ضروري نه دى ، دا چي رقم د زكوة دي و الله تعالى اعلم .

سوال :......

(۱) د زكوة يا عشر ادا كولو لپار كه چيري نوټ فقير ته وركړل سي نو زكوة يا عشر ادا كيږي كه نه؟

(۲) كه چيري نوټ په زكوة كي وركول جائز نه دى نو د لا علمي د وجهي څخه په زكوة كي نوټ وركول سو دى د كوم چي تعداد هم معلوم نه دى ، نه يې ياد دي ، ددې څه حكم دى ؟ هغه زكوة يا عشر ادا سو كه نه؟

جواب : .....

(۱) اصل دا دى چي نوټ خپله مال نه دى بلكه سند مال دى په دې وجه ددې د وركولو څخه زكوة تر هغه وخته پوري نه ادا كيږي تر څو پوري چي فقير پر هغه رقم باندي قبضه نه وكړ يا د هغه څخه يو شى واخلي پر شي قبضه و نه كري كه چيري هغه پيسو قبضه نه وكړ او نه يې د هغه

څخه شی واخیستی قبضه یې نه کړئ بلکه بعینهٖ هغه نوټ یې یو چا ته په خپله قبضه کې ورکړئ نوتډ هغه څخه ورک سو یا یې هغه و یو چا ته هبه کړی نو زکوة نه ادا کیږي ولې چې د فقیرو قبضې ته مال نه ورسیدئ .

(۲) د تېرو په متعلق دوه صورته دی یو خو تحقیق: چې څومره قدر بدون تعب د شدید تحقیق وسي په دریافت کې یې معلومه کړه چې کومو خلکو ته چې په زکوة کې نوټ ورکول سوی وو هغوی هغه څنګه صرف کړې دوهم : تحرّی، چې د څه مقدار متعلق تحقیق تکلیف وي د هغه په متعلق دا سوچ وکړه چې عادةً په دونه خلکو چا ته چې ما نوټ ورکړی دی دا رقم خلک څو کیږي چا چې زما څخه پیسې څنګه واخیستې نو په قرض کې یې ورکړې یا به یې هبه کړیوي یا به یې صدقه کړې وي دا سوچ دی وکړئ د اندازې څخه چې هر مقدار ذهن ته راغلی نو چې څه مقدار وو غالب وي د هغه موافق د زکوة اعاده وکړه . و الله اعلم .

سوال :......

د زید سره د بکر د زکوة پیسې دي او هغه یې د زکوة د ادائیکي وکیل جوړ کړی دی نو ده حسب موقع و محل د هغه زکوة امانت پر فقراؤ مساکینو باندې تقسیموي او چې کله یو حاجت مند قرض غواړي نو د قرض په نیت یې هغه ته ورکوي او پر واپسي باندې بیرته دغه پیسې د زکوة په مَد کې ږدي او ددې قرض ثواب هم بکر ته بخښي ولې چې زید ته معلومه ده چې بکر زما و دې تصرف ته په خوشحالي سره اجازت ورکوي، په دې وجه داسې کوي نو په دې صورت کې دا تصرف اقراض د زکوة په پیسو

Maktaba Tul Ishaat.com

کي جائز دی که نه؟
که ده صریحي اجازت ضرورت کیږي د داسي تصرف بعد د تدراک به کوم صورت وي، آیا بکر ته اطلاع ورکول کافي کیږي؟

جواب:......

د زکوٰة رقم بمدِ قرض استعمالول ولي چي غرض معطی خلاف دی ددې لپاره چیوه ثمره خو دا کیږي د صورت ضیاع رقم وکیل د قرض ورکولو په صورت کي ددې رقم ضامن کیږي او که چیري هغه قرض نه ورکولای بنکه هغه رقم یې بخبنه محفوظه اینبولای نو نه ضامن کېدی دوهم په دې کي دا احتیاط هم خلاف دی چي د بدون صریح اجازت مؤکل ددې خلاف تصرف وکړ پس لازمه ده چي ماضي و مستقبل د د وارو متعلق مؤکل اطلاع وکړه او اجاز حاصل کړه او چي بکر ته معلومه دهچي زید د هغه دا تصرف په خوشحالي سره قبوله وي نو په اطلاع کولو کي څه ساوان دی . محترم نوټ ته علماء بدل یا ثمن مثل وائی په نوټ مطلقاً زکوٰة جائز دی .والله اعلم

سوال:......

بنده ټوله کال صاحب نصاب وو، او بنده د زکوة حساب هر کال ۲۸ شعبان کي کوی اوسسوال دا دی چي بنده پر خپله مځکه اجاره باندي په ۸ ذیقعده کي بعوض مبلغ ۵۰۰ پنځه سوه روپۍ ورکړې او دا وعده د جانبین څخه وسوه د فصل کاټولو بعد یعني راروان ذیقعده کي مبلغ پنځه سوه روپۍ ورکول ولي چي زموږ خواته یې داغه رقم پر اجاره باندي یې ورکوي در دې مدت مځکي یې نه زه غوبنتای سم نه یې هغه راکوې اوس چي کله

Maktaba Tul Ishaat.com

بنده پر ۲۸ شعبان باندي حساب و کړی نو څو نه قدر روپۍ چي د زېور کيږي د دې سره د اجاره د اجرت پيسې د پنځوسو هم زکوة واجبيږي که نه؟

جواب :......

پر ختم کال باندي زکوة د داغه رقم واجبيږي چي د کال پر ختمېدو باندي د دغه سري سره ورسره وي او پر دين قوي باندي زکوة واجب دی خو د وصوله بعده لږ تر لږه د څلوېښتو درهمو ادا واجبيږي او دين مؤجل د کوم چي اجل د کال د ختمېدو څخه متجاوز دی ددې د مطالبې قبل از اجل حق نسته نه پر هغه قبضه سته ددې لپاره هغه ددې رقم سره شمارل وجب نه دي د کوم چي زکوة د کال پر ختمېدو باندي واجب الاداء دی خو ددې پيسو زکوة هم قبل از وصول ورکړل سي نو اداکيږي او په داغه کي سهولت دی کنې د وصول بعده اداکول واجب دي .

سوال :......

زما جائيداد تقريبًا د پنځلسو زرو دی په دې باندي دوولس سوه روپۍ قرضه ده اوپه جائيداد کي ما خپل دخلي رهن کړی دی ددې ما ته هيڅ کټه نه را رسيږي او سود هم نه ورکول کيږي زما سره تقريباً څلور سوه څلور نيم سوه روپيو زېور طلايي و نقدي دی په دې صورت کي پر ما باندي زکوة واجب دی که نه؟

جواب :......

په صورت مسئوله کي د قرض د وجهي څخه زکوة واجب نه دی:

"قال في الدر مع الشامية يصرف الدين اولى إلى مال الزكوة لا إلى غيره ولو من جنس الدين خلافاً لزفرؒ اهـ. و الله اعلم"

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......

د زید سره تعدادي څلور زره روپۍ نغدي دي د کوموڅخه چي ده دوه زره ورکړي مبلغ د څورو زرو روپو موټر په کرایه باندي د چلولو لپاره واخیستی او د کمپنۍ دوه زره روپۍ پر ده باندي قرض پاته سو د اخیستلو بعده پنځه میاشتي موټر وچلېدی او بذریعه کرایه مبلغ پنځه سوه روپۍ وصول سوې اوس د زید د زکوة ورکولو کال پوره سو او حال دا دچي زید دوه زره روپۍ د موټر په قیمت کي ورکړې او دوه زره نغدي دده سره دي خو ده دوو زرو د کمپنۍ قرضداره دی او مبلغ پنځه سوه روپۍ منافع د موټر ده سته نو اوس چي د کمپنۍ قرض جلا کړې یوازي پنځه سوه روپۍ چي د منافع موټر دی د هغه زکوة ادا کړي که دوه زره چي کور ته دي هغه هم ورسره ګډي کړي بیا زکوة ورکړي یا هغه منافع او هغه دوه زره چي په کور کي دي او هغه دوه زره چي د موټر په قیمت کي ورکول سوي دي کردي څلور نیم زرو زکوة وباسي په هر څه صورت کي کوم صورت اختیار کړي او دا موټر مال تجارت دی که آله تجارت ؟

جواب:......

د زید پر ذمه باندي صرف (یواځي (د پنځه سوو زکوة واجب دی چي په منافع کي وصول سوې پر موټر باندي او پر دوه زره جمع باندي زکوة نسته دا موټر مال تجارت نه دی بلکه مثل مکان د کرایې دی: و لا زکوة فی المنافع . او دوه زره جمع فاضل عن الدین نه دي: فلا زکوة فیه ایضا و الله تعالی اعلم .

سوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

یوې ښځې ته د مهر په عوض کې سل تولې د سپینو یا سرو زرو زېورات ورسپدل دې ماسوا ددې سره نور هیڅ مال نسته اوس پر دې باندې زکوة و قرباني واجب ده، نوولې یې ادا کړي، آیا زېورات به خرڅوي بیا به ورکوي که د دې پر مېړه باندې د خپلې ماینې د طرف څخه ادا کول لازمېږي ولې چې ښځه د نر لپاره دیوې مزدورې کار هم کوي خو د اجرت لپاره هیڅ عقد نسته دارقم د مېړه د رضاجويي لپاره خپل غیر متعلق کار هم کوي .په دې صورت کې که چیرې مېړه د خپلې ماینې د طرف څخه زکوة یا قرباني نه ورکړي نو مواخذه پر ښځه کیږي که پر نر؟

جواب:......

زکوة و قرباني پر ښځې باندي واجب ده د دې د طرف څخه پر نر باندي ادا کول نه دي واجب او ښځې ته د سړي څخه د خپل خدمت معاوضه اخیستل هم نه دي جائز، ولې چې خدمت زوج طاعت دی او د طاعت اجرت اخیستل حرام دي، الا ما استثناه الفقهاء للضرورة . ښځه د خپل مهر مطالبه د سړي څخه کولای سي .

که چیرې سړی مهر هم نه ورکړي نو ښځه دې زېور خرڅ کړي او زکوة و قرباني دې ادا کړي .

سوال:......

زید صاحب نصاب دی او پر ځای ددې چې د کال پر ختمېدو باندې حساب وکړي کړده رقم زکوة یکمشت ادا کولو په دوران کال د کال په مابین کې د خپلې آسانې لپاره وخت پر وخت لږ لږ رقم علی الحساب د کال د شروع څخه ادا کوي د کال پر ختمېدو باندې که په حساب کې کمی راغلی وي نو

هغه پوره کوي او که زیاتی پکښې وسي نو هغه دراروان کال زکوة په ادا کولو کې جمع کړي د کال پرر ختمېدو باندي حساب په وخت هغه تېره زیادتي دې کال په ادائیګي کې شمار کړي دغه رنګه بل وخت مه، دریافت طلب دا دی چې دا عمل شرعاً جائز دی کنه اوزکوة ادا سو که نه؟

جواب:......

دا صورت هم جائز دی خو ښه دا ده چې پر تمام کال باندي ددې کال کرده زائد زکوة ادا کړي ولې چې د موت وحیات اعتبار نسته که چیري مرضِ موت کې اخته سي نو هغه رقم چې د زکوة لپاره یې ایښی دی د ورثه وو په ملک کې ورځي بیا څه خبر چې هغه یې ورکړي که نه.

سوال:......

دا امر دریافت طلب دی چې د کال په مابین کې وخت پر وخت باندي زکوة تقسیمېږي او د کال پر ختمېدو باندي حساب پوره کیږي، که چیري زکوة اسمال د مقدار فرض څخه زیاد تقسیم سي نو دا زائد رقم تقسیم شده درا روان کال په زکوة کې مجری و محسوب کړي کنه؟

جواب:......

د مقدار واجب څخه زائد رقم چې په زکوة کې تقسیم سوی دی هغه درا روان کال په زکوة کې محسوبه کیږي:

"کما فی الشامی (۴۲۱ / ج: ۲) وفی الولوالجیة: لوکان عنده أربعمائة درهم فادّی زکوة خمسمائة ظانًا انها کذلك کان له ان یحسب الزیادة للسنَة الثانیة لأنه امکن انتجعل الزیادة تعجیلاً اهـ"

سوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

زید سرکاري ملازم دی دده د تنخواه څخه شل روپۍ ماهوار سرکار کاټوي دده هغه رقم چي شل روپۍ د ماهوار څخه په سرکار کي جمع کیږي د پنښن بعدیې پر یوه ځای سرکار ورکوي نو پر داسي پیسو باندي هم زکوة واجب دی؟

جواب:......

په صورت مسئوله کي دا وخت زکوة واجب نه دی دا پیسي چي د ده په قبضه کي راسي اوحولان حول سي نو زکوٰة واجبیږي:

"قال قاضی خان إذا اجر داره او عبده بمأتي درهم لا تجب الزكوة مالم يحل الحول بعد القبض و فی قول ابی حنيفةؒ فان كانت الدار او العبد للتّجارة و قبض أربعين درهماً بعد الحول كان عليه درهم بحكم الحول الماضی قبل القبض الخ"(ص۱۲۱ / ج: ۲)

قلت: و إذا لم يكن عليه زكوة فی اجرة الدّار والعبد الا إذا كانا للتجارة فاجره نفسه اولی فانّ الحرّ ليس بمال۔

سوال:......

د زید سره د لسو زرو د مالیت مځکه ده او ددې مځکي لږ حصه بعوض پنځه زره رهن دی او د ده سره د پنځو سوو مالیت زر دي آیا پر دې زېور زکوة واجب دی که نه؟

جواب:......

پر دې زېورو باندي زکوة واجب دی.

سوال:......

د زید سره د پنځو سوو زېور دی او یو زر (۱۰۰۰) روپۍ دده د زوجې مهر د

Maktaba Tul Ishaat.com

ده پـر غـاړه واجب الاداء دی، آیـا پـر دې زېـور بـاندي د نر پر ذمـه باندي زکوة واجب دی که نه؟

جواب:......

کـه چیـرې د مهـر مـاسـویٰ د مؤجل کېدلو دا سړي د ادا کولو په فکر کي دی بیا خو پر دې زېور باندي زکوة واجب نه دی، کنې واجب دی:

"کما فی العالمگیریة و ذکر البزودی فی شرح الجامع الصغیر قال مشائخنا فی رجل علیـه دیـن مؤجل لامرأتـه و هو لا یرید ادائه (ای فی احلال) لا یجعل مـانعًا من الزکوة لعدم المطالبة فی العادة و انه حسن ایضا هکذا فی جواهر الفتاوی۔"

سوال:......

دیـو چـایـو څـه روپـی ورې پـر کومو چي هغه زکوة ورکاوی اوس یې هغه پیسې وبـل سـړي تـه قرض ورکړې اوس هغه مقروض وایي چي زه نغدي روپـی نـه سم ادا کـولای د دې پـه عـوض کـي لږ جائیداد زما څخه واخله او هغـه تـه هم د ادا کولو هیڅ صورت په نظر نه راځي په داسي صورت کي د زکوة څه حکم دئ؟

جواب:......

پـه دې صـورت کـي مـدیو ن منکر خو نه دی بلکه د قرض مقر او جائیداد د رقـم قـرض پـه عـوض کـي ورکولو تـه تیار دی په دې وجه د قرض ورکولو والا د ذمې څـخـه د سنیـن مـا فیـه زکوة ساقط نه دی او که چیري جائیداد واخلي نو راروان زکوة نه واجبیږي:

"واستبدال مال التجارة بمال التجارة هلاك و بغیر مال التجارة استهلاك

Maktaba Tul Ishaat.com

قال الشامي شمل ما لو استبداله بعوض ما ليس بمال اصلا او بعوض هو مال لكنّه ليس بمال الزكوة بان باعه بعبد الخدمة او ثياب البذلة فيضمن الزكوة في ذلك كلّه لأن استهلاك اهـ"(شامي / ص: ۳۳ / ج: ۲)

سوال:......

زيد د خپل مال زكوة وركړى او دده زكوة د پيسو څخه يوڅه خويې پر مستحقين زكوة باندي خرڅي كړې او يو څه كالي يې د مستحقينو په واسطه واخيستو او كنبښولو او بيا هم يوڅه نغدي باقي پاته سوې چې د ده په كور كي غلا وسوه په غلا كي د زكوة پيسې او كالي او دده مال مال هم غلا سو . سوال دا دى چې د زكوة څخه سبكدوشي وسوه كه نه، كه چيري نه وسوه نو په كومه طريقه به يې ادا كوي؟

جواب:......

كه چيري فقط هغه مال غلاسو چې د زكوة په نيت يې جلا ايښى وو بيا خو د زكوة څخه سبكدوشي نه كيږي او كه چيري نور مال هم غلا سوى وي نو د مال مسروقه زكوة معاف سو كه چيري لږ مال دده سره پاته سوى وي نو دده پاته مال زكوة ادا كول واجب سو:

"كما في الدر المختار ولا يخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء و قال الشامي فلو ضاعت لا تسقط عنه الزكوة الخ (۱۸ / ج: ۲) ولا في هالك بعد وجوبها ومنع السّاعي في الاصح لتعلقها بالعين لا بالذّمة و ان هلك سقط حظّه ـ"

سوال:......

د يوې ښځي سره دوې تولې زېورات دي . دده په پښو لاسو غوږو او غاړه مدام تر دوپنځوسو زائد وي او دا دده د ضروريات څخه دي دا به د

Maktaba Tul Ishaat.com

تولو زیوراتو زکوة ورکوي که به د مابقیه زیوراتو زکوة ورکوي؟

جواب :......

ددې ښځې پر ټولو زیوراتو زکوة واجب دی پر هغه باندي هم کوم چي استعمالوي یې او پر هغه هم زکوة کیږي کوم چي ورته پراته دي:

"صرّح به في الدر وغيره من المتون والشروح ـ والله اعلم"

سوال :......

یو سړي په څلور زره روپۍ باندي یوه مځکه واخیسته د کومي ادا چي په لس قسطو باندي ایښې ده یو قسط هغه ادا کړ او پر مځکه باندي قابض سو، او ده دوهم قسط لپار مال ٢٥٠ روپۍ دده سره ایښې دي پر کوم چي حولان حول سوی دی نو پر دې رقم باندي زکوة واجب دی کنه، او د مځکي قرض مانع وجوب زکوة دی که نه؟

جواب :......

پر دې رقم باندي زکوة نه دی واجب قرض بره حال مانع وجوب زکوة دی هغه که د مځکي د وجهي وي که د بلي وجهي څخه وي او که د هغه ادا بالاقساط مشروط وي او که بلا اقساط .

سوال :......

ماپه دوه سوه پنځه پنځوس روپۍ خرڅولو سره ١٥٥٥ کتابونه چاپ کړل او د خرڅولو لپاره مي دوکاندار ته کښېښوول اوس زما په لاس کي روپۍ پیسې یو شی نسته د کال پر ختمیدو باندي ٢٥٥ روپۍ ماته را رسیږي بیا هغه ٢٥٥ روپۍ هم دوهم وار پر کتاب چاپولو باندي خرڅیږي زما نور هیڅ مال و متاع نسته پس پر ما باندي زکوة واجب دی که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :......
پر تا باندي زکوة واجب دی او د مال تجارت د زکوة لپاره د روپو پیسو ضرورت نسته د مال تجارت موجودېدل او په غه باندي کال تېرېدل شرط دی پس هغه ۱۰۰۰ کتابونه ستا سره پراته دي او پر هغو کال تېر سو نو د هغو ۱۰۰۰ څخه ۲۵ کتابونه په زکوة کي وباسته یا د ۲۵ کتابو قیمت ورکړه چي آسانه وي او انفع للفقراء وي .

سوال :...... د یو سړي رئیس سره یو څه بزې هم سته او دده پر مځکه کي یې دده مزدوران ګوري په دې کي زکوة سته که نه؟

جواب :......
بزې که څلوېښت یا ددې څخه زیاتي وي د کال پر تېرېدلو باندي پر هغه باندي زکوة واجبېږي که چیري بزې محض د خوړلو په وجه نه بلکي اصل مقصود یې د مال ډېردل وي ګواکي طبعاً کله یې خوري هم د کوم چي مفصل بیان په کتب فقه کي سته هغه ده یې پخپله مځکه کي ګوري یا یې په سرکاري مځکه کي ګوري که یې د مځکي والا په مځکه کي ګوري تېوله صورتونه برابر دي که چیري تر څلوېښتو کمي وي نو زکوة نه دی واجب .

سوال :......
د یو سړي سره بزې دي دوه سوه خو مځکه نسته په یو ځنګل سرکاري مځکه کي یا یې د مځکوو والا په مځکه کي ګوري په بازار کي یې شیدې خرڅوي خپله ګزاره په کوي په دې کي زکوة سته که نه؟

جواب :......
سرکاري او د مځکو والا په مځکه کي بزې کتل درست دي په شرط ددې

Maktaba Tul Ishaat.com

چي د کهیتی او درختو تاوان نه وکړي وابنه او پاني خوري او د کوم سړي سره چي دوه سوه بزې دي او هغه په شیدو خرڅولو سره ګزاره کوي دده مقصود د بزو پاللو څخه څه دی، آیا یوازځي د شیدو خرڅولو په واسطه بزې پالي او که مقصود یې مال زیاتول دي او د بزې څخه د بچیانو فائده اخیستل او تبعاً د شیدو څخه هم نفع اخلي د دې دواړو خبرو څخه چي یې کوم مقصود وي هغه واضح ولیکل سې نو جواب ورکول کیږي .

سوال:......

آیا پر وقف مځکه متعلق مسجد باندي عُشر سته؟

جواب:......پر مځکي د وقف متعلقه مسجد باندي هم عشر سته:

"قال فی العالمگیریة وکذا ملك الأرض لیس بشرط للوجوب لوجوبه فی الأرض الموقوفة اهـ"(ص ۱۹۱ / ج: ۱)

سوال:......

(۱) د عشري مځکي تعریف څه شی دئ او خراجي مځکه څه ته وایي، او په دا بل سوال کي چي کوم جزیات مرقوم دي هغه عُشري دي که خراجي؟

(۲) لاخراج بازیافتی هغه مځکي ته وایي چي د نصاریٰ د تسلط قبل لاخرج وه او په هغه کي خزانه ورکول نه غوښتل چي کله د هغه غلبه وسوه او د مځکي مالک د لاخراج کېدلو هیڅ ثبوت نه ورکئ نو سرکاریو څه خزنه او د مځکي د لاخرج کېدلو هیڅ ثبوت نه ورکئ نو سرکاریو څه خزانه و ټیکس مقرر کولو سره مالک د مځکي ته هغه مځکه واپس ورکوي .

(۳) نیاباد هغه مځکي ته وایي کوم ته چي رعایا ګورنمنټ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

میعادي اجازت واخلي او آباده يې کړي او کومه خزانه چې سرکار پر ده مقرره کړه هغه ادا کوي او چې کله میعادي اجازت ختم سي گورنمنټ خزانه مختته کوي که چیري هغه خلک زیادتي قبوله کړي نو مځکه د هغه سره بحاله او سیرۍ کنې چې پر هغه راضي وي هغه ته يې ورکوي.

(۴) طرف دوهم قسم د مځکي والا څخه سرکار د ضرورت په وجه يوه روپۍ د خزانې په مقابله کي لس روپۍ اخیستلو سره هغه تقه قائمي بندوبستي ورکړه او د هغه سره يې وعده وکړه چې زه د هغه مځکه ستاسو څخه واخلم نو بل چا ته يې نه ورکوم.

(۵) در رعايتي هغې مځکي ته وايي کومي ته چې زمینارانو د سرکار څخه پر خزانه باندي بندوبستي کولو سره راعیا ته میعادي بندوبستي ورکړه د بعضو څخه يو څه نذر واخیسته بعضو ته يې داغه رقم مثلا د ۹ کالو لپاره بندوبستي ورکړه او د هغو سره يې وعده وکړه زه ستاسي څخه دا مځکه واپس نه اخلم خو چې زمیندار کله ددې څخه واپس اخیستل وغواړي رعايا ته د راګرزوولو هيڅ قدرت نسته.

(٦) په خراجي مځکه کي چې غلّه (جواري او ربشي، غنم او داسي نور) ديوه کال خور دپوش څخه زائد پیدا کیږي ددې زکوة ورکول واجب دي کنه بر تقدیر اول ددې حکم د مال تجارت رقم دی که نه دی؟

جواب: ...... (۱) الأرض العشرية ما فتحها المسلمون عنوة و قسموها بين الغانمين اواسلم اهلها برضاهم و اقروا عليها ولم يملكها كافر منذ فتحوها إلى الأن، و الخراجية ما فتحوها صلحا واقرّ اهلها عليها أوكانت عشرية فملكها كافر فى وقت.

(۲) دا محُكه عشري ده .

(۳) دا محُكه خراجي ده .

(۴) دا هم خراجي ده .

(۵) كه چيري هغه محُكه د اوله سره د مسلمانانو په قبضه كي وه نو عشري ده او كه چيري يو څه وخت بعد قبضه له مسلمانانو څخه د كافرانو په ملك كي راغله نو خراجي ده او كه چيري د مسلمانانو په قبضه كي حالاً ده خو پر مخ ديو كافر په قبضه كي راتلل معلوم نه دي بيا هم عشري ده .

(٦) د خراجي يا عشري محُكي په زائد پيداوار كي زكوة نسته د پيداوار په خرڅولو سره چي كوم رقم جمع كړي، كه چيري هغه د ضرورت اصليه څخه فاضل وي نو وروسته تر حولان حول پردې زكوة كيږي .



﴿باب صدقة الفطر﴾

سوال:.......

چې يـو ځـاى غـوړي نه پيدا كيږي او اوړه هم په نهايت ګران قمت وي نو كه چيري ديو بل ښار د غوړو په اندازه سره صدقه فطر ادا كړي جائز دي كه نه؟

جواب:.......

دبل ښـار د قيـمت اعتبار نـه كيـږي كـه چيـري غـوړي نه سي پيدا نو يوه كـاسـه د اوربشـو قيمت دي ادا كي او كه چيري هيڅ شى هم نسي پيدا نو د تـجار څـخـه دي پـوښتنه وكړي چي كه چيري دلته غواړي په دا وخت كي واى نو د هغه به څه مقدار واى د هغه د حساب څخه قيمت دي ادا كړي .

سوال:.......

ولـې (نخود) په فطره كي د غوړو، اوربشو دقيمت په حساب سره وركول كيـږي كه به د هر يوه ذ مقدارِ مشروع د حسابه وركول كيږي د چولو اصل يو ځاى سته كه نه؟

جواب:.......

پـه فطره كي چولې وركول جائز دي خو وزن يې نه دى مقرر نيمه كاسه د غنمـو چي كـوم قيمت وي هغومره قيمت چولې دي وركړي يا دي قيمت وركړي:

"كما فى الدر المختار / ص: ١٢٢ / ج: ٢ وما لم ينص عليه كذرة وخبز

Maktaba Tul Ishaat.com

يعتبر فيه القيمة فقط“

سوال:......

يوسړى په تهانه بون كي اوسيږي او د دې ځاى د غوړو سير شپږ آني كړي بيا يې خرڅوي او د مرادآباد په ښار كي تاجر خلك غوړي څلور انې كړي بيا يې خرڅوي پر دې تقدير باندي كوم سړي چي په تهانه بهون كي اوسيږي هغه كه چيري د مرادآباد په مقدار سره فطره ادا كړي نو ادا كيږي كه نه؟ او كه بې د تهانه بهون په اندازه وركوي؟

جواب:......

قيمت په صدقه فطر كي د قياس على الزكوة مقتضى ده خو د ده چي موضع مال د قيمت اعتبار وي:

” قال فى الدر و يقوم فى البلد الذى فيه المال ولو فى مفازة ففى اقرب المواضع اليه اهـ (ص ۳۵ / ج: ۲)

و فيه ايضا صدقة الفطر كالزكوة فى المصارف وفى كلّ حال الا فى جواز الدفع إلى الذمى وعدم سقوطها بهلاك المال وقد مرّ اهـ“ ـ (ص ۱۲۷ / ج: ۲)

او پر دې فرق باندي نظر وكړه چي د زكوة سبب وجوب مال دى (په دې وجه موضع مال معتبر سو) او د صدقه فطر سبب وجوب راس دى نو ددې مقتضا دا ده

چي په صدقه فطر كي د هغه ځاى دقيمت اعتبار دي وكړي چيري چي متصدق وخت اداتې صدقه د فطر موجود وي .

و الثانى راجح عندى نظراً إلى العلة و لم اره صريحا فليراجع ـ والله اعلم ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......

په فتاوی امدادیه کي دي:

”و جاز دفع كل شخص فطرته إلى مسكين على المذهب كما جاز دفع صدقة جماعة إلى مسكين واحد بلا خلاف“

او په عالمگيريه جلد اول كتاب الزكوة كي دي چي:

”و يجب دفع صدقة فطر كل شخص إلى مسكين واحد حتى لوفرقه على مسكينين او اكثر لم يجز و يجوز دفع ما يجب على الجماعة إلى مسكين واحد كذا في التّبيين“(ص۱۲٤ ج۱)

پس په دې دوو قولو کي کوم قول مرجّح دی پر کوم يوه عمل وكړل سي د ادله شرعيه څخه ارشاد وفرمايه؟

جواب:......

”قال في الدر و جاز كل شخص فطرته إلى مسكين او مساكين على ما عليه الاكثر و به جزم في الولوجية والخانية والبدائع والمحيط و تبعهم الزيلعي في الظّهار من غير ذكر خلاف و صحّحه في البرهان فكان هو المذهب كتفريق الزكوة والامر في حديث اغنوهم للنّدب فيفيد الا اولويّته كما دفع صدقة جماعة إلى مسكين واحد بلا خلاف يعتدّ به اهـ“(ص ۲۵۱ / ج: ۲)

ددې څخه معلومه سوه چي په امداديه کي چي څه ليکلي دي هغه صحيح دي او په عالمگيريه کي چي د يوه سړي صدقه فطر وه يوه سړي ته وركول واجب او تفريق يې غير جائز ليكلى دى هغه پر قول ضعيف باندي مبني دی هو، په عمل کي اولیٰ هغه دی کوم چي په عالمگیریه کي دي. كواكي د هغه په خلاف هم جائز دی. والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: .....

دریں دیار بر ہماز راعت گندم نیست، اگر بعوض گندم قیمتش دادہ شود، پس قیمت گندم وغیرہ منصوص علیہ کدام جا کردہ صدقۂ فطر دادہ شود از وری مہر بانی رفع اشتباہ فر مایند؟

جواب: ......

"والمعتبر فی الزکوة مکان المال وفی الوصیّة مکان ا لموصی وفی الفطرة مکان المؤدی عند محمّد و ھو الاصح "در" بل صرّح فی النھایة و العنایة بانّه ظاھر الرّوایة و ھوالمذھب کما فی البحر شامی (۱۱۲ / ج: ۲)

وفی الدر ایضا ولو فی مفازة ففی اقرب الامصار الیه فتح(ص۳۵ / ج: ۲)"

په کوم ښار کي چي غنم نه وي که چیري هلته اوربشي (شعیر) پیدا کیږي یا یو بل منصوص نو صدقه فطر یوه کاسه د اوربشو یا د یو بل منصوص د قیمت څخه دي ادا کړي که چیري غنم او اوربشي منصوصه نه وي نو ددې ښار څخه قریب تر ښار چي داسي وي چي په هغه کي غنم او اوربشي وي نو په دې قریب تر ښار کي نیمه کاسه غنم یا یوه کاسه د اوربشو قیمت چي هر څه وي د هغه څخه دي صدقه فطر ادا کړي . والله اعلم .

سوال: ......

زموږ د علاقې خلک اکثره قرضداره دي او بعضي توانګر نه دي ددې لپاره غواړم چي د خپلي علاقې د قربانیو څرمني او د روژو فطرې پر یوه ځای جمع کړم یو تحویل جوړ کړم دهغه د روپو څخه دعلاقې والا ته نفع ور ورسوم، په دې وجه کي د علاقې خلک د سودي قرض څخه وساتل سي

شرعاً دا معامله جائز ده که نه؟

جواب :......

دا صورت نه دی جائز ولي چي د چرم قرباني قیمت او د صدقۀ فطر بطور تملیک ورکول ضروري دي او په صورت مذکوره فی السوال کي تملیک مفقود دی . کما لا یخفی و الله اعلم .

سوال :......

مقدار صدقۀ فطر بحساب بنگاله که از دوازده مشاه توله و از پنج توله چھٹانک و از شانزده چھٹانک یا ہشتاد توله سیر باشد چیست؟

جواب :......

تقدیریش موقف بر تحقیق صاع است:

"لما روی عن النبی ﷺ ادّوا صدقاتکم الخ"

و دراں اختلاف کثیر است لیکن بقول فقہائے محققین وزن صاع ۱۰۴۰ درم است (هکذا فی الدر المختار وغیره) و ده درم از اں باوزن ہفت مثقال (هکذا فی الدر و شرح الوقایة و غیرهما) و مثقال بقول صحیح چہار و نیم ماشه (هکذا فی الغیاث) پس از ۱۰۴۰ درم مبلغ ۳۲۷٦ ماشه و بحساب مسئول از یک صاع ۲۷۳ توله باشد چنانچه در بیاض یعقوبی و مظاہر حق ہمیں حساب موجود است) و صدقۀ فطر نصف صاع از گندم یک سیر و یازده چھٹانک یک توله شش ماشه گردید (بوقتیکه توله بوزن دوازده ماشه گرفته شود) (چنانچه در بیاض یعقوبی و مظاہر حق ہمیں حساب موجود است) لیکن علماء کرام یک سیر دوازده چھٹانک بلکه برائے مزید احتیاط دو سیر ہم فرموده اند۔ والله اعلم۔

سوال :......

په کتاب صدقه فطر کي چي یوه کاسه مذکوره ده چولي ددې په مقابل کي، په دو چند ورکولو سره، په انګریزي تول سره ددې مقدار ثونه

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږي؟

جواب :......

د نیمي کاسې وزن پاو کم دوه سیره دی د اتیاسیره څخه ددې دوچنده خپله معلوم کړئ خو که چیري یوه کاسه چولې هم نصف صاع د غوړو یا یوه کاسه اوربشو وقیمت ته نه ورسیږي نو صدقهٔ فطر نه ادا کیږي .

سوال :......

بعضي خلک کوشش کوي چي بې ځایه کمېټیاني جوړي کړي او د خلکو څخه صدقهٔ فطر وصول کړي او ددې د تقسیم انتظام کمېټیاني وکړي، آیا دا صورت جائز دی که نه؟

جواب :......

نن سبا د کمېټیانو چي کوم حالت دی ددې څخه دا امید نسته چي صدقه فطر په صحیحه طریقه باندي پر مصارفو باندي صرف کړي نیز دا هم اندېښنه ده چي د کمېټۍ والا د مسلمانانو څخه صدقهٔ فطر جبراً وصولوي حالانکه په دې کي د جبر و هیچا ته حق نسته .

په دې وجه دا صورت درست نه دی، هر سړی چي هر ځای وغواړي اور هر چاته چي یې وغواړي خپله صدقه دي ورکړي، دغه بهتره ده .



Maktaba Tul Ishaat.com

﴿باب المصارف﴾

سوال:......

زموږ په ملکو کي بعضي حافظان په بعضي مسجدو کي په به اجرت تراويح کي قرآن وايي او بعضي ته د ختم بعده لله وغيره ويلو سره ورکوي په داسي ملک کي چي حافظ اجرت و شبه اجرت ته ناجائز وايي که چيري دوى ته مصليانو (لمونځ کونکو) صدقهٔ فطر و زکوة ويلو سره يو څه روپۍ پيسې ورکړي، اخيستل يې جائز دي که نه؟

جواب:......

چي حافظ په اجرت باندي قرآن ووايي هغو ته د زکوة او فطره ورکولو سره واجبه ذمه نه ساقطيږي ولي چي د مال زکوة و فطره تصدق وتمليک مجاناً ضروري دى او دلته په اجرت کي ورکول سوى البته که چيري حافظ با اجرت نه واى بلکه اجرت وو شبه اجرت ناجائز بولي . که چيري هغه فقير وي صاحب نصاب نه وي هغه ته دزکوة و فطرې روپۍ ورکول جائز دي خودا تصريح کول په کار دي چي دا تا ته په اجرت کي نه دي درکول سوي نه ستا يو څه حق وو په محض غريب بللو سره درکړل سوي دي، نيز که چيري ددې حفاظو سره قدر نصاب رقم جمع سي ددې بعده هغو ته زکوة و فطره مه ورکوئ کنې واجب نه ادا کيږي:

"الا ان يكون مديوناً بقدر ما يحيط بما له فيصح فافهم"(امداد الاحكام / ج: ۲ / ص: ٤٦)

سوال:......

څه وايي علماء كرام په دې مسئله كي، چي د زيد سره د زكوة ډېر غټ رقم جمع دی هغه يو وار حقدار ته نه وركوي ددې رقم څخه يو پراپرټي يا مځكه اخيستل غواړي او د هغه آمدني څخه مستحقين ،مدارس او دنيوي ديني طلباء چي د هغه مستحق وي هغوی ته وظيفه وركول غواړي نو آيا د زكوة رقم څخه د آمدني سامان د آمدني څخه پر مستحق باندي خرڅولای سي؟

جواب:......

د ادائيكي زكوة لپاره تمليک يعني مستحقين بلا عوض مال جوړول شرط دي كه چيري د آمدني لپاره پراپرټي قائمه سوې ده يا مځكه اخيستل سوې ده نو دا شرط نه دی پوره سوی لهذا زكوة نه ادا كيږي د زكوة رقم څخه د آمدني جائيداد فراهم كول نه دی جائز حق داران بې له عوضه مالک جوړول ضروري دي:

”و شرعاً تمليك جزء مال خرج المنفعة فلو اسكن فقيراً داره سنة ناوياً لا يجزيه عنه الشارع من مسلم فقير و لو متعوها غير هاشمی ولا مولاه من كل وجه در مختار مع الشامی كتاب الزكوة (ج ۲ / ص: ٤)“

سوال:......

د زكوة په پيسو باندي د زكوة حقدار مالک جوړول او د هغه پر رضامندي باندي ددې پيسو څخه ذريعه آمدني يا پراپرټي قائمه كړي بيا د دې آمدني مستحقين يا غير مستحقين طلباء علوم دينيه و دنيويه باندي بطور وظائف يا د مدرسين مدرسه په تنخواه كي نور ضروريات په مسجد كي

خرڅولای سي که نه؟
جواب:......
که چیرې یو سړی په حیله کولو باندې مجبوره دی او هغه د زکوة حقدار بې له څه ویلو مالک و مختار جوړ کړې بیا په دې خیریه کار کې د خرڅولو ترغیب یې ورکړی او هغه دا خبره په خوشالی سره منظوره کړه نو زکوة ادا کیږي. (فتاوی عالمگیری / ج: ٦/ ص: ٣٩٢)
که چیرې هغه یې خرڅول نه کړي قبول نو پر دې باندې یو قسم الزام نسته چې هغه سړی مالک د نیت و طریقه کار په درستګي باندې پره مدار دی چې هغه درست وي نو زکوة هم ادا کیږي د تملیک لپاره ظاهري رد و بدل کافي نه دی. ......باخذ امداد پر وحیلہ کی روداست۔
"و الحيلة له، ان يتصدق بمقدار زكاته على فقير ثم بأمره بعد ذلك بالصرف اليه هذا الوجوه فيكون للمتصدق ثواب الصدقة و لذلك الفقير ثواب بناء المسجد والقنطرة ـ "(فتاوى عالمگيرى الفصل الثالث فى مسائل الزكوة)
سوال:......
که د زکوة رقم غریبانو ته ورکړي او داسي ورته ووایي چې دا قبولي کړه او فلانۍ مدرسې ته یې ورکړه نو زکوة ادا کیږي که نه؟
جواب:......
مدار پر نیت باندې دی چې هغه درست وي ن و زکوة ادا کیږي کنې نه ادا کیږي په صورت مسئوله کې د ادائیګي په سلسله کې شبه د که یو څوک پر حیله کولو باندې مجبوره وي نو د زکوة رقم و حقدار ته بغیر دیو څه ویلو مالک جوړ کړه بیا هغه په مدرسه وغیره کې د ورکولو ترغیب

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړه کـه يـې چيـري هغـه پـه خوشحالي سره ورکړي نو فبها کنې پر دغه باندي هيڅ الزام نستـه پـه در مختار کي دي:

"ان الـحيـلـة ان يتصدق على الفقير ثم يأمره بفعل هذه الاشياء" (در مختار مع الشامى / ج: ٢ / ص: ٨٦، باب المصرف)

سوال:......

پر زيد زکوة واجب وو خو داداءيې نه کړ مړ سو نو دده د مال څخه زکوة ادا کړي که نه؟

جواب:......

پـه دې حـالـت کـي زکـوة مه ادا کوئ، هو که يې وصيت کړی وي نو د ثلث مال څخه دي ادا کړي:

"و اما ديـن الـلّه تـعالى فان اوصى به وجب تنفيذه من ثلث الباقى و الا لا قـال فـى الشـامية تـحـت قـولـه و اما دين اللّه الخ محترز قوله من جهة العباد و ذلك كـالزكوة والكفارات قال الزيلعى فانها تسقط بالموت فلا يلزم الورثة اداؤها الا إذا وصىٰ بها" (در مختار مع الشامى فى كتاب الفرائض / ج: ٦ / ص: ٧٦٠)

سوال:......

يـو سړی صاحب نصاب دی هغه و غريب طالب العلم ته په تعليمي خرڅ کـي د زکـوة رقـم ورکول غواړي، دده والدين د اخراجاتو برداشتولو طاقت نـلـري، پـه داسـي حـالـت کي طالب العلم ته په هره مياشتـه کي د يکمشت تعليم خرچه ورکړل سي نو زکوة ادا کيږي که نه؟

جواب:......پـه صـورت مسـئـولـه کـي غريب طالب العلم که بالغ وي او که نابالغ وي خو دده پلار غني نه وي نو زکوة ادا کيږي:

Maktaba Tul Ishaat.com

”ولايجوز دفعها إلى والد الغنى الصغير كذا في التبيين و لو كان كبيرا جاز“(فتاوى عالمگيرى الباب السابع فى المصرف / ص: ۱۸۹)

سوال:......

یو سړی د خپلو قریبانو لپاره و هندوستان ته د زکوة پیسې استوي نن سبا د پیسو په استولو کي کمېشن غواړي نو د زکوة څخه ورکولای سي؟ مثلاً چي د زکوة لپاره ۱۰۰۰ روپۍ واستوي نو مرسل الیه ته اته سوه ۸۰۰ روپۍ رسیږي نو دا دوه سوه روپۍ د زکوة کیږي که د مرسل اصلي رقم دی؟

جواب:......

مذکوره دوه سوه روپۍ په زکوة کي نه شماریږي لهذا دوه روپۍ به نوري ادا کوي:

”و يشترط ان يكون لاصرف تمليكا لا اباحة كما مر لا يصرف إلى ابناء نحو مسجد و لا إلى كفن ميت وقضاء دينه در مختار مع الشامى باب المصرف ج ۲ / ص: ۸۵)“

سوال:......

خیرات و چا ته ورکولای سي؟

جواب:......

نفل خیرات و صدقات و ټولو حاجتمند و ته ورکولای سي . اقارب مقدم دي او دینداره ډېر حقداره دي . (فتاوی رحیمیه / ج: ۷/ ص: ۱۷۳)

سوال:......

یو سړی د خپل زکوة د رقم څخه په سکول کي د کوچنیانو لپاره کرسی، تخت وغیره جوړول غواړي اوس دا رقم پر څه طریقه استعمال کړي؟ که

Maktaba Tul Ishaat.com

يې چيرې خپله نه کړي استعمال نو داسې يو صورت سته د کوم څخه چې هغه رقم په مذكور سكول كې خرڅ كړي؟

جواب: ......

د ادائې زكوة لپاره تمليک شرط دی يعني د زكوة حقدار ته رقم بلا عوض مالک مختار جوړول ضروري دي او دا حقيقت د مدرسې او سكول په سازو سامان جوړولو كې نـه وي . لهذا زكوة نـه ادا كيږي هو، كـه چيـري مستحق زكوة بلا عوض جوړ ړي بيا يې هغه خپل د طرف څخه په خوشحالي سر د سامان جوړولو لپاره رقم وركړي نو زكوة ادا كيږي او هغه ته ثواب رسيږي خو د اول څخه رقم بيرته اخيستل يا سامان جوړولو په متعلق خبره مه كوئ، ولې چې په ظاهري وركولو او اخيستلو سره زكوة نه ادا كيږي . حقيقتاً تمليک شرط دی:

"قوله ان الحلية ای فی الدفع إلى هذه الاشياء مع صحة الزكوة قوله ثم يأمره الخ فيكون له ثواب الزكوة و للفقير ثواب هذه القرب بحر و فی التغير بثم اشارة إلى انه لو امره اولا لا يجزى لأنه يكون وكيلا عنه فی ذلك الخ"(شامی / ج: ١٠ / ص: ٨٦ ، باب المصرف ـ)

سوال: ......

پر يو سړي باندې زما پنځه روپۍ قرض دي چې زه يې بمد زكوة هغه ته وركړم نو په دې زكوة ادا كيږي كه نه؟

جواب: ......

په صورت مسئوله كې زكوة نه ادا كيږي ددې آسانه طريقه دا ده چې اول د خپل ځان له طرفه څخه پنځه روپۍ هغه ته وركړه هغه يې مالک جوړ كړه

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا کـه یـې هغه بمد قرض ادا کړي نو په دې صورت کي زکوة هم ادا کیږي او قرض هم وصول کیږي:

"واعلم ان اداء الدين عن الدين والعين عن العين وعن الدين يجوز واداء الدين عن العين ، وعن دين سيقبض لا يجوز و حيلة الجواز ان يعطى مديونه ، الفقير زكاته ثم يأخذها عن دينه قال فى الشامية تحت قوله واعلم الثانية و اداء دين عن دين سيقبض كما تقدم عن البحر و هوما لو ابرأ الفقير عن بعض النصاب ناويا به الاداء عن الباقى"(در مختار مع الشامى ، كتاب الزكوة / ج: ۲ / ص: ۲۷۱)

سوال :......

پـر یـو سړي بانـدي زما څـخـه څه روپۍ دي يو مستحقِ زکوة ته به نیتِ زکوة ووایه چي د فلاني څخه دونه ورپۍ وصول کړه او هغه سړي زما د ويلو مطابق ورکړې نو زکوة ادا کیږي که نه؟

جواب :......

په صورت مسئوله کي زكوة ادا کیږي په "فتاوى اسعديه" کي دي:

"(السؤال) فى رجل له على رجل اخر دين فامر فقير ، ابقبضه منه على زكوة او امره ان يدفع إلى الفقير عينه فهل يحتاج إلى نية مقارنة عند الدفع ام يكفى مجرد الامر ويسقط الزكوة إذا دفعها افتونا؟

(الجواب: نعم يسقط عنه بقبض الفقير من المديون قال فى المحيط الرضوى لو كان له دين على رجل فامر فقيرا بقبضه عنه عن زكوة ماله فقبض اجزاء لأن قبض المامور بمنزلة قبضه فكانه قبضه بنفسه ثم صرف اليه بنية الزكوة فيكون مؤديا العين عن الدين انتهى"(فتاوى اسعديه / ج: ۱ / ص: ۱۵ بالمطعبة الخيرية)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: ...... مستحق زکوۀ ته د زکوۀ ورکولو په وخت کي دا ویل چي دا زکوۀ دی آیا دا ضروري دي که نه؟

جواب: ......د زکوۀ پیسي ورکولو په وخت کي دا ویل نه دي ضروري چي دا د زکوۀ دي صرف نیت د زکوۀ کافي دی بلکه مستحق ته دا ووایه چي دا عطیه ده یا قرض درکوم خو په زړه کي یې د زکوۀ نیت وکړه بیا هم زکوۀ اداکیږي . په شامي کي دي:

"لأن المعتبر نية الدافع ولذا جازت وان سماها قرضا او هبة فى الاصح"(شامي / ج: ۲ / ص: ۸۲، باب المصرف)

سوال: ......

زکوۀ مي اداکړی دی که نه، په دې کي شک دی نو څه کول په کار دي، بیرته یې اداکول ضروري دي؟

جواب: ......

هو، ورکول یې ضروري دي:

"ولو شك رجل فى الزكوة فلم يدر أزكى اولم يزك فأيه يعيدها كذا فى المحيط"(فتاوی عالمگیری کتاب الزکوة، مسائل شتیٰ / ج: ۱ / ص: ۱۸۰)

سوال: ......

د زکوۀ رقم اداکولو لپاره یې علیحده پټوه ایښي وه خو د اداکولو څخه مخکي ضائع سوه نو زکوه اداسو که به بل زکوۀ ورکوي؟

جواب: ......

په صورت مسئوله کي زکوۀ نه دی اداسوی او نه ساقط سو، بیرته به یې ورکوي:

Maktaba Tul Ishaat.com

"رجل وجبت علیه زکوة المائتین فأفرد خمسة من ماله ثم ضاعت منه، تلك الخمسة لا تسقط عنه الزکاة"(فتاوی عالمگیریة کتاب الزکوة مسائل شتی / ج: ۱، / ص: ۱۸۲)

سوال:......

یو سړی چې د زکوة حقدار دی ده ته زکوة ورکولو والا دیو محلت څخه دا وویل چې دا قرض دی زکوة یې ورکړی او نیت یې هم د زکوة دی دا نیت یې نه دی چې په قرض مې ورکړي دي بیرته به یې ځیني واخلم نو زکوة ادا کیږي که نه؟

جواب:......

په صورت مسئوله کې چې نیت یې د زکوة دی دې نیت یې نه دی چې بیرته رقم ځیني واخلم نو زکوة ادا کیږي په "فتاوی" کې دي:

"ومن اعطی مسکینا دارهم وسماها هبة او قرضا ونوی الزکوة فانها تجزیة وهو الاصح"

ترجمه: او چا چې مسکین ته درهم ورکړو بطور قرض او د هبې او نیت یې د زکوة وکړی نو زکوة ادا کیږي دغه اصح دی (ص۱۷۱/ ج: ۱ کتاب الزکوة)

سوال:......

زه دلته په مسجد کې إمام یم د مسجد په مشاهده د کور گزران چلول سخت دي کثیر العیال او قرض دار هم یم ایو سړي ماته د زکوة غټ رقم راکولو غواړي نو زه یې اخیستلای سم که نه؟

جواب:......

مسئله دا ده چې یو مستحق زکوة ته د زکوة دومره روپۍ ورکولی سي

Maktaba Tul Ishaat.com

چې در نصاب کمې وي دومره ورکول چې غریب صاحب نصاب او مالدار سي مکروه دي، هو که چیري هغه سړی قرضدار وي یا کثیر العیال وي نو هغه ته دونه پیسې ورکول چې د قرض ادا کولو بعد دده سره بقدر صنب نسي پاته یا یې پر اهلعیال تقسیم کړي نو هر یوه ته د نصاب تر مقدار کمې ورسیږي نو داسي سړي ته تر نصاب زیاتي ورکول بلا کراهت جائز دي:

"وکره دفع نصاب اواکثر إلی الفقیر غیر مدیون) الا ان یکون ذا عیال لو فرقه، علیهم لا یصیب کلا نصاب" مجمع الأنهر شرح ملتقی الابحر / ج: ۲ / ص: ۲۲۵، کتاب الزکوة، طحطاوی علی مراقی الفلاح / ص: ٤١٦، کتاب الزکوة)

لهذا ته دومره رقم اخیستلای سې چې د قرض د ادائیګي بعده ستا سره بقدر نصاب نسي پاته .

سوال:......

زموږ په کلي کي د مسلمانانو پنځلس کوره دي پر کهیتی باند د تولو ګزران دی او د کهیتی د خرابېدو د وجهي څخه د تولو مالي او اقتصادي حالت بیخي ډېر کمزوره سوی دی په کلي کي یو مسجد یو مکتب دی د مکتب د معلم تنخواه د "مجلس خدام الدین" د طرف څخه راځي اویو څه رقم د کلي خلک چنده وکړي د تنخواه سره یې هغه ته ورکوي خو اوس هغه ورکول هم مشکل دي په دې حالت کي یو صاحب خیر د زکوة رقم راکړې آیا هغه پیسې د معلم په تنخواه کي ورکولای سو؟

جواب:......

د زکوة د رقم څخه زکوة ورکولو والا په اجزت سره مستحق زکوة مدرس ته میاشت په میاشت بطور امداد لږ لږ رقم ورکوه نو دا جائز دي او په دې

صورت کي زکوة هم ادا کیږي او د مدرس امداد هم کیږي بطور تنخواه ورکول نه دي جائز . او که یې چیري په تنخواه کي ورکوې نو د زکوة رقم یو غریب مستحق زکوة ته دیو قسم عهد و پیمان بغیر بطور تملیک ورکړه بیا د هغه بعده هغه ته مشوره ورکړه چي د خپل کلي مدرسه بیخي غریبه ده که چي ته دا رقم په مدرسه کي لله ورکړې نو د استاذ د تنخواه انتظام کیږي او ستا لپاره به اجر عظیم وي هغه غریب که دا مشوره قبوله کړي او رقم په مدرسه کي ورکړي نو ددې بعده هغه رقم په تنخواه کي ورکول جائز دي .

سوال :......

یو نابالغه کوچنی دی د چا چي پلار غریب او مستحق زکوة دی هغه ته چي د زکوة رقم ورکول سي نو زکوة ادا کیږي کنه، آیا هغه نابالغه کوچنی مالک جوړېدلای سي؟

جواب :......

که چیري نابالغ عقلمند او پوهـ وي په قبضه پوهیږي نو هغه ته زکوة ورکول جائز دي او چي کوم کوچنی ډېر کوچنی وي په قبضه نه پوهیږي او د لین دین قابل نه وي نو داسي کوچني ته په زکوة ورکولو سره زکوة نه ادا کیږي ، هو ، که چیري د کوچني ولي دده د طرف څخه قبضه وکړي نو ادا کیږي . په در مختار کي دي:

"دفع الزکوة إلی صبیان اقاربه برسم عید .... جاز (قوله إلی صبیان(قاربه) ای العقلاء والا فلا یصح الا بالدفع إلی ولی الصغیر"(در مختار و شامی / ص: ۹۱۶ / ج: ۲ ، باب المصرف قبیل باب صدقة الفطر)

Maktaba Tul Ishaat.com

نیز په شامي کي دي:

"(قوله تمليكاً) وفي التمليك اشارة إلى انه لا يصرف إلى مجنون وصبي غير مراهق الا إذا قبض لهما من يجوز له قبضه كالاب ولو صى وغيرهما والمراهق من يعقل الاخذ كما في المحيط قهستاني وتقدم تمام الكلام على ذلك اول الزكـوة" (شامي / ص: ۸۵ / ج: ۲، باب المصرف)

په عمدة الفقه کي دي: او که چیري د زکوة پر مال باندي کوچني هلک قبضه وکړه او هغه قریب البلوغ دی نو جائز دی او دغه رنګه که یې چیري داسي هلک ته ورکړي چي قبضه کول پېژني یعني غورځوي یې نه یا یې څوک په دهوکه کي نه ځیني اخلي نو بیا هم جائز دي او که یې کم عقل فقیر ته ورکړي نو بیا هم جائز دي. (عمدة الفقه / ج: ۲/ ص: ۱۳۷)

سوال:......

یو سړی صاحب نصاب دی او مستحق زکوة نه دی بل سړی یې مستحق زکوة وګڼی او هغه ته یې د زکوة رقم ورکړ هغه سړي دا هدیه یا تحفه وبلل د زکوة رقم یې ځیني واخیست وروسته ته د ده داخیال سو چي دا د زکوة رقم دی نو اوس دا سړی څه وکړي؟ آیا د ده لپاره ددې استعمال جائز دی یا چا چي ده ته رقم ورکړی دی هغه ته یې بیرته ورکړي یا هغه رقم و یو مستحق ته ورکړي؟

جواب:......

چا چي رقم ورکړی دی هغه څخه دي تحقیق وکړي، که چیري هغه ووایي چي دا د زکوة رقم دی نو صفا ورته ووایه چي زه مستحق زکوة نه یم او رقم هغه ته واپس ورکړه که د ورکولو والا څخه تحقیق کول سخت او

Maktaba Tul Ishaat.com

مشکل وي او یقین یا ظن غالب وي چي دا د زکوة رقم دی نو دد لپاره د دې استعمال حلال و طیب نه دی که کېدای سي هغه ته یې بیرته ورکړه چي تا ته یې درکړي دي یا یې صدقه کړه . په شامي کي دي:

"ولا یترد الولد والغني وهل یطیب له فیه خلاف وإذا لم یطب قیل یتصدق و قیل یرد علی المعطی اه"(شامی / ص: ۹۳ / ج: ۲ ، تحت قوله ولو دفع بلا تحر باب المصرف)

سوال :......

یو سړی مقروض دی د قرض د ادا کولو هیڅ سبیل نسته د قرض خواهانو د مطالبو څخه ډېر پرېشانه دی . د ډېر کوشش کولو باوجود یې خپل قرض نکړی ادا ، داسي مقروض ته زکوة ورکول ښه دي که غریب ته د چا چي یواځي د خپل نس پاللو فکر دی او دا مقروض په دوو فکرو کي بد نی د خپل اهل و عیال نفقه او د قرض خواهانو مطالبه . امید دی چي وضاحت وفرمایئ .

جواب :......په صورت مسئلوه کي مقروض د قرض څخه خلاصول ښه دي چي غریب ډېر محتاج وي نو د هغه هم بقدر ضرورت مدد وکړه . په عالمکیري کي دي :

"ومنها الغارم وهو من لزمه او کان له مال علی الناس لا یمکنه اخذه والدفع إلی من علیه الدین اولی من الدفع إلی الفقیر"(عالمگیری / ج: ۱ / ص: ۱۸۸ ، باب فی المصارف)

سوال :......

یو سړی د کرایې په سرای کي اوسیږي د سرای مالک د سرای خالي کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

تقاضا کوي دا سړی ددې پرېشاني د وجهې څخه یو کوچنی کور په پور اخیستی دی کور دده د ضرورت بقدر کم دی دده سره چې کومه سونه وه هغه یې خرڅه کړه او د سرای په قیمت کي ور کړه او کمي نغدي چې وې هغه یې تولي ور کړې بیا هم د سرای قرضه پاته ده اوس دده سره یو بل داسي شی هم نسته چې هغه خر څ کړي او قرضه په ادا کړي نو داسي چاته د زکوة رقم ورکول جائز دي ؟ په دې وجه چې دی خپله قرض ژر ادا کړي؟

جواب :......

په صورت مسئوله کي چې سرای یې اخیستی دی هغه بقدر ضرورت دی او د قرض ادا کولو لپاره یې زر خر څ کړل چې څه نغدي وې هغه یې تولي ور کړې او ددې سړی سره تر ضرورت زیات داسي یو شی هم نسته چې هغه خر څ کړي او خپله قرضه په دا کړي نو په داسي صورت کي دې سړي ته زکوة ورکول جائز دی:

"ومنها الغارم وهو من لزمه دین ولا یملك نصاباً فاضلاً عن دینه"(فتاوی عالمگیري ، باب المصرف / ج: ۱ / ص: ۱۸۸)

سوال :......

یو ضرورتمند مستحق زکوة د خپل دوست څخه قرض واخیستی ، د قرضې ورکولو والا د زکوة په نیت قرض ور کړ دیو عمر بعده مقروض هغه قرض واپس کړ قرض ورکولو والا ورته وویل چې ما هدیه در کړې وه ، مقروض د اخیستلو څخه انکار وکړی او رقم یې پرېښوی ولاړی اوس په دې رقم څه وکړي؟

جواب :......

Maktaba Tul Ishaat.com

که چیري هغه سړی رقم نه واخلي او بیرته یې ورکړي نو د هغه په اجازت دي و بل مستحق زکوة ته ورکړي .(فتاوی رحیمیه/ ج: ۸/ ص: ۱۸۹)

سوال:......

بکر زید ته د قرض اخیستلو په اراده راغلی زید په دې وخت کې د قرض په نامه رقم ورکړی خو بکر در حقیقت مستحق زکوة وو، په دې وجه زید د رقم ورکولو په وخت کې د زکوة نیت وکړی یو څه عمر بعد بکر هغه رقم بیرته ورکولو لپاره راغلی زید د رقم اخیستلو څخه انکار وکړی خو بکر رقم پرېښود، ولاړی، بکر چې کوم رقم واپس کړی د هغه څه حکم دی؟

آیا دا واجب التصدق دی یا بکر ددې مالک دی؟ که چیري زید هغه رقم صدقه کړي نو د بکر څخه اجازت اخیستل ضروري دي که نه؟

جواب:......

که چیري مناسب وي نو مقروض (بکر) ته صفا ووایه چې ما رقم تا ته درکولو په وخت کې د زکوة نیت کړی وو ته ما ته رقم بیرته مه راکوه او د دې ماسوا هم پر واپس کولو باندي ټینګ وي نو ورته ووایه چې څنګه ته وغواړې هغسې یې ورکړه او که چیري ددې ماسوا هم هغه سړی (بکر) رقم واپس کړي نو د معطی (زید) د نیت مطابق په دغه وخت کې زکوة ادا سو دده اجازت دې واخلي هغه رقم دې صدقه کړي.

سوال:......

فقیر ته د زکوة رقم بقدر نصاب یا ددې څخه زیات ورکول څنګه دي؟

جواب:......

Maktaba Tul Ishaat.com

د زکوٰة دومره رقم و يو فقير ته ورکول مکروه دي چي د قرضو د ادا کولو او د اهل و عيال څخه هر يوه نفر ته د نصاب څخه کم ورکول بعد د فقير سره کامل نصاب پاته سي په در مختار کي دي:

"وكره اعطاء فقير نصاباً او اكثر (الا إذا كان) المدفوع اليه (مديوناً او)كان (صاحب عيال) بيحث (لو فرقه عليهم لا يخص) او لا يفضل بعد دينه فلا يكره فتح "(در مختار مع رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٩٢ ، باب المصرف)

سوال:......

و ميرې ته زکوة ورکولای سي که نه؟

جواب:......

ميره (د پلار منکوحه) نه په اصول کي داخله ده نه په فروع کي او نه ددې سره د زوجيت قرابت سته لهذا ميرې ته په زکوة ورکولو کي هيڅ تاوان نسته . دې ته زکوة ورکولای سي بشرطيکه چي هغه مستحق زکوة وي په شامي کي دي:

"ويجوز دفعها لزوجة ابيه وابنه وزوج ابنته تاتارخانية"(شامي / ص: ٨٦ / ج: ٢ ، باب المصرف تحت قوله وإلى من بينها ولاد)

په عيني شرح کنز کي دي:

" ولا يدفع ايضا إلى اصله وهم الاباء والامهات وان علاوهم الا جداد والجدات من قبل الاب والام وكذا لا يدفع إلى فرعه وهم الاولادو وان سفل وهم اولادالاولاد وكذا الا يدفع إلى زوجته بالاتفاق - كذا لا تدفع الزوجة إلى زوجها عند ابى حنيفة رحمه الله وبه قال احمد رحمه الله فى الاصح الخ" (عيني شرح کنز / ص: ٧٩ / ج: ١، باب المصرف)

Maktaba Tul Ishaat.com



کتاب الصوم

سوال:......

د رمضان بعد د شوال په میاشته کي شپږ روژې نیول کیږي هغه پرله پسې نیول کیږي که جلا جلا هم نیول کیږي؟

جواب:......

د شوال د میاشتي د شپږو روژو ډېر فضیلت بیان سوی دی . نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چي که چا د روژې د میاشتي روژې نیولو بعد د شوال شپږ روژې ونیولې نو د پوره کال د روژو نیولو سره برابري دي خو دا ضروري نه ده چي بعد العید متصلا دوهمه ورځ روژې نیول شروع کړي او دا هم ضروري نه ده چي مسلسل (پرله پسې) یې ونیسي علیحده علیحده یې، هم نیولای سي . په در مختار کي کي دي:

"و ندب تفریق صوم الست من شوال و لا یکره التتابع علی المختار"(در مختار مع شامی / ج: ۲ / ص: ۱۷۱ ، مطلب فی صوم الست من شوال) و صوم ست من شوال ثم قیل الأفضل و اصلها و قیل تفریقها۔ (نور الایضاح / ص: ۱٤٥ ، کتاب الصوم۔ فصل اقسام الصوم)

سوال:......

پـه رمـضـان الـمبـارک کـي بـې لـه يو څه وجهي شرعي روژه نه نيويل، او علانيه خورک و چيښک کوي نو څه حکم يې دئ؟

جواب :......

داسـي کـس فـاسـق او د اسـلامـي شـعـار توهين کولو والا که خليفه وي نو داسي بې حيا او بې باک ته دي د قـتـل سزا ورکړي په در مـخـتـار کـي دي:

"ولو اكل عمداً شهرة بلا عذر يقتل"

يـعني چي يو سړی بلا عذره شرعي روژه نه ونيسي او بالقصد علانيه خورک و چيښک وکړي نو د خليفه

اسلام په حکم سره هغه قـتـل کړئ . (شامن / ص: ۱۵۱/ ج: ۲ ايضاً)

سوال: ......يو سـړي تـراويـح وکـړې خـو روژه يـې بـلاعذره پرېښوده نو د ده تراويح قبولي دي که نه؟

جواب : ...... د ده تـراويـح لـمـونـځ قـبليږي او هغـه د ثواب حق داره دی خو د روژې نـه نـيـولـو پـه وجـه هـغـه سـخت گنهګاره دی او فاسق دی . (فتاوی رحيميه / ج: ۸ / ص: ۲۰۴)

سوال: ......پـه مـاه رمـضـان مبارک کي د ورځي هوټل خلاصول څنګه دی، پـه هـوټـل کـي بـلا تـفـريـق مذهب و ملت د هر قست خلک راځي که چيري خلاصـول يې ناجائز وي نو آيا يواځي د غير مسلمو لپره يې خلاصولای سي؟

جواب : ...... د مـاه رمـضـان الـمبارک د احترام په خاطر د ورځي په وخت کي هـوټـل بندول ضروري دی د خوړلو چښلو والا که ده هر مذهب وي . فقط و الله اعلم بالصواب (فتاوی رحيميه / ج: ۷ / ص: ۲۰۵)

سوال: ......

Maktaba Tul Ishaat.com

يو سړي د روژې په حالت كې احتلام سو، د روژې په حالت كې د غسل كولو په وخت كې او به غرغره نه كړې او نه يې د پزې و نرمي ته او به ورسولې نو د ده غسل وسو كه نه؟ او دغه رنګه غسل يې و كړ لمونځ يې وكړی نو لمونځ يې صحيح سو كه نه؟

جواب:......

د روژه دار لپاره غرغره كول او د پزې و نرمۍ پورې د اوبو رسولو حكم نسته چې د روژې د ماتېدلو انديښنه سته په مراقي الفلاح كې دي:

"(و يسن المبالغة في المضمضة) و هي ايصال إلى ما فوق المارن (لغير الصائم) والصائم لا يبالغ فيهما خشية افساد الصوم لقوله عليه الصلوة والسلام بالغ في المضمضة و الاستنشاق الا ان تكون صائماً(مراقى الفلاح) - (قوله والمبالغة) فيهما هي سنة في الطهارتين على المعتمد و قيل سنة في الوضوء واجبة في الغسل الا ان يكون صائماً (طحطاوى على مراقي الفلاح / ص: ۳۹، فصل في سنن الوضوء)"

چې كوم لمونځ يې كړی دی هغه صحيح دی د اعاده كولو حاجت نسته.

سوال:......موږ مسلمان ځوانان په كالج كې تعليم حاصلوو، د رمضان شريف روژې پر موږ فرض دي، په روژو نيولو باندې موږ قادره هم يو خو د روژې نيولو په وجه زموږ په تعليم كې يو څه نقصان راځي د سهار د ۱۱ بجو څخه يې و نيسې د مبنام تر شپږو بجو پورې د تعليم وخت دی او د يوې مياشتې بعد زموږ سندې امتحان دی، ددې لپاره بنه پوره تياري كول دي او د ماه مبارك (رمضان) څخه ما سوا د تعليم بل هيڅ وخت له

Maktaba Tul Ishaat.com

موږ سره نسته موږ که چیري په دې امتحان کي ناکامه سو نو موږ ته ډېر غټ تاوان دی نو په داسي صورت حال کي موږ د قضا راوړلو په نیت د ماه مبارک روژې ترک کړو ایا په شریعت محمدیه کي ددې اجازت سته؟

جواب:...... په صورت مسئوله کي د رمضان المبارک روژې پرېښودلو اجازت نسته که څه هم د قضا راوړلو نیت وي خو د شرعي عذر ماسوا د رمضان شریف د یوې روژې پرېښودلو څخه چي کوم نقصان پېښېږي د هغه تلافي د ټول عمر روژې نیولو سره نه کیږي . په حدیث شریف کي دي:

"عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ من افطر یوما من رمضان من غیر رخصة و مرض لم یقض عنه صوم الدهر کله و ان صامه"

ترجمه:چا چي د شرعي رخصت او مرض بغیر عمداً د رمضان شریف یوه روژه ترک کړه د هغې په عوض کي چي ټول عمر روژې نیسي بیا هم د هغې په بدل کي نیسي کېدای . (مشکوٰة/ ص: ۱۷۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

باب رويت الهلال

سوال: دروژې دمياشتې شهادت يو سړى او درې ښځې وركړې و څه حكم دى؟

جواب: دكرځ او غبار په وجه عوام ميشته ونه ليدل دمابنام دلمانځه وروسته زيد او درې ښځې ګواهي وركوي چې موږ يقيناً مياشته ليدلې ده زيد وائي چې ما خلك رابلل مګر څوړ راونه رسېدل او مياشته په اوريځه كې پټه شوه نو كه چيرې هغه دوه خلك يا سړي مياشته ليدونكي لمونځ ګذاره او پرهيز ګاره وي فسق او فجور دهغو ظاهر نه وي نو دهغوى په ګواهي افطار صحيح دى .

وشرط للفطر مع العجلة والعدالة نصاب الشهادة ولفظ اشهد وعدم الحد فى القذف الخ . . .ولو كانوا ببلدة لاحاكم فهو صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار العدلى مع العلة للضرورة (درمختار) قوله نصاب للشهادة اى على الاموال وهو رجال او رجل وامرېيتان (رد المحتار) كتاب الصوم ص٩٩ ج٢ .

سوال:

كه چيرى مياشتې ليدلو والا غير مسلم او فاسق نه وي دوى ته داويل چې ستا بينائى تيز هوه يا ستا څلور ستركى دي يا دا چې مياشته پنډه وه كه نرۍ وه نور داسې بې بنياده پوښتني كول څه حكم لري ؟

جواب: دمياشتې ليدلو والا خبر او دشهادت داعتبار لپاره دهغو عدل او

Maktaba Tul Ishaat.com

ثقه کافی دی یا دا چي فاسق بین الفسق نه وي دباقی امورو پوښتل ضرورت نسته او مسلمان ذلیل کول او زړه ماتول په داسي خبرو سره صحیح نه دخبر عدل او مستور الخ لافاسق اتفاقاً . (درمختار) لان المراد باعدل من ثبتت عدالته ولا ثبوت فی المستور اما مع تبیین الفسق فلا قائل به عندنا (درالمختار) کتاب الصوم ص ۹۹ ج ۲

سوال:

دلاعبرة لاختلاف المطالع مطلب څه دی ؟

جواب: مطلب دادی چي طریق موجب یعنی په شهادت معتبره سره په بل ښار کی رؤیت ثابت سی .نو هلته په خلکو باندي هم داغه حکم لازمیږي فتاویٰ داراکعکوم ص۳۰۹ ج ٦ .

سوال:

درؤیت هلال متعلق برقی تار خبر اعتبار لري او که نه؟

جواب: دبرقی تار خبر درویت هلال متعلق شرعاً اعتبار نه لري په داسي خبرو سره دروژې افطار کول صحیح نه دی .

فیلزم اهل الشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤیة الٔک بطریق موجب (الدر المختار کتاب الصوم مطلب فی اختلاف المطالع ص۱۰۵ ج۲

سوال:

یو مولوي صاحب ته مخامخ په څلورو شهادتونو سره ثابته سوه چي جمعرات دیرشم رمضان دی بناء علیه مولوی صاحب موصوف حکم ورکړی چي دجمعې په ورځ اختر وکړئ او کومو خلکو چي دجمعرات

څخه دروژې ابتداء کړي وه يوه روژه دقضا روکړځوئ زيد ددې مخالفت وکړی څه حکم ئی دی؟

جواب: ولو کانو ببلدة لاحاکم فيها صاموا بقول ثقة وافطروا باخبار عدلين مع العلة للضرورة الىٰ ان قال وقيل بلا علة جمع عظيم يقع العلم الشرعي وهو غلبه الظن بخبرهم وهو مفوض الىٰ رای الامام انه يکتفی بشاهدين واختار ه فی البحر وصحح فی الاقضيه والاکتفاء بواحد ان جاء من خارج البلد او کان علىٰ مکان مرتفع واختاره ظهير الدين الخ ايضاً کتاب الصوم ص۹۹،۱۰۱ ج ۲ وقال فی الشامی واعتمد ه فی الفتاوىٰ الصغرىٰ ايضاً وهو قول الطحاوی .

سوال:

پر جنتری يا تار باندي اعتبار کول صحيح دی او که نه؟

جواب: دشعبان پر ۲۹ باندي دوريځ په وجه باندي چا نياشته نه وليده او په جنتري وغيره کی مياشت د۲۹ ليکلې ده نو په دې صورت کي دشعبان ديرش ورځي پوره کول او دهغه وروسته اوله روژ ح نيول پکار ده . په جنتری او تار باندي اعتبار کول نه دي .

قال عليه السلام صوموا الزوءيته او افتروا الرؤيته (الحديث) مشکوٰة باب رؤية الهلال فصل اول عن ابی هريرة ص۸۷۴ ددې وروسته دا جملې هم دي فان غم عليکم فاکملوا عدة شعبان ثلثين متفق عليه .

سوال:

دخط او تار پر خبر باندي روژه ونيول سي او که نه؟

جواب: که پر ۲۹ باندي دروژې يا اختر مياشته نه وليدل سي او دوه

معتبره شهادته هم حسب تصريح فقهاء نه کړل پيدا نو محض دتار يا خط خبر باندي دروژې نيولو يا افطار کولو شعري حکم نسته البته که دهغه تار يا خط خبر باندي تائيد او تصديق وسی په نورو قرائنو دصدق سره نو بيا پر هغه باندي عمل کول صحيح دی .

فيلزم اهل الشرق برؤية اهل الغرب اذا ثبت عندهم بطريق موجب (درمختار) کان يحتمل اثنان الشهادة او يشهدا علىٰ حکم القاضی او يستفيض اکخبر بخلاف ما اذا اخبر ان اهل بلدة کذا رواه لانه حکاية (ردالمحتار) ص ١٠٥ ج٢ .باب مايفسد الصوم ومالا يفسد .

سوال:

که پنځه مسلمانان ګواهي ورکړي نو اختر کيږي او که نه؟

جواب: په رمضان باندي پنځه مسلمانان روژه دارو مياشته وليده او راغلو امام ته ئې وويل نو په دې صورت کي مياشته ليدل ثابت سو اختر کول پکار دی .

وشرط للفطر مع العلة والعادلة نصاب الشهادة الخ ولو کانوا ببلدة لا حاکم فيها صاموا بقوله ثقة واخبروا باخباره عدلين مع العلة للضرورة (الدر المختار علىٰ هامش رد المحتار ص٩٢ ج٢

سوال:

ايا دتار او خطوط ليږونکي دپاره عدالت شر دی او که نه ؟څرنګه چي دمتواتر دپاره عامل کيدل شرط نه دی دغه رنګه پر تواتر کی هم دعدالت لحاظ نسته لکن لما کانت بمنزله الخبر المتواتر وقد ثبت ان اهل تلک البلدة صاموا يوم کذا لزم العمل بها . (رد المحتار ص١٠٢ ج٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
که پر ۳۰ روژه میاشت نه ولیدل سوه نو څ به کوي؟
جواب: فیمن ثم ثلاثین یوماً من رمضان ولم یر هلال شوال فصام بعد یوماً حتیٰ رای الهلال فی الصبح قبل الزوال وایضاً الي التلغراف من الکویته فی یوم الجمعة وقت غروب الشمس فافطر بعضهم .
جواب: قال فی الدر المختار وبعد صوم ثلثین بقول عدلین حل الفطر الخ ولو صاموا بقول عدل حیث یجوز وغم هلال الفطر لا یحل علی المذهب خلافاً لمحمد لکن نقل ابن الکمال عن الذخیرة انه ان غم حل والالا (الدر مختار علیٰ هانش رد المحتار ص۱۰۳ ج۲ وفیه ایضاً ورؤیته بالنهار للیلة الاتیة مطلقاً علی المذهب ذکره الحدادي ص۱۰۳ ج۲ والترغراف لیس بحجة شرعیة (ردالمحتار)
سوال:
په ۲۹ رمضان باندي دزوال وروسته دشوال میاشت ښکاره سی نو څه کول پکار دي ؟
جواب: روژه دي ونیسي
ورؤیته بالنهار للیلة الاتیة مطلقاً علی المذهب (ردالمحتار) ای سواء رای قبل الزوال او بعده (رد المحتار کتاب الصوم مطلب فی رویة الهلال ص۱۰۳ ج۲ .
فیصله کوونکی خبره هغه دا ده چي درویت الهلال خبر معتبر دی چي قاضی ئې خبر واخلي او قاضي ئې شهادت قبول کړي دقاضي قبول دشهادت دشهود ضروري دی او مولانا شهاب الدین پوپلزئی خبري ته

Maktaba Tul Ishaat.com

اعتبار نسته .خو حکومت ورسره اتفاق کړی نوي او یا په څنګله او سرخاب کي چي نه هلته قاضي سته نه يې قاضي رجوع کړې ده وائی موږ دافغانستان سره اتفاق کړی دی اوسیږي چیري او خبره دافغانستان دکافر حکومت دامریکې غلام او دکاناډا ډول چي حکومت دامني او دلته په شیخ مانده کي یو تخریب کوونکې ډله مسلمانان هم داختر دمخ لمونځ کوي او اختر کوي اختر یې نه دی صحیح .او بعضي په نامه صوفی غرپ خلک حتیٰ زموږ په علاقه کي یو ملا چي په څنګله کي.وو خلکو رواشري او مولانا عبدالعلي دیوبندي دافغانستان څخه بند کړ هغه دلته په علاقه کي ځانته پیر وائی او یو بل نیم کوشته پیر هم سته دا هم داکار کوي او افغانستان خبر پر خپل ځایه صحیح ده ولي افغان حکومت باقاعده دمسعودي ګواهی قبول کړی بیا حکومت اعلان کوي نو پردوی واجب العمل ګرځي په وجه داعلان دحکومت سره .

باب الاعتکاف

سوال: دکرمی په وجه باندي دمعتکف لپاره دمسجد څخه دباندي وتل غسل کول څنګه دي ؟

جواب: دکرمی په وجه باندي دمعتکف لپاره دمسجد څخه وتل غسل کول جائز نه دي .

قوله بان خرج ساعة بلا عذر منه لوجود المنافی اطلقه فشمل القلیل والکثیر وهذا عند ابی حنیفة رحمه الله وقالا لایفسد الا باکثر وقالا لایفسد من نصف الیوم البحر الرائق ج۲ ص ۳۰۲ .الهندیة ج۱ ص: ۲۱۲، الفتاویٰ الخانیه علیٰ هامش هندیة ج۱ ص ۲۲۲ .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
معتكف په مسجد كښي يواځې دى او دشپې ناجوړه سو نو هغه وخت داسې څوک نسته چې ده ته دوا راوړي نو آيا دى كولاى سي چې خپل كورته ولاړ سي ددوا راغوښتلو انتظام كواى سي يا پخپله د هسپتال څخه دوا راوړلاى سي كه نه ؟
جواب: وفى در المختار وحرم عليه الخروج الا لحاجة الانسان طبعية كبول وغائط وغسل ولو احتلم ولا يمكنه الاغتسال فى المسجد .وفى رد المحتار قوله وهو ما مر اى من الحاجة الطبية والشعية ثم فيه ولا ن الخروج لمرض وحيض ونسيان اذا كان مفسداً الخ ص،٢١١/٢١٦ .امداد الفتاوىٰ ج٢ ص ١٨٣ .
ددغو رواياتو څخه ثابته سوه چې په داسې صورت كې دمسجد څخه وتل جائز نه دي .
سوال:
دگرمۍ په وجه باندې غسل خانې ته ولاړ سي هرروزه غسل وكړي دا څنكه دي ؟
جواب: دگرمۍ په وجه غسلخانې ته تلل هر روزه غسل كول جائز نه دي كه چيري خبر نه وي نو چې څو ورځې ئې دا رقم كړى دهغو ورځو اعتكاف قضاء دي راوړي .تتمه خامسه ص ١٩٢ امداد الفتاوىٰ ص١٨٤ .
سوال: بيله ميره داجازې څخه ښځه په اعتكاف كښې كښېنستلاى سي او كه نه ؟
جواب: بيله ميره داجازې څخه ښځه په اعتكاف كښې نه سي

Maktaba Tul Ishaat.com

كنبښنستلاى او كه چيري اجازت وركړي نو بيا بيرته دمنع كولو اختيار نه لري كذا فى الزاهدى فتاوىٰ الهنديه ص ۲۱۱ بحر الرائق ص ۳۰۱ تبيين الحقائق ج۲ ص ۲۲۵،۲۲٦ .

سوال:

دمسجد په صحن (حويلى) كي معتكف لپاره كنبښنستل ذكر كول لمونځ كول څنګه دي ؟

جواب: دمسجد صحن دمسجد په حكم كي دى نو ددې وجهى اعتكاف نه فاسديږي فتاوىٰ دارالعوم ديوبند ج٦ ص ۳۱۳، ۳۱۴ (ما يعتبر من المسجد ومالايعتبر) اتفق الفقهىء على ان المراد بالمسجد الذي يصح فيه الاعتكاف ماكان بناءً معداً للصلاة فيه الموسوعة ج۵ ص ۲۲۳، ۲۲۴ .

سوال:

دآذان لپاره دمسجد څخه وتل دمعتكف لپاره څنګه دى؟

جواب: آذان په شريعة كي داخل دى نو ددې وجهي دمعتكف لپاره دمسجد څخه وتل جائز دى چي دآذان څخه فارغ سي بيرته دي ژر مسجد ته راسي .

والخروج الا لحاجة الانسان ـ شرعية كعيد وآذان لوموذناً وباب المنارة خارج المسجد وفى الشاميه (قوله لو مؤذنا)هذا قول ضعيف والصحيح انه لافرق بين المؤذن وغيره كما فى البحر والامداد الدر مع الرد ص۴۴۲۲، ۴۴۵ ج۲ فتاوىٰ هنديه ج۱ ص ۲۱۲ ، ۲۱۳ بدائع الصنائع ج۲ ص۱۱۵ تاتار خانية ج۲ ص ۳۱۲.

سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

دمعتكف لپاره په مسجد كي داعتكاف په حالت كي په اجرت او مزدوري باندي كار كول څنګه دي ؟

جواب: دمعتكف لپاره په مسجد كي داعتكاف په حالت كي په اجرت او مزدوري باندي كار كول ده دى جائز كه څه هم مذهبي تعليم وركول وي او يا كه ددين ودنيا يو كار وي .

قوله ولهذا كره الخياطة ونحوها كبيع والشراء وتعليم وكتابة باجر وكل شئ يكره فيه فى سطحهه كذا فى البحر (قوله مطلقاً اى سواء حضر المبيع

(حاشيه طحطاوى المراقى ص ۳۸۴ مجمع الانهر فى شرح الملتقى الابحر لشيخ زاده ص ۳۷۹ جوهر ص ۱۷۷ ج ۱ .

سوال:

دمعتكف لپاره اخبار كتل څنګه دي ؟

جواب: دمعتكف لپاره داعتكاف په حالت كي بې كاره ددرواغو قصې كتل داسلام خلاف تحيرات او ددهريت مضامينو والا كتابونه كتل او هغه اخبارونه كتل چي په هغه كي دذى روح تصويرونه وي فحش بحشونه وي دارقم شيان مسجد ته راوړل جائز نه دي پاته سو هغه اخبارونه چي په هغه كي ددنيا صحيح خبرونه وي او په هغح كي دذي روح عكسونه نه وي كتاى سي خو ددې پر ځاى باندي ذكر واذكار كول بهتر دى ځكه چي ددنيا دكاروبار دكان او كور ټې پرې ايښى داعتكاف لپاره لهذا دداسي شيانو څخه ځان ساتل بنه دى .

ويلازم التلاوة والحديث والعلم وتدريسه، كذا فى فتح القدير

Maktaba Tul Ishaat.com

فتاوی هندیه ج۱ ۲۱۲ .بحر الرائق ج۲ ص ۳۰۴ التاتار خانیه ج۱ ص ۳۱۳

سوال:

که چیري جنازه راغله دلمونځ ورکولو والا څوک نه وو اعتکاف ماتول او لمونځ ورکول څنګه دی؟

جواب: که چیري جنازه راغلـه او لـمنځ ورکولو والا څوک نـه وو نو اعتـکاف مـاتـول لـمونځ ورکول جائز دی . فتاویٰ هندیه ج۱ ص ۲۱۲ بحر الرائق ج۲ ص ۳۰۲ ردالمحتار ج۲ ص ۴۴۷ .

سوال:

دمعتـکف دپاره پر اوداسه باندي بل اودس کولو لپاره وتل څنګه دي ؟

جواب: داوداسه لرلو سره دمسجد څخه وتل اودس کول باندي اعتکاف فاسدیږی .

(فـان خـرج سـاعة بـلا عـذر مـعتبر (مسـنـد الـواجب) ولاثم بـه (مراقی الـفلا ح ص ۱۷۹ الـدر مع الرد ج۲ ص ۴۴۷ (حاشیه الطحطاوی علی مراقی الفلا ح ص ۳۸۴، ۳۸۳ ج۲ .

سوال:

معتکف پر غلط نظر باندي نر یا ښځي ته وکوري یا په غلطو سوچو کي ورک سي اعتکاف فاسدیږي او که نه؟

جواب: اعتـکاف نـه فـاسـدیږي که انزال او که نه سی انزال خو دمعتکف لپاره ددې څخه ځان ساتل لازم دی او ضروري دی .

وقـولـه تـعـالیٰ :ولا تـبـاشـرو هـن وانـتـم عـاكفون سورة البقرة آية ۸۷ .عن عـائشة انها قالت السـنة علی المعتکف ان لایعود مریضاً ولا شهید جنازه

ولایمس امراۃ (سنن ابو داؤد ج۱ ص ۳۴۲ (مشکوٰۃ ج۱ ص ۱۸۳ .الفقه علی مذاهب الاربعه ج۱ ص ۴۹۴ .

سوال،

په اعتکاف کې جنګ او جنجال کول څنګه دی اعتکاف په خرابیږي او که نه؟

جواب: په اعتکاف کې جنګ او جنجال کول مکروه دی ددې څخه حړان ساتل مکروه دی دثواب پر ځای به ګناه وی،

ویجتنب المعتکف کل مالا یعنیه من الاقوال والافعال ولا یکثر الکلام لان من کثر الکلام (الفقه الاسلامی او ادلة ج۲ ص۶۳۰ .

سوال:

داعتکاف په حالت کی ورزش کول او دخط جواب لیکل څنګه دي ؟

جواب: دباندې وتل جائز نه دي او په مسجد کې ورزش دادب خلاف دی نو په دې وجه بهاندې داعتکاف په وخت کې پریږدي که تکلیف نه وي او که چیرې تکلیف ډیر دبرداشت قابل نه وي نو دمجبوری په توګه باندې دخلوت په وخت کې کوي امداد الاحکام ص۱۵۰ ج۲ .

سوال:

دمعتکف لپاره په مسجد کې مریض کتل او نسخه ورلیکل روادی او که نه ؟

جواب: معتکف په مسجد کې مریض وکورې یا ئې حال واورې نسخه ورلیکلای سي او علاج ئې کوای سي .او معتکف که دطبعی ضرورت لپاره دباندې ولاړ سي دمسجد څخه او یو مریض حال ورته ووایي او دوا

Maktaba Tul Ishaat.com

وپوښتي نو وربښول جائز دی فقط .
خص المعتكف باكل وشب ونوم وعقد احتاج اليه لنفسه او عياله فلو تجارة كره (درمختار) لكن قال فى متن ال
وقاية ويأكل اى المعتكف شيأ منهذه الامور فى المسجد آه ومسله فى القهستانى رد المحتار باب الاعتكاف ج۲ص۱۴۷ .

د روژې ماتېدلو عذرونه په لاندي ډول دي :

۱﴾ ......مريض كېدل يا د مرض د ډېرېدلو انديښنه وي .
۲﴾ ......مسافر كېدل .
۳﴾ ...... اكراه يعني زبردستي .
۴﴾ ...... د حمل والا ښځه يا د شيدو وركولو والا ښځي ته د خپل ځان يا حمل يا و كوچني ته د تاوان رسېدلو بيره وي .
۵﴾ ...... د لوږي او تندي هوش و حواس تلل يا د هلاكت خوف وي .
۶﴾ ......سخت سپين ږيرى .
۷﴾ ...... په حالت حيض و نفاس كي روژه نيول ممنوع ده .
۸﴾ ...... مجاهد ته په روژه نيولو سره د كفارو سره مقابله كولو كي ضعف لاحق كېدلو انديښنه وي نو دده لپاره د روژې ماتولو اجازت سته وغيره:
"فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم وقد ذكر المصنف منها خسمة و بقى الاكراه وخوف هلاك او نقصان عقل ولو بعطش او جوع ولسعة حيه (لمسافر) سفراً شرعياً ولو بمعصية (او حامل اومرضع) اما كانت او ظئرا على

Maktaba Tul Ishaat.com

الظاهر(خافت بغلبة الظن على نفسها او ولدها او مريض خاف الزيادة) لمرضه و صحيح خاف المرض(در مختار) قال الشامی و فی الخلاصة الغازی إذا كان يعلم يقيناً انه يقاتل العدو فی رمضان و يخاف الضعف ان لم يفطر افطر نهر "(در مختار مع الشامی فصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم / ج: ۲ / ص: ٤۲۱ تا / ص: ٤۲۲) و إذا حاضت المرأة او نفست افطرت و قضت -(هداية / ج: ۱ / ص: ۲۲٤ ، فصل فی افطار الصوم)

سوال :......

د روژې نيت پـخپـلـه مـورنـۍ ژبـه لـكه : اردو ، انگريزي ، گجراتي وغيره باندي كولای سي كه نه؟

جواب :......

د روژې پـه نيت كـي پـه ژبه سره ضروري نه دي صرف د زړه اراده كافي ده پخپله مورنۍ ژبه يا په عربي ژبه يې هم ووايي نو بهتره ده، منع نسته:

"والسنة ان يتلفظ بها(ای النية) كذا فی النهر الفائق"(فتاوى هندية / ج: ۱ / ص: ۱۹۵ ، كتاب الصوم)

سوال :......

د هلال لپاره د څومره گواهانو ضرورت دی؟

جواب :......

دوه عـادلـه او مـعـتبـره نارينه يا يو عادل او معتبر نر او د دوو ښځو شهادت ضروري دی . په نور الايضاح كي دي:

"و يشترط لبقية الاهلية شهادة رجلين عدلين او حرو حرتين غير محدود دين فی قذف"(نور الايضاح / ص: ۱۵۰ ، فصل فيما يثبت به الهلال)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال :......

د عيد الفطر مياشت يې وليده و لمر لوېدلو ته لا درې څلور.مينتهه پاته وو ، دا وخت زيد وويل چې د اختر مياشت وليدل سوه . لهٰذا روژه بايد ماته سي ، نو بكر انكار وكړی ، د زيد پر ويلو باندي پنځلس شل خلكو روژه ماته كړه نو د دې مفطرينو (روژه ماتونكو) روژه صحيح سوه كه نه؟ بكر وايي چې ستاسي روژه نه ده صحيح قضا به يې راوړئ تاسو مفصل جواب ركړئ .

جواب :......

د غروب افتاب تر مخه د رؤيت هلال اعتبار نسته هغه ور ځ د روژې ده اختر نه دی . اوس چې يو چا په دا سوچ روژه ماته كړه چې لمر لوېدلی دی په دې وجه مياشته وليدل سوه نو پر دې باندي فقط قضا لازمه ده او كوم څوک چې پوهېدل چې لمر نه دی لوېدلی او روژه يې ماته كړه پر دې باندي د قضا سره كفاره هم لازمه ده . (فتاوی رحيميه/ ج: ۸/ ص: ۲۰۸، ۲۰۹)

سوال :......

په يو كتاب كي يوه مسئله ده چې كه د ورځي مياشت وليدل سوه او تر غروب افتاب پوري دوه ساعته (گهنټې) پاته وي او مياشت وليدل سي دوی روژه مات وكړي . لهذا جواب تحرير كړئ چې روژه ماتولای سي كه نه؟

جواب :......

مسئله مذكوره صحيح نه ده تر غروب مخكي كه مياشت وليدل سي نو روژه مات كول جائز نه دی:

Maktaba Tul Ishaat.com

"لاعبرة برؤية الهلال نهاراً سواء كان قبل الزوال اوبعده و هو الليلة المستقبلة فى المختار"(نور الايضاح / ص: ۱۵۰ ، فصل فيما يثبت الهلال و فتاوی عالمگیری / ج: ۱ / ص: ۱۹۷)

سوال:......

د هلال شوال خبر د پاکستان رېډيو ورکړى د هغې په بروسه باندې په دوو درو مقامو كې بعضو خلكو دېرشمه روژه نه ونيله او بعضې خلكو نيوله بيرته يې ماته كړه او اختر يې كړى نو آيا د دوى اختر معتبر دى او د روژې قضا ضرورې ده كنه ؟

جواب:......

په مذكوره صورت كې اختر نه دى معتبر او د روژې قضا لازمه ده په بعضې صورتو كې د روژې كفارهم سته . دلته په هندوستان كې مطلع صفا وه كه مياشت وه نو دلته به هم ليدل سوې واى په غټو غټو ښارو كې هم مياشته نه ده ليدله سوې او نه ده خبر را رسېدلى . نو لهذا د كلي والا دا عمل جاهلانه او خلاف قانون دى . د دوى لپاره توبه و استغفار كول پكار دي د راډيو خبر د هلال شوال و رمضان په يو څو شرائطو سره معتبر دى خو دا شرائط عموماً په رېډيو كې مفقود دي او كېدل يې هم مشكل دي نو د عامې رېډيو خبر څخه نه اختر كيږي او نه د رمضان ثبوت كېداى سي . (فتاوى رحيميه / ج: ۸ / ص: ۲۱۲)

سوال:......

يو سړي په هلمند كې روژه نيول شروع كړو او بيا هغه سړى په روژه كې د عمرې په نيت مكې معظمې ته ولاړى د هغه ځاى خلكو يو دوې ورځې

Maktaba Tul Ishaat.com

مـختـه وو ، نـو اوس دا سړى د هـغـه ځاى د خـلـكـو سره اختر جوړ كړي او د هـغـه بعده خپل روژې ونيسي او كه خپلي روژې پوره كړي بيا وروسته جلا خپل اختر جوړ كړي؟

جواب :......

دا سړى دي د هغه ځاى د خلكو سره اختر جوړ كړي بعد كي دي د باقي ماده روژو قضا وكړي يعني كه چيري دده روژې ۲۷ سوې نو دوې روژې دي ونيسي كه ۲۸ وې نو يوه روژه دي ونيسي چي مياشته د ۲۹ ورځو څخه كمه نه وي:

"اهل مصر صاموا رمضان بغير روية و فيهم رجل لم يصم حتى رأى الهلال من الغد فصيام اهل المصر ثلاثين يوما و هذا الرجل تسعة و عشرين ثم افطر وا جميعا فان كان ال المصر رأو الهلال شعبان و عدوا شعبان ثلاثين يوما كان على هذا الرجل قضاء يوم الاول الخ"(فتاوى تاتارخانية ، الفصل الثانى فيما يتعلق برؤية الهلال / ج: ۲ / ص: ٣٥٤)

☆...... د هلال د ثبوت څو معتبري طريقې:

سوال :......

د مياشتي د ليدلو د ثبوت طريقې څه شى دي؟

جواب :......

(۱):.. رؤيت عـامـه:(يعني د عـام خـلـكـو يا د جم غفير مياشت ليدل) دا د روژې او د كوچني اختر د مياشتي د ثبوت قطعي فيصله ده . ددې وروسته د قانوني شهادت ضرورت نه وي:

"و قبل بلا علة جمع عظيم يقع العلم الشرعى و هو غلبة الظن (بخبرهم و

Maktaba Tul Ishaat.com

هو مفوض إلى رأى الإمام من غير تقدير بعدد) على المذهب"(در مختار / ج: ۲ / ص: ۱۲٦ ، كتاب الصوم)

(۲):۔شهادت:

که چیري مطع آبر آلود سوه او ددې وجهې څخه رؤیت عامه نه وسي نو د ثبوت رمضان فیصله دیو دیندار پابند شریعت مسلمان نر او ښځي په بیان باندي کېدلای سي:

"(للصوم مع علة كغيم) وغبار(خبر عدل) ولو كان العدل قناً او انثىٰ او محدوداً فى قذف تاب"()در مختار / ج: ۲ / ص: ۱۲۳ ـ ۱۲٤ ، كتاب الصوم)

و برای شهادت ماه رمضان اگر آسمان ابر یا مانند آن دارد یك مرد یا زن عادلی کافی است حر باشد یا رقیق۔ (مالا بد منه / ص: ۹۳ ، نور الایضاح / ص: ۱٤۹)

البته د هلال عید لپاره د باقاعده شهادت ضرورت سته یعني دوه نارینه یا یو نارینه دوې ښځي (چي مسلمانان او بظاهر پابند د شریعت وي) او قاضي شرعي یا مفتي ته شهادت ورکړي او قاضي و مفتي د ده شهادت قبول کړي نو ددې څخه هم میاشته ثابتیږي .

"و شرط للفطر مع العلة والعدالة نصاب الشهادة و لفظ اشهد"(در مختار / ج: ۲ / ص: ۱۲٤) ايضاً ۔ و برای شہادت شوال در این چنین حال دو مرد حر عادل یا یک مرد و دو زن احرار عدول بالفظ شہادت شرط است۔ (مالا بد منه / ص: ۹۳ ـ نور الایضاح / ص: ۱٤۹)

(۳):۔شهادت على الشهادة:

پر گواهي باندي گواهي ورکول) کله چي اصل شاهدین په یو وجه باندي په مجلس قضا یا کمېټۍ په مخکي د حاضرېدلو څخه قاصر وي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

اصلي ګواه د خپله طرفه څخه دوه ثقه کسانو څخه ګواه جوړول د مجلس قضا یا مفتي (د چا پر فتاوی او فیصلو باندي چي د خلکو اعتماد وي) یا د کمېټۍ په مخکي د شهادت فریضه ادا کولو لپاره مه استوه هغه دواړه ګوهان قاضي یا د کمېټۍ په مخکي حاضر سئ او شهادت ورکړئ چي زموږ په مخکي فلاني سړي شهادت ورکړی چي ده میاشته لیدلې ده او هغه موږ ګواه جوړ کړو او را وایې ستولو چي تر تاسي پوري د دوی ګواهي در ورسوو . دا دی شهادت علی الشهادت صورت دی . دا د ثبوت هلال رمضان و عید لپاره معتبر دی او که څه هم د شاهدا‌ن اصل لپاره د دوو ګواهانو جلا جلا کېدل (یعني څلور کېدل) شرط نه دي دوه ګواهان د دواړو ګواه جوړېدلای سي خو بهتره دا ده چي هر ګواه د خپله طرفه څخه دوه ګواهان جلا جلا جوړ کړي یعني اصل ګواهان دوه دي نو ددې قائم مقام (فرع) څلور وي په در مختار کي دي:

”باب شهادة علی الشهادة (وهی مقبولة) لکن لا تقبل الا بشرط تعذر حضور الاصل (در مختار) اشار إلی ان المراد بالعرض ما لا یستطیع معه الحضور إلی مجلس القاضی کما قیده فی الهدایة الخ(شامی / ج: ٤ / ص: ٥٤٤ باب الشهادة علی الشهادة) و کیفیتها ان یقول الاصل مخاطباً للفرع و لو ابنه بحر(اشهد علی شهادتی انی اشهد بکذا إلی قوله ......(و یقول الفرع اشهد ان فلاناً اشهدنی علی شهادته بکذا و قال لی اشهد علی شهادتی بذلك)(در مختار) (قوله و ذلك) یعنی بان یکون لکل شاهد شاهدان متغایران بل یکفی شاهدان علی کل اصل(شامی / ج:٤ / ص: ٤٥ ، باب الشهادة علی الشهادة)“

Maktaba Tul Ishaat.com

(٤):۔ شهادت علی القضاء القاضی:

د قاضي يا مفتي په مجلس كي شرعي شهادت پېش وي او په مجلس كي دوه پابندِ شرع مسلمان د شروع څخه تر اخيره پوري حاضر وي او بيا هغه د يو بل مقام د قاضي يا مفتي په مخكي حاضر سي او شهادت وركړي چي په فلاني مقام باندي د قاضي يا مفتي په مجلس كي زموږ درمخه د رؤيت هلال شهادتونه پېش سول او د هغوى د شهادتو د سماعت وروسته قاضي يا مفتي د رؤيت هلال فيصله وكړه نو دا هم د ثبوت هلال رمضان و عيد لپاره معتبر ده او دد وى پر شهادت باندي د رؤيت هلال فيصله كېدلاى سي:

"(شهدوا انه شهد عند قاضی مصر كذا شاهدان برویة الهلال) فی لیلة كذا (وقضی) القاضی (به ووجد استجماع شرائط الدعوی قضی) ای جاز لها (القاضی) ان یحاكم (بشهادتهما) لأن قضاء القاضی حجة و قد شهدوا به لا لو شهدوا برؤية غيرهم لأنه حكاية"(در مختار / ج: ٢ / ص: ٢٨ ، كتاب الصوم)

(٥):۔ كتاب القاضی إلی القاضی:

د يو ځاى د قاضي يا مفتي په مخكي شرعي شهادت پېش سو او هغه د رؤيت هلال فيصله وكړه، اوس هغه د بل مقام د قاضي يا مفتي په نامه دوو ديندارو مسلمانانو په مخكي خط وليكى چي زما په مخكي شرعي شهادت پېش سو د كوم پر بنا باندي چي ما د رؤيت هلال فيصله وكړه او پر دې باندي خپل دستخط و مهر ولكاوى او هغو ته مي ووايو، خط يې بند كړى مهر يې ولګاوى او د هغو په حواله كړى، هغه دواړه كسان هغه خط واخلي د بل ځاى قاضي يا مفتي ته ورسي او ګواهي وركړي چي دا د

Maktaba Tul Ishaat.com

فلاني قاضي يا مفتي مكتوب دى هغه زموږ په مخكي ليكلى او ويلى دى او زموږ په حواله يې كړى چي موږ يې تر تاسي پوري را ورسوو نو د بل ځاى قاضي يا مفتي هغه منظورولاى سي او اعلان كولاى سي، دا هم د ثبوت هلال لپاره حجت دى خو د حجت دا قدر دى كله چي هغه دواړه كسان كواهي وركړي چي فلانكي دا مكتوب زموږ په مخكي ويلى او ليكلى دى او زموږ په حواله كړى يې دى او كه چيري دا رقم شهادت نه وركوي محض ديو خط (رقعه) په حيثيت سره يې رسوي نو ددې حيثيت ديو معمولي خط په رقم دى او چي حكم ديو مسلمان د خط كيږي هغه دده هم كيږي . (د رؤيت هلال مسائل او دلائل)

(۲) خبر مستفيض:

دا هم د ثبوت هلال لپاره حجت دى د خبر مستفيض په متعلق علامه شاميؒ فرمايي:"اعلم أن المراد بالاستفاضة تواتر الخبر من الواردين من بلدة الثبوت إلى البلدة التي يثبت بها لا مجرد الاستفاضة"

يعني پوه سه چي د استفاضة څخه مراد هغه خبر دى كوم چي بكثرت د هغه څخه راتللو والا بيان كړي چيري چي رؤيت سوى وي او داسي ځاى ته راسي بيان وكړي چيري چي هنوز رؤيت نه وي ثابت سوى محض افواه كافي نه ده . (حاشية بحر الرائق / ج: ۲ / ص: ۲۷۰، قبيل باب ما يفسد الصوم الخ)

علامه رحمتي د خبر مستفيض په متعلق فرمايي: (تنبيه) " قال الرحمتي معنى الاستفاضة ان تأتي من تلك البلدة جماعات متعددون كل

منهم يخبر عن اهل تلك البلدة انهم صاموا عن رؤية مجرد الشيوع من غير علم بمن اشاعة"

د استفاضه مطلب دا دی چي چیري میاشته لیدل سوې ده د هغه ځای څخه متعدد جماعتونه راغلي دي هر جماعت دي دا خبر ورکړي چي د دې ښار مسلمانانو د میاشتي په لیدلو سره روژه نیولې ده محض د خبري سره دېر پدل دا هم معلوم نه وي چي ددې راوي څوک دی چا دا خبره چلولې ده خبر مستفیض نه ده . (شامي / ج: ۲/ ص: ۱۲۹ کتاب الصوم) بهر حال د خبر مستفیض څخه هم د هلال رمضان او اختر ثبوت کیږي خو دا ضروري ده چي د خبري نوعیت داسي وي چي صاحب بصیرت معامله فهم اشخاصو ته د ده د صداقت یقین وسي . محض افواه او شهرت کېدل بلکي دا هم معلومه نه وي چي د اصل خبر ورکولو والا څوک دی، نه دی کافي .

☆...... رېډیو:

شرعي قاضي، یا د مستند علماء کرامو مجلس یا هغه سپورمۍ کمېټۍ ده کومي فیصله چي مسلمان تسلیموي دا خلک باقاعده شهادت واخلي د میاشتي فیصله وکړي او دا فیصله د شرعي قاضي یا علماء په مجلس یا د میاشتي کمېټۍ صدر یا د دې معتمد نمائنده د رېډیو په ذریعه نشر کړي او د بل ځای علماء کرام هغه منظور کړي نو پر دې باندي عمل کول درست دي . د عوامو منظوري نه ده کافي بلکه ددې دخل اندازي او د اهل علم سره جنجال کول روا نه دی . حکیم الامت حضرت تهانوي قدس سره فرمایي غرض نن سبا هر سړی مفسر و مترجم دی او هر یو په شریعت کي رایه ورکوي ګویا د شریعت زده کول تر ټولو فنونو

Maktaba Tul Ishaat.com

آسانه دی، حالانکه دا خو قانون الٰهي دی چي د دنیوي سلاطین قوانین هر سړي نه په پوهیږي بلکه خاص و کلاء او بیرسټر او د هائی کورټ جج په هغه پوهیږي نو خدایي قانون دی داسي څنګه بللی دی. (وعظ الباب / ص: ۱۸)

"د ریډیو د خبر په متعلق د هندوستان د مستندو علماء فیصله ده ریډیو د یو خبر د اعلان حیثیت لري دا اعلان که چیري د رؤیت هلال د باضابطه کمیټۍ د جانبه څخه وي چي د سپوږمۍ لیدلو باقاعده شهادت اخلي او د سپوږمۍ لیدلو فیصله کوي یا د یو بل داسي سړي له جانبه وي چا ته چي د هغه ځای مسلمانانو د قاضي یا امیر شریعت په حیثیت سر منلي وي او هغه باضابطه شهادت واخلي او فیصله کوي او اعلان کولو والا خپله قاضي، یا امیر شریعت یا د رؤیت هلال کمیټۍ صدر یا د کمیټۍ معتمد مسلم نمائنده وي نو مقامي کمیټۍ یا د قاضي یا امیر لپاره جائز دی چي هغه پر دې اعتماد وکړي او د رؤیت هلال فیصله وکړي" (رؤیت هلال د رمضان و عید مسائل و دلائل / ص: ۹۶)

سوال:......

د هلال عید الفطر خبر ریډیو پاکستان ورکړی وو د کوم پر بناء باندي چي د یو څو کلو (علاقو) بعضي خلکو د برشمه روژه نه و نیول او بعضي نیولې وه بیرته یې ماته کړه او اختر یې کړی نو دا اختر معتبر دی آیا د روژې قضا راځي؟

جواب:......

په دې صورت کي اختر نه دی معتبر د روژې قضا لازمه ده پر بعضي صورتو کي د قضا سره کفاره هم لازمه ده دلته په هندوستان کي مطلع

Maktaba Tul Ishaat.com

صفا وه که میاشته راختلې وای نو ضرور معلومېدله په غټو غټو ښارو کې هم سپوږمۍ نه وه لیدل سوه او نه د اختر خبر راغلی لهذا چا چې روژه نه ونیوله یا یې نیولې روژه ماته کړه نو ددوئ دا فعل ناداني او غیر قانوني شمارل کیږي . د دوی لپاره پکار ده چې توبه و استغفار وکړي د ریډیو خبر په هلال رمضان او عید الفطر کې بچند شرائط معتبر دی او هغه شرائط په عامه ریډیو کې نه وي موجود، په دې وجه د ریډیو په خبره باندي اختر جوړول نه دی صحیح نه ددې څخه د رمضان ثبوت حاصلیږي . (فتاوی رحیمیه/ ج: ۸/ ص: ۲۲۲)

سوال:......

د رمضان المبارک او عیدینو ماسوا د نورو میاشتو د ثبوت لپاره د څو کواهانو ضرورت دی؟

جواب:......

د رمضان المبارک،عید الفظر و عید الاضحی څخه علاوه د نورو پاته نهه (۹) میاشتو ۱ .محرم ۲. صفر ۳. ربیع الاول ۴. ربیع الثانی ۵. جمادی الاولی ٦. جمادی الاخری ۷. رجب ۸. شعبان ۹. ذی قعده کې د میاشتې د ثبوت لپاره (مطلع صفاوي او که نه) د دوو نارینه وو یا یو نر دوو ښځو شهادت کافي دی په شامي کې دي:

"قوله و بقية الاشهر التسعة) فلا يقبل فيها الا شهادة رجلين او رجل و امرأتين عدول احرام غير محدودين كما في سائر الاحكام، و ذكر في الامداد انها في الغير كرمضان والفطر اى فلا بد من الجمع العظيم ولم يغيره لاحد لكن قال الخير الرملى الظاهر انه فى الاهلة التسعة لا فرق بين الغيم

Maktaba Tul Ishaat.com

ولاصحو فی قبول الرجلین لفقد العلة الموجبة لا شتراط الجمع الکثیر و هی توجه الکل طالبین و یؤیده قوله کما فی سائر الاحکام اه"(شامی / ج: ۲/ ص: ۱۳۰ قبیل مطلب فی رؤیة الهلال نهارا)

سوال:......

د فیکس په ذریعه د میاشتي خبر موصوله سي نو پر دې باندي عمل کول څنګه دی؟ فیکس ته کتاب القاضی إلی القاضی ویلای سي که نه؟

جواب:......

فیکس د "خط" حکم لري فیکس په شهادت یا کتاب القاضی إلی القاضی په حکم کي نه سي راتلای چي په دې کي د کتاب القاضی الی القاضی جمله شراط نه دي موجوده، لهذا د خط چي کوم حکم وي هغه د فیکس حکم کیږي . (فتاوی رحیمیه/ ج: ۸/ ص: ۲۳۸)

سوال:......

دلته پر افغانستان باندي غیر مقلدینو او د جماعت اسلامي خلکو لس پنځلس ورځي مخکي اعلان کړی دی چي د رمضان اوله روژه جمعرات ته متعین ده کنې دا رو ځ د اهل سنت والجماعت په حساب سره د شعبان اته ویشتم تاریخ دی؟

جواب: .....

کوم خلک چي تقلید پرېږدي او د نفساني خواهشاتو اتباع کوي هغه چي د ګمراهي و ضلالت څومره کارونه کوي لږ دي د هغه لپاره قادیاني جوړېدل ، منکر حدیث وغیره جوړېدل ښکاره کار دی . د رئیس المحدثین حضرت شاه ولي الله صاحب محدث دهلويؒ فیصله ده چي:

"و فى الاعراض عنها مفسدة كبيرة"
يعـنـي پـه تـر ک تـقـليـد کي ډېر غټه خرابي ده (عقد الجيد ۳۱) او د غير مـقـلـديـنـو پېشـوا مـولانـا مـحـمـد حسن بټالوي صحب په پخل چشم ديد تجربې په پېش نظر خپل جماعت (غير مقلدين) ته وصيت کړی دی.
د پـنـځـه ويشتو کلو په تجربه سره موږ ته داخبره معلومه سوه چي کوم خلک د بې علمي سره د مجتهد مطلق او مطلق تقليد تاريک جوړ سي هغه آخر اسلام ته په خلاف کښېښي په دوی کي بعض عيسايان سي او بعض لامذهبه چي د يو دين و مذهب پابند نه وي او د احکام شريعت څخه فسق و خروج خو ددې آزادي ادنی نتيجه ده. (سبيل الرشاد، تاليف رشيديه ۱۵۰۷، اشاعة السنة نمبر ۲/ ج: ۱۱/ ص: ۵۲، کلمة الفصل/ ص: ۱۰)
بېشک تـر تـقـليـد د ضـلالـت وګـمـراهي دروازه ده ددغـه څخـه د ټولو ګمراهيو لاري خلاصيي خدای دي حفاظت ځيني راکړي. آمين ثم آمين.
رسـول خـداﷺ او دده مبارک بـرحـق خـلـفـائې راشدين حضرت ابوبکر صـديقؓ، حـضـرت عـمـر فـاروق اعـظـمؓ، حـضـرت ذوالنورين عثـمـانؓ، حـضـرت عـلـی کـرم الله وجهـه کـلـه هـم لـس، پـنـځـلـس ورځي مخکي داسي اعـلان نـه دی کـړی چـي پـه فـلانـی ورځ د رمضان اوله روژه ده. يا عـيـد الـفـطر يا عيـد الـضـحی دی. دې حضراتو به همېشه په نهه ويشتم تاريخ باندي مياشته وليده بيا به يې اعلان وکاوۍ که به يې د نهه وېستم مياشته نه وليده نو د ډېرش روژې به يې پوره کړې بيا ببه يې اعلان وکړی. صاحب وحي رسول مقبولﷺ بذريعه وحي معلومولو سره لس پنځلس ورځي مخکي اعلان کولای سو خو رسول مقبولﷺ هم داسي

Maktaba Tul Ishaat.com

نـه کـول بلکـه د ضابطۀ شرعیه پابند وو د نهه ویشتم میاشت یې کتله بیا یې اعـلان کـاوه یـا یـې درېـرش روژې پـوره کـولـو بـعد اعلان کـاوه لهذا ستـاسـې خـوا تـه چې هر چا هر څه کړي دي هغه بالکل غلط او ګمراهي ده حدیث ''ضلوا فاضلوا'' (مشکوة شریف / ص: ۳۲ کتاب العلم) .

د وی خپلـه ګمراه سول او نور یې ګمراه کړل صحیح مصداق دی . الله تعـالی دي د دې فتنې څخه مسلمانانو ته حفاظت ور کړي آمین فقط و الله اعلم بالصواب .

د لیـري ځایـه څخـه د میـاشـتـې خبـر بـطریق موجب ورسیږي نو پر دې بندي عمل وکړو کنه ؟

د غیر مقلد عالم حدیث د ابن عباسؓ څخه استدلال کول څنګه دي ؟

سوال :......

اَخـه وایـې عـلـمـاء احـنـاف پـه دې مسـئـله کي چي د لیري لیري ښار څخه د روژې د میـاشـتـې خبـر پـه معتبره ذریعه سره موږ اهل ښار ته را ورسیږي نـو پـر دې بـانـدي عـمـل جائز دی کنه ؟ مولوي عبد الجلیل سامرودي غیر مـقـلـد دې تـه نـاجـائـز ویـلـي دي او د حـضـرت ابن عـباسؓ د حدیث څخـه یې استدلال کړی دی .

جواب :......

حـامداً و مـصـلیـاً و مسـلـمـاً : د آنـحـضـرت ﷺ ارشاد دی : صـومـوا لرؤیـتـه وافـطـروا لرؤیـتـه . او دا مطلق او عام دی . پـه دې کي د قرب وبعد هیڅ قید او د ښـارو مـلـک هیـڅ تـخـصـیـص مـذکـور نـه دی ، پـه دې وجـه عند الاحناف ظـاهـر الـروایة او د مـفـتـی بـه او صـحـیـح و معـتـمـد و مختـار مذهب موافق

Maktaba Tul Ishaat.com

هلال صوم وفطر کي اختلاف مطالع معتبر نه دی . لهذا د ابتداء مشرق څخه رؤیت هلال رمضان و شوال خبرو شهادت اهل مغرب ته ورسیږي نو پر دې باندي دوی ته عمل کول لازمیږي . په فتاوی عالمګیري کې دي:

"و لا عبرة لاختلاف المطالع فی ظاهر الروایة۔ کذا فی فتاوی قاضی خان و علیه فتوی الفقیه ابی اللیث و به کان یفتی شمس الائمة الحلوانی قال لو رأی اهل مغرب هلال رمضان یجب علی اهل مشرق کذا فی الخلاصة"(ج ۱ / ص: ۱۹۹ ، الباب الثانی فی رؤیة الهلال)

او په در مختار کي دي:

"و اختلاف المطالع غیر معتبر علی ظاهر المذهب و علیه لاکثر المشائخ وعلیه الفتوی بحر عن الخلاصة"

او په فتاوی شامي کي دي:

"و هو المعتمد عندنا و عن المالکیة و حنابلة لتعلق الخطاب عاما بمطلق الرؤیة فی حدیث صوامو الرؤیته الخ"(ج ٤ / ص: ۱۳۲ قبیل باب ما یفسد الصوم الخ)

د دې په خلاف او اعتبار د اختلاف المطالع د ثبوت لپاره د حضرت ابن عباسؓ والا روایت پیشول نه دی کافي، ولي چي په دې کي یو څه احتمالات دي اول دا چي کریب پر شهادت غیر باندي شهادت نه دی ورکړی دویم دا چي نه یې پر حکم حاکم باندي شهادت ورکړی، سوم دا چي نه یې د لفظ اشهد سره شاهدي ورکړه او که چیري دا ټول ه تسلیم هم کړې تا هم د یو سړي د شهادت څخه وجوب القضا علی القاضي نه ثابتیږي، په دې وجه حضرت ابن عباسؓ د کریب پر شهادت باندي عمل

Maktaba Tul Ishaat.com

نه دی فرمایلی . په بحر الرائق کي دي:

"فلا دليل فيه لأنه لم يشهد على شهادة غير ولا على حكم الحاكم و لئن سلم فلأنه لم يأت بلفظ الشهادة ولئن سلم فهو واحد لا يثبت بشهادته وجوب القضاء على القضاء"(ج ۲ / ص: ۲۷۰ ، كتاب الصوم تحت قوله و لا عبرة باختلاف المطالع الخ)

او إمام نوويؒ شافعي د دې حديث په ذيل کي د بعضي شوافعو څخه هم نقل فرمایلی دی :

"قال بعض أصحابنا تعم الروية في موضع لجميع اهل الأرض فعلى هذا نقول انما لم يعمل ابن عباس بخبر كريب لأنه شهادة فلا تثبت بواحد"(شرح مسلم / ج: ۱ / ص: ۳٤۸ ،باب بيان ان لكل بلدة رؤيتهم الخ)

کـه چيري وويل سي چي حضرت ابن عباسؓ خو نه دي فرمايلي چي تـه يـواځي يې پـه دې وجـه ستـا شهـادت قـابـل قبول نـه دی نو دا يې هم کلـه وفـرمـايـل چي مـلک شام ليري واقع دی لهذا د هغه ځای رؤيت زموږ لپاره حجت نـه دی، پـس إذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال، په دې مسئله کي علـمـاء احـناف يواځي نه دي بلکي حنابله او مالکيه او بعضي شافعيه هم دي لـکـه څـنـکـه چي د شامي و شرح مسلم د عبارت څخه ظاهره ده او بعضي مشهوره اهل حديث هم ددې مسلک مؤيد دي .

☆......د مطلع صفا کېدلو په صورت کي د ثبوت هلال لپاره جم غفير ضروري دی:

سوال :......

د رؤيت هلال په متعلق د څو خلکو ګواهي معتبره ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب:......

حامداً و مصلیاً و مسلماً: امسال د عید الفطر پر موقع باندي مطلع صفا وه په دې وجه پر موقع باندي د دوو څلور کسانو ګواهي نه ده کافي، د جم غفیر او مجمع کثیر ګواهي ضروري ده. د کوم ځخه چې شرعي قاضي یا دده قائم مقام مفتي یا عالم ته د میاشتي اطمینان وسي او شبه قوي باقي نه سي پاته. عوام ته د دخل ورکولو هیڅ حق نسته.

"واگر مطلع صاف باشد رمضان وشوال جماعتے عظیم می باید" (مالابدمنہ/ص: ۹۳)

الجم الغفیر یقع به العلم فی هلال الصوم والفطر والاضحی ـ (رسائل الارکان / ص: ۱۰۷، فصل یفترض علی المکلف الخ) والعالم الشقة فی بلدة لا حاکم فیه قائم مقامه ـ (عمدة الرعایة علی شرح الوقایة / ج: ۱ / ص: ۳۹، کتاب الصوم)۔



باب ما یتعلق بالسحور والافطار

سوال:......

د پیشلمي په وخت کي د روژې نیت کول هېر سي نو روژه صحیح ده که نه؟

جواب:......

د پیشلمي په وخت یې دا اراده نه وي چې زه روژه نن نه نیسم نو پیشلمی کول دا هم د روژې نیت دی په جوهره کي دي:

"فالسحور فی شهر رمضان نیة ذکره نجم الدین النسفی و کذا إذا تسحر

لصوم اخر كان فيه له و انتسحر على انه لا يصح صائما لا يكون نية"(جوهرة / ج: ١ / ص: ١٤٠ ، كتاب الصوم)

ياد ساتئ چي د روژې په مياشته كي د روژې نيت نصف نهار شرعي څخه مخ كي كولاى سي كه يې څه خوړلي و چښلي نه وي .

سوال:......

د روژې په مياشته كي د روژه مات په وخت كي په نماز مغرب كي څونه قدر تاخير كولاى سي؟

جواب:......

د روژه مات لپاره په جماعت مغرب كي د پنځو اواو منته تاخير گنجايش دى:

"و الاصح انه يكره الا من عذر كالسفر والكون على الاكل ونحوهما او يكون التأخير قليلا وفى التأخير بتطويل القرأة خلاف انتهى"(كبيري / ص: ٢٣٣ فروع فى شرح الطحاوى)

خلاصه دا سوه چي تر لس منته ايات تاخير نه دى صحيح۔

سوال:......

زموږ مسجد كي د ريډيو په وخت باندي اذان كيږي او د جنتري او ريډيو په مابين كي ٦ منټ فرق دى مثلا جنتري كي تايم د غروب (٦:١٥) د په گهړى او ريډيو كي (٦:١٠) بجې دي په دې كي خو به څه مشكل نه وي؟

جواب:......

د مابنام اذان اولمونځ او د روژه مات وخت راتللو تايم په لوېدلو د لمر سره دى نه په گهړى او نه په جنتري سره دى . گهړى او جنتري د لمر د لوېدو

Maktaba Tul Ishaat.com

تابع دي گهړۍ او جنتري غلطېدای سي :

"ای وقت المغرب من غروب الشمس إلى غروب الشفق لرواية مسلم صلاة المغرب ما لم يسقط نور الشفق "(بحر الرائق ، كتاب الصلوة / ج: ۱ / ص: ۲٤٥)

د دغه شیانو څخه تر یوه وخت پوري کار او مدد اخیستلای سي مګر همېشتوب او یقیني جوړول نه سي جوړېدلای ، که چیري ته وګورې چه لمر پټ سو یا دبل چا په ویلو باندي ستا یقین وسي چي لمر پټ سو نو بیا روژه مات وکړه اوس نو د احتیاط پر بنا باندي ناوخته کول ښه نه دي او چه کله ستا . . . او یقیني خبر یا اعلان اورېدلو سره یقین نه وي سمّ دي وي نو پر گهړۍ او جنتري باندي یقین کول لمونځ کول او روژه مات کول صحیح نه دي .

سوال :......

روژه مات باندي روش او . . غوښي نه وي پخې لمونځ ناوخته کول زموږ په مسجد کي د رمضان مبارک میاشته کي خلک و مسجد ته روژه مات راوړي څوک رېش څوک کېمیا څوک بېنډۍ او نور شیان راوړي ، چي په مسجد کي روژه مات کيږي نو د لمانځه لس منټه او یا اته منټه ناوخته سي یو نفر وایي چي د روژه مات بندوبست کولو کي د لمانځه ناوخته سي دا ګناه لري یعني د ثواب په نیت باندي د ګناه کار کیږي نو لهذا دغه کار به نه کوو ، بعضي خلکو روژه مات کړی . . د مسجد څخه نو غریبانو ته چي څه خوراک پیدا کیدی هغه ختم سو نو سوال دغه دی چي په لمانځه کي لس منټه ناوخته کول ګناه ده که نه ده؟

جواب :......

Maktaba Tul Ishaat.com

په روژه مات کې د غريبانو دپاره سالن تيارول د لمانځه بعد کې وکړئ انشاء الله پوره ثواب به الله تبارک و تعالى درکړي . د لمانځه څخه دمخه د روژه مات بندوبست کولو دپاره لس منټه هم کم وخت دی نو د بعضو خلکو څخه رکعت او د چا څخه دوه رکعته او د چا څخه جماعت تېر سي (نو دغه دلمانځه څخه دمخه روژه مات کول گناه ده) نو بايد لمونځ مخته او روژه مات وروسته سي نو به د خلکو ثواب کثير ډېر سي .

☆...... د روژه مات او لمانځه په مابين کې فاصله کول:

سوال:......

په روژه مبارکه کې د روژه داره لحاظ کولو لپاره د اذان او د جماعت په مابين کې لس منټه وقفه مقرر کولو باندې خو به څه حرج نه وي؟

جواب:......

حامداً و مصلياً د روژه مات دوجهې څخه که لمونځ و ۷ يا ۸ منټه وروسته کړي نو فرق نه کوي جائز دی . د کور والا خلک نه سي راتلای نو بيا که ۱۰ منټه وځنډوي پروانه کوي د کورو والا خلکو ته هم پکار ده چې کوشش وکړي چې وختي راسي او يا په مسجد کې روژه مات وکړي مگر حاضرينو ته به د انتظار زحمت نه ورکوي:

"ولا صح انه يکره الاحق عذر کالسفر والکون على الاکل ونهما او يکون المتأخر قليلا "(کبيري / ص: ۲۳۳ فروع في شرح الطحاوى - فتاوى محموديه / ج: ۱۳ ، / ص: ١٣٤)

☆...... د روژه مات او د لمانځه په مابين کې د فاصلې حد به څه وي؟

سوال:......

د روژې مبارکې د ماښام د لمر لوېدو څخه لس منټه فاصله ورکول جائز ده که نه ده جائز یعني وقفه ۱۰ منټه جائز ده که نه؟

جواب: ......

د روژه مات کول باید مختصر وي چې په ۷ منټه کې ته باید تکبیر اولی کې ورسره شریک سي او په جماعت سره لمونځ وکړي، ها البته که د محلې والا کسان نه سول حاضرېدلای نو به ۱۰ منټه تاخیر وکړي د محلې کسانو ته هم پکار ده چې ژر ځانونه حاضر کړي او کوم خلک چې فارغه دي و هغو ته دي ډېر انتظار نه کوي ولې چې کوم خلک اودس لري نو هغه ته بل نوی اودس زور غواړي نو لهذا ودوی ته انتظار مه کوئ.

☆...... په پیسو باندې په مسجد کې روژه مات کول ښه دي که په کور کې:

سوال: ...... د بل ملک څخه چې نغدي پیسې راځي په روژه مبارکه کې په هغو روپیو باندې په مسجد کې خوراک برابرول صحیح دی که په کلي کې و هر غریب کور ته جلا جلا غوښه ورکول او ډوډۍ ورکول ښه دي او د کورو د خلکو ته په یوه حساب ورکلو ښه دي او که نفر شارل ښه دي چې زیات او کم راځي؟

جواب: ...... حامداً و مصلیاً کله چې د مسجد دپاره نغدي راځي نو هغه د لمونځ کونکو خلکو دپاره په مسجد کې استعمالولو دپاره دي د کورو دپاره به د خاوند څخه چې کومې پیسې راځي د هغه څخه به اجازت اخلي بیا جائز دی ورنه که اجازت نه وي نو د کورو والا دپاره نه دی جائز. (فتاوی محمودیه/ ج: ۸/ ص: ۳۱۵)

☆......د روژه مات دپاره د بقایه روپیو مصرف به څه په کوي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: ...... د روژې د میاشتې خرڅه که پاته سوه د بلې روژې دپاره یې اینبولای سي که به یې خامخا په دغه روژه کي ختم کوي، په هره ورځ د روژه مات لپاره خرڅه کولو باوجود بیا هم نغدي روپی پاته سي نو د هغه مصرف کول په غریبانو باندي نغدي ورکول یا کپړې یا بل شی ورکول په تقسیم کولو کي یې گنجایش سته؟

جواب: ......

مذکوره پیسې چي کو نفر راستولي د هغه د قول مطاب خرڅول یې جائز دي او ضروري دی . بلا اجازت دغه رقم تقسیمول چي هغه نه وي ویلي نه خرڅ کړې دا جائز نه دي . (ملاحظه تحقیق وقف بودن یا نبودن چنده، امداد الفتاوی / ج: ۲ / ص: ۵۹۳)

☆...... د پېشلمي کوم وخت صحیح دی؟

سوال: ......

د روژې په میاشته کي د سهار خواته یعني پېشلمي باندي او یا روژه مات دپاره چي کوم وخت مقرر سي اذان وي یا نعره وي خاص طور باندي د سهار خوا که ډېر فرق وي مؤذن صاب وایي چي سهار سو او بل ځای نعره سي چي د پېشلمي وخت فریب الختم دی نو په کوم وخت باني عمل کول صحیح دی؟

جواب: ......

تیایم تېبل یعني وخت معلومول چي په هغه باندي اعتابر کول چي یو منټ هم فرق را نه سي اصل چي دی هغه صبح صادق دی او یا د لمر لوېدو وخت دی چي هغه سړی معلوم کړي ، ولي چي روژه اهم عبادت د ه، ددې

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره احتیاط ضروري دی، کوم وخت چې د روژې مبارکې میاشت راسي هغه ته حساب کول په کار دي چې اوس په ستمبر میاشت کې راغله نو حساب وکړه چې د ستمبر په میاشت کې صبح صادق او د لمر ختلو په مابین کې یوه ګهنټه پنځه ویشت منټه فرق دی، فاصله ده، لهذا دل مر راختو څخه د مخه یوه ګهنټه پنځه دېرش منټه مخته خپل خوراک بند کړئ چې پخپله مو زړه ته اعتماد پیدا سي . فقط والله اعلم بالصواب .



روژه په لغت کې مطلق د ځان بندولو ته وایي د هر شي څخه روژه په شریعت کې ځان بندول دي د سپېدو څخه بیا تر لمر لوېدو پوري د هر ماتونکي شي څخه سره د نیت .

سوال:......

څرنګه چې سپېدی راوختلې نو فوراً به خوراک او چنباک پرېږدي او که به یې هغه وخت پرېږدي چې سپېدې د اسمان په کنارو کې انتشار پیدا کړي؟

جواب:...... ”قوله و هو الیوم ای الیوم الشرعی من طلوع الفجر إلی الغروب و هل المراد اول زمان الطلوع او انتشار الضوء فیه خلاف کالخلاف فی الصلوة و الاول احوط رد المحتار (ج ۲ / ص: ۸۸)“

خلاصه داسوه چې احتیاط په دې کې دی چې فوراً خوراک او چیښاک پرېږدي . (شامي / ج: ۲ / ص: ۸۸)

سوال:......

چې څنګه لمر ولوېدی خوراک او چیښاک جائز دی او که توروالی شرط

دی يعني شپه راختلې شرط دی او که نه؟

جواب:......

"اذا وجدت الظلمة حسا فی جهة المشرق فقد ظهر وقت الفطر"

خلاصه دا سوه چي شپه راختل شرط دی په مطلق لمر لوېدو خوراک او چښناک نه دی روا .

سوال:......

نيت د روژې لپاره شرط دی او کنه، که چيري وي خالص په زړه سره نيت شرط دی او که په خوله وينا ته ضرورت سته .

جواب:......

"قال فی الاختيار النية شرط فی الصوم و هی أن يعلم بقلبه ان يقوم و لا يخلو مسلم عن هذا فی ليالی شهر رمضان وليس النية باللسان شرطا"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۹۲)

خلاصه دا سوه چي نيت په زړه شرط دی نه په خوله او به خو له ويل ښه کار دی .

سوال:......

د هري ورځي لپاره نيت شرط دی او که د ټولي مياشتي لپاره يو نيت کافي دی .

جواب:......

"ثم عندنا لا بد من النية لکل يوم فی رمضان کذا فی فتاوی قاضيخان"

خلاصه دا سوه چي د هري ورځي لپاره نيول شرط دی .

سوال:...... که يو سړی په هيره روژه و خوړه يا يې جماع وکړه روژه يې ماتيږي که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :...

"اذا أكل ناسيا اى لصومه لأنه ذاكر للاكل و الشرب والجماع معراج رد المحتار"(ج ۲ / ص: ۱۰۵)

خلاصه دا سوه چي روژه نه ماتيږي .

سوال :......

شروط د روژې څو دي؟

جواب :......

"اما شروطه فثلاثة انواع شرط وجوبه الاسلام و العقل والبلوغ وشرط وجوب الاداء الصحة والاقامة و شرط صحة الاداء النية و الطهارة عن الحيض والنفاس كذا في الكافي "(هندية / ج: ۱ / ص: ۱۹۵)

خلاصه دا سوه چي شروط د روژې د هغه درې مذكور دي .

سوال :......

كه د روژتي و حلق ته دود يا مچ يا كرځ داخل سو يا يې سر غوړ كړی يا سترګي توري كړي يا يې ښځه مچ كړه انزال نه سو يا روژتي په خوب كي احتلام سو يا يې عطر ولګول روژه يې ماتيږي كه نه؟

جواب :......

"و ان وجد طعم في حلقه اى طعم الكحل أو الده الخ"(رد المختار / ج: ۲ / ص: ۱۰٦ إلى / ص: ۱۰۸)

خلاصه دا سوه چي په دې شيانو روژه نه ماتيږي .

سوال :......

كه روژتي په سترګو كي دوا واچوله يا يې په غوږ كي او به دننه سوې نو

Maktaba Tul Ishaat.com

روژه يې ماتيږي که نه؟

جواب:......

"ولو افطر شيئا من الدواء في عينيه لا يفطر صومه عندنا و ان جد طعمه في حلقه"(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۲، شامى / ج: ۲ / ص: ۱۰۷ ، خانيه على هامش / ج: ۱ / ص: ۱۰۹)

خلاصه دا سوه چې په مذكوره شيانو روژه ماتيږي . (رد المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲/ ص: ۱۲)

سوال:......

كه روژاتي د نخود تر دانې لږ شى وخوړ يعني د خولې څخه يې راوكښى اوبيا يې تېر كړى قضا پر راځي او كه كفاره؟

جواب:......

"مثل حمصة فاكثر قضى فقط و في اقل منها لا يفطر الا إذا اخرجه من فمه فاكله و لا كفارة الخ رد المحتار / ج: ۲ ص۲۲)"

خلاصه دا سوه چې په مذكوره صورت كې روژه ماته د قضا يې سته كفاره نسته .

سوال:......

كه روژتي په قصد سره په ډكه خوله قى وواهه روژه يې ماته ده كنه قضا پر سته كه نه؟

جواب:...... "و ان كان ملء الفم فسد بالاجماع"(رد المحتار / ج: ۱ / ص: ۱۵۱)

خلاصه داسوه چې روژه ماته ده قضا به راوړي .

سوال:......

که یو سړی په روژه کې احتلام سو یا یې خورک په هېره وکی او یا یې یو ښځې ته وکتل بې غسله سو او یا یې قی وواهه بلا قصد نو یې دا گمان سو چې زما روژه ماته سوه خورک یې په کې شروع کی، آیا په دې سړي قضا سته او که کفاره؟

جواب :......

"او اکل او جامع ناسیا او احتلم او انزل بنظر او ذرعه القئ فظن انه افطر فاکل عمدا للشبهة و لو علم عدم فطر لزمته الکفارة الا فی مسئلة المتن فلا کفارة مطلق علی المذهب لشبهة الخ"

خلاصه دا سوه چې قضا پر سته که یې علم نه درلود او که یې علم درلود چې په مذکوره شیانو روژه نه ماتیږي بیا یې خورک وکی نو کفاره بیا لازمیږي . (در المختار / ج: ۱/ ص: ۱۵۰)

سوال :......

که یو ښځه په دې خبره وه چې سپېدې راختلي دي مگر خاوند ته یې وویل چې سپېدې نه دي راختلي نو هغه ددې سر جماع وکړه نو اوس پر دوی قضا ده او که کفاره؟

جواب :......

"صرح فی البزازیة بالوجوب علی الجاریة فیما لو اخبر سیدها بعدم طلوع الفجر عالمة بطلوعه فجامعها مع عدم الوجوب علیه"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۱۹)

خلاصه دا سوه چې په دې صورت مذکوره کې پر زنانه کفاره ده او پر نارینه خالص قضا ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......
كـه د ښځـي دا كـمـانـوو چي ور ځ مي د حيض ده نو يې روژه ماته كړه خو حيض نه ورته راغلى نو اوس پر دغه ښځه قضا ده او كه كفاره؟
جواب:...... "وكذا افطرت المرأة على ظن ان يومها يوم حيض فلم تحض فى ذلك اليوم كان عليها الكفارة بزازية على هامش "(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۳، الفقه الاسلاميه و ادلته / ج: ۲ / ص: ٦٥٥)
خلاصه دا سوه چي پر دې ښځه كفاره لازمه سوه .
سوال:......
كـه دوو كسـانـو و روژتـي تـه شـاهـدي ادا كـړه چي لمر نه وو لوېدلى اوس قضا راځي او كه كفاره؟
جواب:......
"و فى البحر قبل شهادة المثبت لا النافى و فى الاشباء بينه النفى غير مقبولة"
(المبسوط / ج: ٥ / ص: ١٥٤)
خـلاصـه دا سـوه چـي پـه مـذكـوره مسـئـلـه كي كفاره نه لازميږي ځكه شاهدي په اثبات كي قبوله ده نه په نفى كي .
سوال:......
كـه يـو غـازي مـجـاهـد روژه ماته كړه په دې وجه چي جنگ به كوم د دښمن سره خو بيا ور ځ تېره سوه جنگ يې نه وكړ آيا اوس پر ده قضا راځي او كه كفاره؟
جواب:...... "الـغـازى إذا عـلـم انه يقاتل العدو فى رمضان و هم يخاف الضعف فـلـه ان يـفطر كذا فى محيط السرخسى فان لم يتفق القتال فلا كفارة عليه لأن

Maktaba Tul Ishaat.com

في القتال يحتاج إلى تقديم الافطار ليتقوى و لا كذلك المرض هكذا في الظهيرية في المقطعات"(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۸)

خلاصه دا سوه چي پر دغه مجاهد قضا سته کفاره نسته .

سوال :......

که يو سړي په روژه کي داسي شی وخوړ چي هغه نه د انسان خورک وو او نه دوا په کي ده لکه خاوره ډبره وغيره، آيا اوس قضا ورباندي راځي او که کفاره؟

جواب :...... "واذا ابتلع ما لا يتغذى به و لا يتدوى به عادة كالحجر والتراب لا يوجب الكفارة كذا في التبيين و لو ابتلع حصاة او نواة او حجر او مدر او قطنا او حشيشا او كاغذة فعليه القضاء و لا كفارة كذا في الخلاصة"(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۲)

خلاصه دا سوه چي په مذکوره مسئله کي قضا سته او کفاره نسته .

سوال :......

که يو سړي په روژه کي دري يا څلور ورځي لېوني سو نو بيا قضا ورباندي لازمه ده او که نه؟

جواب : ...... "في المجنون ان لم يستوعب الشهر قضى ما مضى در المختار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۳٤)"

خلاصه دا سوه چي ددغو درو يا څلورو ورځو قضا به راوړي .

سوال :......

که يو سړی ټوله مياشت لېونی سو آيا اوس قضا ورباندي سته او که نه؟

جواب :......

"و ان استوعب لجميع ما يمكنه انشاء الصوم فيه على ما مر لا يقضى مطلقا

Maktaba Tul Ishaat.com

للحرج "(رد المحتار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۳٤)

خلاصه سوه چي که تو له میاشت یو څوک لیونی ئي نو قضا وربانديي نسته ځکه دا حرج دی .

سوال :......

که یو سړی ټوله میاشت په بې هوښي تېره کړي نو آیا قضا وربانديي سته او که نه؟

جواب :......

" وقضی ایام اغمائه ولو کان الاغماء مستغرقا للشهر لندرة امتداده " (در المحتار علی هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۳٤)

خلاصه دا سوه چي قضاء د ټولي میاشتي به راوړي ځکه داسي بې هوښي نادره ده . او که یوه ورځ بې هوښي راسي نو قضا به راوړي .

سوال :...... که یو سړی په روژه کي د بل چا نارې تېري کړي نو قضا وربانديي راځي او که کفاره؟

جواب : ......"ولو ابتلع بزاق غیره فسد صومه بغیر کفارة الا إذا کان بزاق صدیقه فحینئذ تلزمه الکفارة کذا فی المحیط"(هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۰۳)

خلاصه دا سوه چي یو سړی که د بل چا نارې وخوري قضا وربانديي راځي او که د صدیق نارې وخوري بیا کفاره راځي .

سوال :...... که زید و عمر ته وویل چي دا شی یعني ډوډۍ وخوره عمر ورته وویل چي نه خورم زید ورته وویل چي که تا نه وخوره پر ما به ښځه طلاقه وي عمر ورته وویل چي زما روزه ده نو اوس به عمر څه کوي روژه به خوري که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب:...... "رجل حلف بطلاق امرأته ان لم يفطر فلانا ان كان متطوعا يفطر لحق اخيه الحالف و ان كان صائما عن القضاء لا يفطر "(هندية / ج: ١ / ص: ٢٠٣)

خلاصه دا سوه چي كه نفلي وي ماته دې كړي او كه قضايي وه نو نه دي ماته وي .

سوال:......

كه يو سړي په مياشت كي د روژې لس ورځي ناجوړه سو خو بيا پنځه ورځي جوړ سو بيا مړ سو نو اوس فديه د څو ورځو لازميږي؟

جواب:...... "اذا افطر المريض ايام ثم صح أيام ثم مات لزمه القضا بقدر ما صح لأنه لم يقدر على القضاء الا بقدر ما ادره"(هندية / ج: ١ / ص: ٢٠٣)

خلاصه دا سوه چي څومره ورځي جوړ سوي دي هغومره فديه به وركوي .

سوال:......

كه يو سړى په روژه كي وينه وخوري قضا وربانديږي راځي او كه كفاره؟

جواب:...... "ولو اكل دما فى ظاهر الرواية عليه القضاء دون الكفـــارة لأنه مما يستقذره الطبع كذا فى الظهيرية"(هندية / ج: ١ / ص: ٢٠٣ ـ ٢٠٦)

خلاصه سوه دا سوه چي قضا وربانديږي راځي نه كفاره .

سوال:...... كه د يو سړي خاوري يا شكي يا وابنه يا ناړي د بل چا په يا پمبه عادت وي هر وخت يې خوري نو كه په روژه كي دا شيان وخوري قضاء لازموي كه كفاره؟

جواب:...... "اذا اكل الصائم ما لايؤكل عادة كالحصاة والنواة و كالقطن والحشيش والتراب والكاغذ والبزاق الذى جعله فى كفه ثم ابتلعه والسفرجل إذا لم يكن مدرك و هو غير مطبوخ والجوزة الرطبة والطين الذى يغسل به

Maktaba Tul Ishaat.com

الـرأس فسـد صـومـه فـان كـا يعتـاد اكـل هـذا الطين فعليـه القضـاء والكفارة"(قاضيخان / ج: ١ / ص: ١٠٢)

خلاصـه دا سـوه چې كـه دا شيـان عـادت وي بيـا يې وخوري نو كفـاره لازموي او كه يې عادت نه وي بيا قضا لازموي نه كفاره .

سوال:...... كـه يـو سړى ښځـه مچ كـړي انزال سي يا ښځه مسح كړي انزال سي او يا چا پـخپـل لاس ځـان انزال كړيا يې د ښځي سره په لڅ بدن بازى كـولـې انـزال سـو يا ښځه بيده وه وطى يې ورسره وسوه نو په دغو صورتو كي قضا راځي او كه كفاره؟

جواب:......

"او وطئ امرأة ميتة او صغيرة لا تشتهى نهر او بهيمة او فخذا اوبطنا او قبل او مس فانزل "(در المختار على هامش رد المحتار / ج: ٢ / ص: ١١٣)

خـلاصـه دا سـوه چې كه انزال سو نو قضا راځي او كه انزال نه سو بى يو شى هم نه راځي نه قضا نه كفاره .

سوال:......

كـه مسـافر روژه ونيولـه وروستـه يې اراده وكړه چې كور تـه بـه ځم نو روان خـو ښـار تـه نـه دى داخـل سـوى روژه يې مـاتـه كړه اوس كفاره راځي او كه قضا؟

جواب:......"انـه لو افطر بعد النية قبل الدخول يكفر ايضا تأمل"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ١٣٤)

خلاصـه دا سوه چې كفاره راځي .

سوال:......

Maktaba Tul Ishaat.com

که يو روژتي انسان ځان دومره ستړى کړئ چي د لوږي خوراک ته مجبور سو روژه يې ماته کړه قضا راځي او که کفاره؟

جواب:......

'قال الشرنبلالى صورته صائم اتعب نفسه فى عمل حتى اجهده العطش فافطر لزمته الكفارة'"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۲۵ ـ هكذا فى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۰٦)

خلاصه دا سوه چي کفاره په دې صورت کي لازميږي .

سوال:......

که يو کافر ډاکټر يا فاسق يا د هغه طبيب چي په طبابت کي مکمل معلومات نلري، روژتي يې خبره ومنله روژه يې ماته کړه په دې صورت کي قضا راځي که کفاره؟

جواب:...... "و إذا اخذ بقول طبيب ليس فيه هذا الشروط فالظاهر لزوم الكفارة الخ"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۲۷)

خلاصه دا سوه چي که روژتي روژه ددغو کسانو په قول ماته کړه نو کفاره وربانديلازميږي .

سوال:......

که مريض د مرض په حالت کي مړ سي بيا ددغو روژو فديه سته او که نه؟

جواب:...... "ولا فدية لما مر خلافا للشافعي""(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۷)

خلاصه دا سوه چي د دغو روژو فديه نسته .

سوال:......

كه يو چا فديه وركړه بيا جوړ سو فديه يې صحيح ده؟

جواب:......

"ولـو قـدر عـلـى الصيام بعد ما فدى بطل حكم الفداء الذى فداه حتى جيب عليه الصوم هكذا فى النهاية"(هندية / ج: ۱ / ص: ۱۰۸)

خلاصه دا سوه چي فديه يې نه سوه صحيح قضا به راوړي .

سوال:......

كه روژتي مسواک وواهه او دا يې گمان سو چي روژه يې ماته سوه بيا يې قصد د خورک وكى نو اوس قضا راځي او كه كفاره؟

جواب:......

"ولـو استاك فظن ان ذلك فطره فاكل بعد ذلك متعمد عليه القضا والكفارة كذا فى الخلاصة"(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰٦)

خلاصه دا سوه چي په دې صورت كي كفاره لازميږي .

سوال:......

كه يو روژتي جماع وكړه د څارپۍ يا د مړي زناني سره بيا يې گمان دا سو چي روژه مي ماته سوه نو يې قصداً خوراک وكړ اوس قضا راځي او كه كفاره؟

جواب:...... "ولو جامع بهيمة او ميتة فظن ان ذلك فطره فاكل متعمدا فعليه الكفارة ان كان عالم و ان كا جاهلا فعليه القضا دون الكفارة"(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰٦)

خلاصه دا سوه چي كه د روژتي په گمان په يو شي روژه ماته وه خو شرعاً نه وه ماته ده قصداً خوراک وكړ قضا راځي نه كفاره .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:......
که یو چا مکمله روژه یا څو روژې وخوړې د مرض په وجه خو قضا یې نه راوړه بله روژه راغله اوس به قضا دمخه کوي او که ادا؟
جواب: ...... ''و ان جاء الرمضان الثانی و لم یقض الاول قدم الاداء علی القضاء کذا فی النهر الفائق''(هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۰۸)
خلاصه دا سوه چې ادا به دمخه کوي تر قضاء.
سوال:......
که یو سړي پر ځان د رمضان روژې نذر کړې دا نذر صحیح دی که نه؟
جواب: ...... ''الاصل ان النذر لا یصح الا بشروط و الثالث ان لا یکون واجب فی الحال الخ'' (هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۰۸)
خلاصه دا سوه چې دا نذر نه دی صحیح ځکه دا خو پر ده باندي بلا نذر واجب دي.
سوال:......
که یو روژتي یو ظالم مجبور کړي چې روژه به ماتوې که دي نه کړه ماته قتل کوم دي یا دي دومره وهم چې بدن دي زخمي سي آیا خوراک ورته جائز دی که نه؟
جواب: ...... ''و ان بملحی کقتل او قطع عضو او ضرب مبرح حل فانصبر فقتل اثم''(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۲۵)
خلاصه دا سوه چې و دې مظلوم ته خوراک جائز دی.
سوال:......
که روغ سړی وو خو پر ځان بېرېدی چې که زه روژه ونیسم ناجوړه به سم

Maktaba Tul Ishaat.com

او واقعي داسي وو بيا خوراک ورته جائز دي که نه؟

جواب:......

"المريض إذا خاف على نفسه التلف او ذهاب عضو يفطر بالاجماع "(هندية / ج: ١ ص٢٠٨)

خلاصه دا سوه چي که يو څوک بېرېدی چي مريض به سم او اقعي همداسي وه نو بيا خوراک ورته جائز دی .

سوال:......

په روژه کي روژتي ته عطر خوشبويي، لګول جائز دي کنه او ستر کي تورول او وېښتان غوړول جائز دي که نه؟

جواب:...... "لا يكره للصائم رائحة المسك و الورد و نحوه ممالا يكون جوهرا متصلا كالدخان فانهم قالوا لا يكره الاكتحال بحال وهو شامل للمطيب و غيره ولم يحصوه بنوع منه و كذا دهن الشارب"(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ٢٣)

خلاصه دا سوه چي په دې شيانو روژه نه خرابيږي .مګر په سګريټ ماتيږي .

سوال:......

ديو سړي نفلي روژه ده ملګرو ورته وويل چي زموږ سره خوراک وکړه نو ده لره جائز ده کنه او که يې خوراک وکئ کفاره راځي که نه؟

جواب:......

"الصائم المتطوع إذا دخل على بعض اخوانه فسأله ان يأكل لا بأس بان يحبه و ان كان صائما عن قضاء رمضان كره له ان يأكل "(بزازية على هامش

Maktaba Tul Ishaat.com

هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۳)

خلاصه دا سوه چې که نفلي روژه وه ودې خوري كفاره نه لازموي او كه قضا د رمضان وه بيا دي نه خوري .

سوال :......

که يو سړي په اوله ورځ د روژې مرتد سو العياذ بالله بيا بيرته مسلمان سو تر زوال مخکې نيت د روژې يې وکئ بيا قصدا روژه وخوړه نو اوس قضا راځي او كه كفاره؟

جواب :......

"اذا ارتد رجل عن الاسلام والعياذ بالله فى اول اليوم من رمضان ثم رجع إلى الاسلام فنوى الصوم قبل الزوال فهو صائم وان افطر عليه القضاء دون الكفارة"(بزازية على هامش هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۲)

خلاصه دا سوه چې پر دې سړي خالص قضا راځي .

سوال :......

که ديو سړي نفلي روژه وه بيا مرتد سو بيا تر زوال مخکې مسلمان سو، نيت د روژې يې وکئ بيا يې په قصد سره وخوړه اوس قضا راځي او که کفاره؟

جواب :......

"الصائم المتطوع إذا ارتد عن الاسلام ثم رجع إلى الاسلام قبل الزوال و نوى الصوم قال زفرؒ لا يكون صائم و لا قضاء عليه إذا افطر و قال ابو يوسفؒ يكون صائما و عليه القضاء إذا افطر "(البزازية على هامش هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۲) .

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دا سوه چي که سړی مرتد سو بیا تر زوال مخکي مسلمان سو نیت یې د روژې وکئ او بیا یې وخوړه نو إمام یوسفؒ وایي چي قضا به راوړي .

سوال:......

که یو روژتي روژه په هېره وخوړه بل سړي ورته وکتل چي دده خو روژه هېره نه وه کتونکي ته څه کول پکار دي خبر یې کړي او که نه؟

جواب:......

"رجل نظر إلى صائم يأكل ناسيا ان رأى فيه قوة يمكنه ان يتم الصوم إلى الليل فالمختار ان لا يذكره وان كان يضعف في الصوم بأن كان شيخا كبيرا يسعه ان لا يخبره"(كذا في الظهيرية في فصل الاعذار المبيحة ـ هندية / ج: ١ / ص: ٢٠٢)

خلاصه دا سوه چي که روژتي روژه په هېره خوړه بل چا ورته وکتل نو روژتي ته دي گوري که قوي وو خبر دي کړي او که ضعیف وو نه دي خبروي .

سوال:......

که یو روژتي یو شی وڅکی او خوند او بوی یې تر حلقه ورسېدئ نو روژه یې ماتیږي که نه؟

جواب:...... "اى لو ذق دواء فوجد طعمه فى حلقه زيلعى وغير و فى القهستانى طعم الادوية و ريح العطر إذا وجد فى حلقه لم يفطر كما فى المحيط "(رد المحتار / ج: ٢ / ص: ١٠٧)

خلاصه دا سوه چي په خوند کتلو د شي چي خوند یا بوی تر حلقه

ورسيږي روژه نه په ماتيږي .

سوال :......

که يو روژتي د سهار په حالت کي کوروالى کوله، سپېدې ورباندي را وختې نو روژه يې څنګه کيږي ماته ده کنه، قضا ورباندي راځي او که کفاره؟

جواب :......

"وكذا عند طلوع الفجر وان امنى بعد النزع لأنه كالاحتلام ولو مكث حتى أمنى ولم يتحرك قضى فقط وان حرك نفسه قض وكف كما لو نزع ثم اولج "(الدر المحتار على هامش رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۰۸)

خلاصه دا سوه چي که سړي کوروالي کوله سپېدې ورباندي را وختې که يې فوراً ځان ايسته کړو بيا بې غسله سو، شى هم نه راځي، دا لکه احتلام داسي دى او که ځنډ په کي وکړ حرکت يې نه کوى بې غسله سو نو قضا راځي او که يې حرکت کوى بې غسله سو نو کفاره راځي .

سوال :......

که يو سړي په خطا سره روژه ماته کړه.مثلا او دس يې کاوه او به ځيني تېري سوې يا يې د خوب په حالت او به وچښلې يا يې پېشلمى کاوه دده خيال داوو چي سپېدې نه دي راختلي مګر غه ختلي وې او يا بل چا په زور په خوله کي او به ور واچولې نو اوس قضا راځي او که کفاره؟

جواب :......

"وان افطر خطأ كان تمضمض فسبقه الماء او شرب نائما او تسحرا او جامع على ظن عدم الفجر اوجر مكرها اونائما "(رد المختار على هامش رد

Maktaba Tul Ishaat.com

المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۱۰ إلى ۱۱۱ ـ هكذا فى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۲ ـ المخطئ هو ذاكر للصوم غير قاصدا الخ) خلاصه دا سوه چي په مذكوره شيانو سره قضا راځي فقط نه كفاره .

سوال :......

د روژتي ناړي د خولې څخه را وبهيدې تر زني را ورسيدې خو قطع نه سو بيرته يې كش كړې تېري يې كړې نو روژه ماتيږي كه نه؟

جواب : ...... "ولو سال لعابه من فيه إلى ذقنه من غير ان ينقطع من داخل فمه ثم رده إلى فيه "

سوال :......

كه يو سړي داختر په ورځ نفلي روژه ونيوله بيا يې قصدا ماته كړه نو قضا ورباندي راځي او كه كفاره؟

جواب :......

"قوله وجب القضاء فى غير الايام الخمسة الآتية و هذا راجع إلى قول قضاء و الايام الخمسة ايام العيدين و ايام التشريق"(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۳۱)

خلاصه دا سوه چي په ورځو داختر كي يا په ورځو د ايام التشريق كي چا نفلي روژه ونيوله بيا يې قصدا ماته كړه نه قضا راځي نه كفاره .

سوال :......

كه روژتي گوله په خوله كي وه سپيدې ورباندي را وختې گوله يې تېره كړه نو قضا راځي او كه كفاره؟

جواب : ...... "ولو ابتعلها قبل اخراجها كفر و بعده لا "(رد المختار عليه هامش

رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۰۸ ـ هذا في هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۳) و ان ابتعلها قبل ان يخرجها فعليه الكفارة و ان اخرجها ثم اعادها لا كفارة عليه و هو الصحيح كذا في فتاوى قاضيخان ـ

د مذکوره عباراتو څخه معلومه سوه چي که يې اولاً تېره کړه نو کفاره راځي او که يې راویسته بيا يې تېره کړه کفاره نه راځي .

سوال:......

په ستن روژه ماتيږي که نه؟

جواب:......

"والمفطر انما هو الداخل من المنافذ للاتفاق على من اغتسل في ماء فوجد برده في باطنه ان لا يفطر و انما كره الإمام الدخول في الماء والتلفف بالثوب المبلول لما في من اظهار الفجر في اقامة العبارة لا لأنه مفطر اهـ "(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۰٦ ـ فتاوى حقانية / ج: ۳ / ص: ۳۹۷ ـ هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۳ ـ بحر الرائق / ج: ۲ / ص: ۲۷۹ ـ العناية على هامش فتح القدير / ج: ۲ / ص: ۲٦٦ ـ خلاصة الفتاوى / ج: ۱ / ص: ۲۵۳ ـ تتارخانية / ج: ۲ / ص: ۳٤۵ ـ بحر الرائق / ج: ۲ / ص: ۲۵۹ ـ بدر الفتاوى / ج: ۱ / ص: ۷۱ ـ كفايت المفتى / ج: ٤ / ص: ۳۳۳ ـ ۳۳۵)

د مذکوره کتابو څخه معلومه سوه چي په ستن روژه نه ماتيږي که د غوښي وي او که د رګ وي .

"و ابتلعه لا يفطره لأنه لا يتم الخروج بخلاف ما إذا انقطع كذا في الظهيرية في المقطعات "(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دا سوه چې په مذکوره صورت کې که ناړې د خلوې څخه نه وې پرې سوې بیا یې تېرې کړې نو یو شی هم نه لازمیږې او که پرې سوې وې بیا یې تېرې کړې نو قضا لازمیږې .

سوال :......

که یو روژتې یو ظالم مجبور کړې پر جماع نو یې جماع وکړه اوس قضا راځې او که کفاره؟

جواب :......

"و اعلم ان اباحنیفةؒ کان یقول اولاً فی المکره علی الجماع علیه القضاء والکفارة لأنه لا یکن الا بانتشار الآلة وذلك امارة الاختیار ثم رجع و قال لا کفارة علیه و هو قولهما لأن فساد الصوم یتحقق بالایلاج و هو مکره فیه مع انه لیس کل من انتشرت آلته بجامع مثل الصغیر والنائم "(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۱۱)

خلاصه دا سوه چې په مذکوره صورت کې قضا راځې فقط نه کفاره .

سوال :......

که یو روژتې په روژه کې په هېره سره خورک یا چنبل یا جماع وکړه نو په دې خبر وو چې هېره روژه نه ماتیږې بیا یې خوراک په قصد سره وکړ نو اوس قضا راځې او که کفاره راځې؟

جواب :......

"لو اکل او شرب اوجامع ناسیا و ظن ان ذلك فطره فاکل متعمد لا کفارة علیه وان علم ان صومه لا یفسد بالنسیان عند ابی حنیفةؒ لا تلزمه هو الصحیح هکذا فی الخلاصة الهندیة (ج ۱ / ص: ۲۰٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

و فی رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۱۱۱ الا فی مسئلة المتن و هی ما لو اکل و کذا لو جامع اوشرب لأن علة عدم الکفارة خلاف مالك وخلاف فی الاکل والشرب والجماع کما فی الزیلعی و الهدایة و غیرهما"

خلاصه دا سوه چي په مذکوره صورت کي قضا راځي او کفاره نه راځي .

سوال :......

که يو سړی په روژه کي سګريټ وڅکوی نو کفاره راځي او که قضا؟

جواب :...... "تلا علاء الدین ولو دخل الغبار اوالدخان او الرائحة فی حلقه لم یفطر وان ادخله حلقه متعمداً روی عن ابی یوسف انه ان تعمد علیه القضاء و لا کفارة علیه بدائع الصنائع (ج۲ / ص: ۹۰، کتاب الصوم فصل رکنه .

قال عبد الرحمن الجزائری شرب الدخان المعروف و تناول الافیون والحشیش ونحو ذلك فان الشهوة فیه ظاهرة "(الفقه علی مذاهب الأربعة / ج: ۱ / ص: ۵۶۰۔ و مثله فی رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۴۱۰، کتاب الصوم ۔

د مذکوره عباراتو څخه معلومه سوه چي د سګريټ په څکولو سره قضا راځي او کفاره نه راځي .

سوال :......

نسوار اچول خولي ته روژه ماتوي او که يې نه ماتوي، که چيري روژه ماتوي قضا لازموي او که کفاره؟

جواب :......

"قال العلامة ابن عابدین اختلفوا فی معنی التغذی قال بعضهم ان یمیل الطبع إلی اکله و تنقضی شهوة البطن به و قال بعضهم هو ما یعود نفعه إلی صلاح البدن و فائدته فیما إذا مضغ لقمة ثم اخرجها ثم ابتلعها فعل الثانی

Maktaba Tul Ishaat.com

یکفر لا علی الاول و بالعکس فی الحشیش لأنه لا یقع فیها للبدن و ربما تنقص عقله و یمیل الطبع الیها و تنقضی بها شهوة البطن "(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ٤١٠، کتاب الصوم)

قال شیخ الاسلام ابی بکر بن علی قوله و من ابتلع الحصاة والحد افطر و لا کفارة علیه ذکره بلفظ الابتلاع لا المضغ لا ینافیه و انما افطر لوجود صورة الفطر و لا کفارة علیه لعد المعف و هو قضا شهوة البطن ـ (الجوهرة النیرة / ج: ۱ / ص: ۱۷۱ ـ فصل فیما یفسد الصوم و مثله فی مراقی الفلاح علی صدر الطحطاوی / ص: ۳٦۱ ، باب فی بیان ما لا یفسد الصوم۔

خلاصه دا سوه چې په نسوارو روژه ماتیږي . قضا لازموي نه کفاره ځکه نسوار که څه هم دیو چا عمل وي خو طبیعت کي خوراک نه قبلوي . او ترخې لانې ئې تیریږي

سوال:......

که یو سړی غیر د رمضان نفلي یا قضا فرضي یا نذري روژه ماته کړه نو قضا لازمیږي او که کفاره؟

جواب:......

"ولا کفارة بافساد صوم غیر رمضان کذا فی الفتاوی الهندیة / ج: ۱ / ص: ۲۱۵ ـ کناب الصوم باب المتفرقات"

قال العلامة برهان الدین المرغینانیؒ ان الکفارة تعلقت بجنایت الافطار فی رمضان علی وجه الکمال الهدایة / ج: ۱ / ص: ۲۱۹ باب ما یفسد الصوم الخ و مثله فی فتاوی قاضیخان / ج: ۱ / ص: ۱۰۳ ـ الفصل الخامس فیما یفسد الصوم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دا سوه چي كفارة په ماتولو د رمضان سره راځي نه په ماتولو د نورو روژو .

سوال :......

كه يو سړي يا يوې ښځي په غلطي سره روژه وخوړله مثلا يو سړي ښايسته ښځي ته وكتل انزال سو يا يو ښځي ته په ورځو د طهر كي وينه راغله نو د دوى گمان داسو چي روژه مومات سوه نو بيا په قصد سره خوراک او څښاک وكړ نو قضا راځي كه كفاره؟

جواب :...... ”قال طاهر بان احمدؒ ولو نظر إلى محاسن المرأة فانزل فظن ان ذلك فطره فاكل بعد ذلك فهو كالقى و قد ذكرنا حكمه و قال البعض ان كان عالما عليه القضاء و الكفارة عند الكل و ان كان جاهلا عليه القضاء دون الكفارة“(خلاصة الفتاوى / ج: ۱ / ص: ۲۵۹ ۔ كتاب الصوم الفصل الثالث فيما يفسد الخ)

خلاصه دا سوه چي په غلطي سره كه انسان روژه وخوړ د قضا راځي او كفاره نه راځي .

سوال :...... كه مريض او مسافر په حالت د سفر او مرض كي مړه سي نو د روژې فديه وركول لازم دي او كه نه؟

جواب :...... ”لما قال العلامة الحصكفيؒ و للشيخ الفانى العاجز عن الصوم الفطر و يفدى وجوبا لو موسراً و الا يستغفر الله قال ابن عابدينؒ قوله والا يستغفر الله هذا ذكره فى الفتح والبحر عقيب مسئلة نذر الابدى إذا اشتغل عن الصوم بالمعشية و الظاهر انه راجع اليها دون ما قبلها من مسئلة الشيخ الفانى لأنه لا تنصير منه بوجه “(رد المحتار / ج: ۲ / ص: ۴۲۷ . فصل فى العوارض)

Maktaba Tul Ishaat.com

قال العلامة ابو البركات النسفیؒ وللشیخ الفانی وهو یفدی فقط قال ابن نجم تحته وان لم یقدر علی الاطعام لعسرته یستغفر اللّٰه ۔ (البحر الرائق / ج: ۲ / ص: ۲۸٦ ۔ کتاب الصوم فصل فی العوارض ۔)

خلاصه دا سوه چې مریض په مرض کې مړ سي او مسافر په سفر کې مړ سي نو فدیه د روژو یې نه ده لازمه .

سوال :......

د کفارې روژې پر له پسې نیول غواړي لهذا که پر ښځه کفاره لازمه سي نو حیض اتصال باطلوي که نه؟

جواب :......

"قال العلامة شمس الدین السرخسیؒ فان کانت المرأة فافطرت فیما بین لذلك للحیض لم یکن علیها استقباله مبسوط سرخسی (ج۳ / ص: ۸۱) کتاب الصوم ۔

قال ابن نجیم وکذا فی کفارة القتل والظهار للنص لأنها لا تجد شهرین عادة لا تحیض فیهما لکنها إذا تطهرت تصل بما ما مضی فان لم تصل استقبلت (البحر الرائق / ج: ۲ / ص: ۲۷۷۔ باب الصوم ومثله فی فتاوی قاضیخان / ج: ۱ / ص: ۱۰٦ ۔ الفصل الخامس فیه ما یفسد الصوم)"

خلاصه دا سوه چې حیض اتصال نه باطلوي مګر چې څنګه زنانه تر مرض څخه صفا سوه فوراً په روژې شروع کوي که یې ځنډ په کې وکی نو به د سره شروع بیرته په کوي .

سوال :......

په کفاره کې تداخل راځي او که نه راځي او که نه راځي .

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :......

"قال العلامة الحصكفیؒ ولو تكرر فطره و لم يكفر للاول يكفيه واحدة و لو فی رمضانين عند محمدؒ و عليه الاعتماد بزازية و مجتبى و غيرهما و اختار بعضهم للفتوى ان الفطر بغير الجماع تداخل و الا لا ۔ الدر المختار علی صدر رد المحتار (ج ۲ / ص: ۴۱۳) كتاب الصوم مطلب فی الكفارة ۔

قال ابن نجيمؒ و لو جامع مرارا فی ايام من رمضان واحد و يكفر كان عليه كفارة واحده لأنها شرعت للزجر و هو يحصل بواحدة فلو جامع و كفر ثم جامع مرة اخر فعليه كفارة اخرى فی ظاهر الرواية للعلم بان زجر لم يحصل بالاول ولو جماع فی رمضانين فعليه كفارتان و ان لم يكفر للاولی فی ظاهر الرواية و هو الصحيح البحر الرائق (ج ۲ / ص: ۲۷۷) باب ما يفسد الصوم و ما لا يفسده ۔ و مثله فی بدائع الصنائع (ج ۲ / ص: ۱۵۱) كتاب الصوم فصل فی حكم فساد الصوم "

خلاصه دا سوه چي د يوې مياشتي په روژه کي تداخل سره راځي که يې اول کفاره نه وه ادا کړې او د دوو مياشتو تداخل نه سره راځي که يې څه هم اوله نه وي نيولې .

سوال :......

که نر يا ښځه پر زنا يو چا مجبور کړل اوپه روژه کي يې زنا وکړه نو اوس کفاره راځي او که قضا؟

جواب :......

"قال العلامة طاهر بن احمدؒ وان كانت المرأة مكرهة فعليها القضاء دون الكفارة و لو كان الرجل مكرها على الجماع فعليه الكفارة فی قول ابی حنيفةؒ

Maktaba Tul Ishaat.com

الاول ثم رجع و قال عليه القضاء دون الكفارة و هو قولهما و عليه الفتوى"(خلاصة الفتاوى / ج: ۱ / ص: ۲۵۹ كتاب الصوم الفصل الثالث فيما يفسد الصوم)

خلاصه دا سوه چې په مذکوره صورت کفاره نه لازميږي او قضا لازميږي .

سوال:......

که يو روژتي د حيوان سره بدفعلي وکړي نو قضا راځي او که کفاره؟

جواب:......

" قال العلامة قاضيخان وكذا إذا جامع بهيمة و لم ينزل او ميتة ولم ينزل الخ و ان انزل في هذه الوجوه كان عليه القضاء دون الكفارة "(فتاوى قاضيخان / ج: ۱ / ص: ۱۰۰ ـ الفصل الخامس فيما لا يفسد الصوم)قال عالم ن العلاء رحمه الله ولو جامع ميتة او بهيمة فلا كفارة عليه انزل اولم ينزل .(فتاوى تتارخانية / ج: ۲ / ص: ۳۷۱ ، كتاب الصوم الفصل الرابع فيما يفسد لصوم و مثله في الشامي / ج: ۱ / ص: ۳۹۹ ، كتاب الصوم مطلب في حكم استمناء بالكف)

خلاصه دا سوه چې په مذکوره بدفعلي سره قضا راځي او کفاره نه راځي والله اعلم .

سوال:......

که يو روژتي په رمضان کي د باران څاڅکي سهر کړي يا او مه غوښه يا واز که يا عملي سړی د ختيه وخوري نو قضا راځي او که کفاره راځي؟

جواب:...... نور الايضاح متن مراقي الفلاح طحطاوي / ج: ۱/ ص: ۲۳

Maktaba Tul Ishaat.com

داسي ليكلي دي چي په دې صورت كې كفاره راځي .

سوال :

يو روژتي ارمږۍ وكښه خوله يې وازه كړه سر يې پورته كړو خو په خوله كي د ترناوې او به ورولوېدې تېرې يې كړې نو روژه يې ماته ده او كه نه؟

جواب :......

"لو تناوب فرفع رأسه فوقع فى حلقه قطرة ماء انصب من ميزاب فسد صومه هكذا فى الراج الوهاج هندية (ج ۱ / ص: ۲۰۳)"

خلاصه دا سوه چي دا روژه ماته سوه قضا به راوړي .

سوال :......

يو سړی په رمضان كي تر لمر لوېدو مخكي دا نيت وكړي چي سبا به روژه نسم خو مابنام بيده سو يا بې هوښي ورباندې راغله او سبا تر زوال وروسته له خواب راكښېنوست يا له بې هوښي څخه خلاص سو نو اوس دده روژه صحيح كيږي كه نه؟

جواب :......

"اذا نوى فى رمضان قبل ان تغيب الشمس ان يصوم غداً فنام او اغمى عليه او غفل عن الصوم حتى زالت الشمس من الغد لم يكن صائم فى الغد الا ان ينوى بعد غروب الشمس ان يصوم غداً "(البزازية على هامش هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۲)

خلاصه دا سوه چي نيت قبل الغروب نه دی معتبر او بعد الغروب بيا معتبر دی نو په مسئوله صورت كي د سړی نه دی روژتي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال :......

يـو كـافـر مسـلـمان سو بيا يې روژه ونيوله خو د كور د انسانانو د ويري له وجهي يې وخوړه ځكه هغه نه دي مسلمانان ، نو اوس پر دې سرې قضا راځي او كه كفاره؟

جواب :......

"اذا اكل متعمداً ما يتغذى به او تدوى به يلزمه الكفارة "(الفتاوى الهندية / ج: ۱ / ص: ۲۰۵ ، كتاب الصوم الباب الرابع)

قال العلامة قاضي خان إذا اكل متعمداً ما يتغذى به او يتدوى به كالخبز و الاطعمة والاشربة اولادهان اولبان عليه الكفارة عندنا۔ (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية / ج: ۱ / ص: ۳۱۲، الباب في ما يفسد الصوم الخ و مثله في خلاصة الفتاوى / ج: ۱ / ص: ۲٥٦۔ الفصل الثالث في ما يفسد الصوم الخ)

خلاصه دا سوه چې پر دې سړي د ويري له وجهي په روژه خوړلو كفاره راځي .

سوال :......

كه د روژتي او ښكي خولې ته ولاړې او تېرې يې كړې روژه په ماتيږي او كه نه؟

جواب : ......

"الدموع إذا دخلت فم الصائم ان كان قليلا كالقطرة والقطرتين اونحوهما لا يفسد صومه وان كان كثيرا حتى وجد ملوحته في جميع فمه و اجتمع شيئ كثير فابتلعه يفسد صومه"(هنديه / ج: ۱ / ص: ۲۰۳)

خلاصه دا سوه چې په يو دوه څاڅكو روژه نه ملنهږي او كه چيري وي

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا روژه ماتوي .

سوال :......

کـه یو روژتي انسان بل انسان لکه کور والا یا بله انجلۍ یا هلک مچ کړي او انزال سو نو روژه يې ماته ده او که نه؟

جواب :...... **"و إذا قبل امرأته و أنزل فسد صومه كذا فى فتح القدير و كذا فى تقبيل الامة و الغلام الخ** "(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰٤)

د مـذکـوره عبـاراتـو څـخـه مـعـلـومـه سوه چي په دغه انسان چي بل مچ کړي او انزل سي قضا راځي روژه يې ماته ده .

سوال :......

کـه یـو روژتي انسان حیوان مچ کړي او انزل سي نو روژه يې ماته ده او که نه؟

جواب :......

"ولو قبل بهيمة فانزل لا يفسد كذا فى المحيط "(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰٤)

خلاصه دا سوه چي پر دغه سړي شی هم نه راځي .

سوال :......

یـو سړي پـه روژه کي د دبر له خوا دوا وکړه یا د پزي له خوا یا يې په غوږو کي دوا واچوله نو روژه يې ماتیږي او که نه؟

جواب :......

" ومـن احتقن او استعط او اقطر فى اذنيه دهنا افطر ولا كفـارة عليه هكذا فى الهداية "(هندية / ج: ۱ / ص: ۲۰٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دا سوه چې په مذکوره شیانو سره روژه ماتیږي قضا سته او کفاره نسته .

سوال:.....

ډېري زناني د ستن او سپنسي کار کوي دا ستن او سپنسی په خوله نسي نو رنګ وزي ناړي یې ددغه سپنسي په رنګ سرې یا ژړي سي او دا ناړي تېروي روژه په ماتیږي کنه ؟

جواب:......

"صائم عمل عمل الابریشم فادخل الابریشم فی فیه و خرجت منه خضرة الصبغ او صفرة او حمرة و اختلط بالریق فصار الریق اخضر او اصفر او احمر فابتلعه و هو ذاکر صومه فسد صومه هکذا فی الخلاصة"(هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۰۳)

خلاصه دا سوه چې په دې صورت کې روژه ماته سوه قضا به یې راوړي .

سوال: .....

که د روژتي په خوله کي د باران څاڅکي یا ږلی ولوېږي روژه په ماتیږي که نه؟

جواب:

"والمطر والثلج إذا دخل حلقه یفسد صومه و هو الصحیح کذا فی الظهیریة"(هندیة / ج: ۱ / ص: ۲۰۳)

خلاصه دا سوه چې که د باران څاڅکي یا ږلی د روژتي انسان تېر سول روژه یې ماته ده قضا به راوړي .

سوال:...

Maktaba Tul Ishaat.com

که چیري یو ښځې ته تر صبح صادق وروسته مرض راسي نو پر ښځه امساک ضروري دی که نه؟

جواب :......

"قال العلامة ابی بکر بن عليّ و إذا حاضت المرأة افطرت و قضت و كذا إذا نفست و هی تأكل سراً او جهراً و لا يجب عليه الشبة"(الجوهر النيرة / ج: ١ / ص: ١٧٧ ـ كتاب الصوم ـ ومثله فی الهندية / ج: ١ / ص: ٢٠٧ ـ كتاب الصوم ، الباب الخامس فی الاعذار الخ)

خلاصه دا سوه چي امساک یعني خوراک نه کول ضروري نه دي بيا هم نوموړي انسان لره په پټه خوراک او څښاک کول ښه کار دی .

سوال :......

که چيري څوک د فشار يا بلډپرېشر يا ددې په شان په سختو مرضونو اخته وي نو ده لره د روژې خوراک جائز دی که نه؟

جواب :......

" قال العلامة عبد الرحمن الجزائريّ الاعذار التی تبيح الفطر للصائم كثيرة منها المرض فاذا مرض الصائم و خاف زيادة المرض بالصوم او خاف تأخير البرء من المرض او حصلت له مشقة شديدة بالصوم فانه يجوز له الفطر "(فقه علی مذاهب الأربعة / ج: ١ / ص: ٥٧٢)

خلاصه دا سوه چي و دې مريض ته د روژې خوراک جائز دی .

سوال :......

که يو سړی د شوکر به بيماري اخته وي يا بله سخته بيماري نو دا شخص فديه ور کولای سي او که نه؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :......

"قال العلامة الكاسانیؒ و اما وجوب الفداء فشرطه العجز عن القضاء عجز الا ترجی معه القدرة فی جميع عمره "(بدائع الصنائع / ج: ۲ / ص: ۱۰۵ ، كتاب الصوم فصل فی حكم الصوم الموقت و مثله فی البحر الرائق / ج: ۲ / ص: ۲۸۱ ، فصل فی العوارض)

خلاصه دا سوه چي كه مريض اميد د جوړېدو وو بيا دي فديه نه ادا كوي كه چيرته جوړ سو بيا دي قضا راوړي او كه چيري جوړ نه سو بيا دي وصيت وكړي فديه دي ادا كړي .



Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب الحج

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ الْاِنْسَانَ وَعَلَّمَهٗ وَ فَصَّلَ كُلَّ مَا شَرَعَهٗ وَ اَحْكَمَهٗ اَحْمَدُهٗ سُبْحَانَهٗ وَ اَشْكُرُهٗ عَلٰى مَا اَوْلَاهُ مِنْ جَزِيْلِ نِعَمِهٖ وَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ شَهَادَةَ مَنْ وَحَّدَ رَبَّهٗ وَ عَظَّمَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهُ الَّذِیْ اصْطَفَاهُ لِلرِّسَالَةِ وَ كَرَمِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ عَلٰى اَصْحَابِهٖ وَ مَنِ اتَّبَعَ شِرْعَةِ الْمُطَهَّرِ وَ قَدَّمَهٗ۔

باب دی په دعاوو د حج کي تلبیه

لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَ النِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ ۔

دعا په وخت کي د داخلېدو و ښار ته د مکې

اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا الْحَرَمَ حَرَمُكَ وَ الْاَمْنُ اَمْنُكَ وَ الْعَبْدُ عَبْدُكَ جِئْتُكَ مِنْ بِلَادٍ بَعِيْدَةٍ بِذُنُوْبٍ كَبِيْرَةٍ وَاَعْمَالٍ سَيِّئَةٍ عَظِيْمَةٍ اَسْئَلُكَ مَسْئَلَةَ الْمُشْفِقِ مِنْ عَذَابِكَ اَنْ تَسْتَقْبِلَنِیْ بِمَحْضِ عَفْوِكَ وَ اَنْ تُدْخِلَنِیْ فِیْ جَنَّةِ النَّعِيْمِ وَاجْعَلْ لِّیْ بِهَا قَرَاراً وَّ ارْزُقْنِیْ فِيْهَا رِزْقًا حَلَالًا يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ۔

دعا په وخت کي د لیدو د کعبې

اَللّٰهُمَّ زِدْ بَيْتَكَ هٰذَا تَشْرِيْفًا وَتَعْظِيْمًا وَتَكْرِيْمًا وَبِرًّا وَمَهَابَةً وَ زِدْ مِنْ شَرَفِهٖ وَ عَظَمِهٖ مِمَّنْ حَجَّهٗ اَوْ اِعْتَمَرَهٗ تَعْظِيْمًا وَ تَشْرِيْفًا وَتَكْرِيْمًا وَ بِرًّا وَ مَهَابَةً۔

د طواف دعا

Maktaba Tul Ishaat.com

اَللّٰهُمَّ اِيمَانًا بِكَ وَتَصْدِيقًا بِكِتَابِكَ وَ وَفَاءً بِعَهْدِكَ وَ اِتِّبَاعًا لِسُنَّةِ نَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔

د رکن یماني او حجر اسود په مابین کي دعا

رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ۔

د ملتزم شریف دعا

اَللّٰهُمَّ يَا رَبَّ الْبَيْتِ الْعَتِيقِ اَعْتِقْ رِقَابَنَا وَ رِقَابَ اٰبَائِنَا وَ اُمَّهَاتِنَا وَ اِخْوَانِنَا وَ اَوْلَادِنَا مِنَ النَّارِ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ۔

دصفا او مروا دعا

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيكَ لَهٗ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَ يُمِيتُ وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيرٌ رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَ تَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَكْرَمُ۔

د هدیې د ذبح دعا

بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُمَّ هٰذَا مِنْكَ وَلَكَ اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّيْ۔

د مقام ابراهیم دعا

اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ تَعْلَمُ سِرِّيْ وَ عَلَانِيَتِيْ فَاقْبَلْ مَعْذِرَتِيْ وَ تَعْلَمُ حَاجَتِيْ فَاَعْطِنِيْ سُؤَالِيْ وَ تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ فَاغْفِرْلِيْ ذُنُوبِيْ۔

د زم زم د اوبو دعا

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَ رِزْقًا وَاسِعًا وَ شِفَاءً كَامِلًا مِنْ كُلِّ دَاءٍ وَ سَقَمٍ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ۔



Maktaba Tul Ishaat.com

مقدمه

په توبه د نصوحا(اخلاص) او آدابو
د حاجي او اخلاص کي

سوال: حاجي به څنګه توبه کاږي او توبه پر څو قسمه ده؟
جواب: الله (ج) وايي: ﴿يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا تُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَصُوْحًا﴾ (الاية: التحريم:۸)
ژباړه: (اې هغو کسانو چي تاسي ايمان راوړی دی توبه وکاږئ الله ته په خالص توبه سره)

توبه پر پنځه قسمه ده:

۱. هغه حقوق چي ستا او د الله (ج) په مابين کي دي لکه د لمانځه پرېښودل يا روژه خوړل يا زکات نه ورکول او داسي نور، د دې شيانو توبه داسي ده چي هر شی در څخه پاته سوی وي د هغه به قضا راوړې. که څه هم هر څو نه لمنځونه وي، او که دي روژه خوړلې وه د هغې به هم قضا راوړې او که دي زکات خوړلی وو هغه به هم ادا کوي او استغفار به وايي له الله (ج) څخه به بخښنه غواړي او ټينګه اراده به د دې کوي چي بيا يې نه کوم.

۲. توبه له هغو شيانو ده چي موږ الله (ج) ور څخه منع کړي يو، لکه شراب خوړل، زنا کول، قمار کول او داسي نور، د دې شيانو توبه داسي ده چي استغفار به په خوله غواړي او پر کړي عمل به په زړه کي پښېماني کوي، او ټينګه اراده به کوي چي بيا يې نه کوم.

۳. توبه د هغه ظلم ده چي تا له نورو سره کړي وي لکه غلا دي ځيني

کړي وي، رشوت دي ورڅخه اخیستی وي یا دي په زور مال ځیني وړی وي، د دې توبه دا ده چي اول به د ده حق ورکوي او بیا به معافي ځیني غواړي راضي کوې به یې، او که هغه مړ وو بیا به یې وارثانو ته ورکوي یا یې هغه چا ته ورکوي چي ده وصیت ورته کړی وي .

۴ . توبه له هغو ظلمونو څخه ده چي خاوندیې نه وي معلوم ، یا یې نه پېژني یا مړوي قریب او وارث نلري یا نه وي در معلوم ، د دې توبه دا ده چي هغو نه مال به چي ناپرده ظلم کړی دی د ده په نیت خیرات کړي، چي الله (ج) یې و ده ته ثواب ور ورسوي، او ستغفار بهووایي الله (ج) به دي توبه قبوله کړي انشاء الله تعالی .

۵ . توبه له هغو شیانو څخه ده لکه غیبت، وهل یا بنکنځل کول، نو د دې گناهو توبه داسي ده چي که چیري هغه مظلوم مړ وو یا غائب وو نو د ده لپاره له الله (ج) څخه بخښنه وغواړه یعني د ده په حق کي اللهم اغفره ډېر واره ووایه، نو امید سته چي الله (ج) دي ستا مظلوم له تا څخه راضي کړي او که ژوندی وو نو بیا معافي ځیني وغواړه یعني دا ورته ووایه چي ما ته ستا ټول حقوق چي پر ما دي را وبخښه نو که دي معافي در ته وکړي الله (ج) به ستا توبه قبوله کړي ان شاء الله تعالی .

او اخلاص به یې خالص د الله (ج) لپاره وي او نیت به یې له ریا، نام او نښان څخه خالص او پاک وي، که یې په نیت کي نام او نښان عزت یا بل غرض وو نو حج نسو نه عبادت سو بلکي گناه سوه .

سوال:

: پر حاجي د خپل عیال نفقه واجب ده که نه؟

جواب: هو دومره باندي واجب ده چي څو دي بیرته خپل کور ته راځي . (۱) .

سوال:

حاجي د مور او پلار، ښځې او اولاد او پوروړي بې اجازې نفلي حج ته تللی سي او که نه؟

۱: ارشاد الساري ص ۳ .

جواب: که مذکور کسان د ده خدمت ته محتاج وو یا د ده[۱] پر ضائع کېدو وېرېدل، لار خطرناکه وه بیا نسي تللی، او له پوروړي به اجازه اخلي، که مور او پلار نه وو بیا نیکه ګان او اناګاني داسي دي لکه مور او پلار .[۲]

سوال:

کوم شیان حاجي ته مستحب او ښه کار دی چي و یې کړي؟

جواب :

۱ . مشوره کول له دینداره باوري پوه سړي سره، د لاري او ملګرو په حق کي، نه په نفس حج کي .

۲ . استخاره کول .

۳ . د لمانځه تعلیم کول .

۴ . د حج او مناسکو زده کول .

۵ . له تجارت څخه زړه او نیت صفا کول، که یې تبعا وکړي پروا نلري .

٦ . د ښه عالم صالح زاهد یا پوه ملګري طلب کول .

سوال:

حاجي به کوم شیان له ځان سره وړي؟

جواب: ۱ . رانجه ۲ . هنداره ۳ . ږمونځ ۴ . ستن ۵ . ګوړی ګیلټ ٦ . مسواک ۷ . غنچي ۸ . چاړه ۹ . همسا، لکړه ۱۰ . توښه، خرچه . ۱ .خلاصة ارشاد الساري ص۳ ۲. .خلاصة ارشاد الساري ص۳ .

سوال:

حج ته تک په پښو افضل دي که په سپرلۍ؟
جواب: افاقي او لري خلکو ته په سپرلۍ افضل دي او د مکې او شا وخوا د مکې خلکو ته په پښو افضل دي.

سوال:
کوم درود پر رسول الله ﷺ باندي افضل دي؟
جواب: افضل او بهتر درود دا دي: (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ، اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۔)

سوال:
لوی او جامع حمد کوم حمد دی؟
جواب: لوی او جامع حمد او تسبیح چي حاجي به يې سهار او مابنام درې درې واره وايي دادي (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ حَمْدًا يُّوَافِيْ نِعَمَهٗ وَيُكَافِيْ مَزِيْدَهٗ) بابا آدم علیه السلام ته هم الله ج دغه حمد ور ونبودی چي کله يې د ه طلب وکړ. ۱. خلاصة ارشاد الساري ص۴ ۲. خلاصة ارشاد الساري ص۴ ۳. خلاصة ارشاد الساري ص۵.

سوال:
احسن الثناء کومه ثناء ده؟
جواب: ښه او ښایسته ثناء دا ده (اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَاَعُوْذُ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ اَعُوْذُبِكَ مِنْكَ لَا اُحْصٰى ثَنَاءً عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ) اخرج مسلم

سوال:
ندا د ابراهیم علیه السلام کومه ندا او اواز وو؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ إِلَى بَيْتِ الْعَتِيْقِ﴾ دغه د ابراهيم عليه السلام اعلان او نداوه چي د ځمكي او اسمانو ټولو مخلوقاتو واوريدى.

سوال:

حج كوم وخت فرض سو؟

جواب: حج له هجرته وروسته شپږم يا اووم يا اتم يا نهم كال فرض سو، تر دې مخكي مستحب وو، قال الله تعالى: ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلاً﴾ (آل عمران :٩٨) ١. خلاصة ارشاد الساري ص٧. ٢. ارشاد الساري ص٩.

دغه آيت كريمه له هجرت وروسته په مدينه منوره كي نازل سوى دى.

سوال:

: حج پر مخكنيو امتو باندي واجب وو كه مستحب؟

جواب: پر انبياؤ عليهم السلام باندي واجب وو او پر امتيانو باندي مستحب وو.

سوال:

بابا آدمؑ چي حج وكړ ملائكو څه ورته وويل؟

جواب: ملائكو ورته وويل چي ستا حج نيک او مبرور دى، موږ له تا څخه مخكي حج كړى دى.

قال: رسول الله ﷺ د هجرت په څووم كال حج وكړ؟

جواب: په لسم كال او ابو بكر صديقؓ د هجرت په نهم كال ج كړى دى، د هجرت په اتم كال عتاب بن اسيدؓ په خلكو حج وكړ.

سوال:

رسول الله ﷺ تر هجرت مخكي څو حجونه كړي دي او وروسته يې څو

حجونه كړي دي؟

جـواب: تـر هـجـرت مخكي يې دري حجونه كړي دي او تر هجرت روسته يې يو حج كړى دى .١. ارشاد الساري ص١٠

سوال:

رسول الله ﷺ څو عمرې كړي دي او په كومه مياشت كي يې كړي دي؟

جـواب: رسـول الله څلور عمرې كړي دي او ټولي يې د ذى القعدې په مياشت كي كړي دي .

سوال:

روافض او خوارج څه فرق سره لري؟

جـواب: روافـض د رسـول الله ﷺ لـه احبابـو سره چي هغـه ټول اصحاب دي بغـض لـري مـاسـوا لـه عـمـار بـن يـاسرؓ او اباذرؓ او خوارج له عليؓ سره بغض لري .

سوال:

مكه ولي بكه بولي؟

جـواب: مكه او بكه په يوه معنا دي خالي ميم په باء بدل سوى دى لكه ضرب لازم ضـزب لازب ، يا بـكـه عيـن بيتـه ده مـكـه شاوخوا د بيتې ده ، يا بكـه تـكـولـو او وهـلـو تـه وايي نو په مكه معظمه كي هم د جبابرو و غاړي تـكول كيږي ، ځكه په طواف كي رمل دى په رمل كي ايهام المشركين دى د مسلمانانو زور ، قوت او كثرت هم دلته كفار ويني .

سوال:

مكه ولي بيت المعمور بولي؟

جـواب: مـعـمـور لـه عـمار ته ماخوذ دى عمارت پورته كولو ته وايي نو مكه مـكـرمه هم د نوح عليه السلام په طوفان كي څلورم اسمان ته پورته سوې

Maktaba Tul Ishaat.com

وه، هلتـه هره ورځ اويا زره (۷۰۰۰) ملائكو طواف باندي كاوو چي دوهم وار نوبت نه ورته ورسېدى بيرته يې هم هغه ځاى ته تشريف راوړى دى . (۲)

سوال:

دهغو فريقو چي د حجر اسود په ښودلو كي اختلاف وو منازعه څنګه ختمه سوه؟

جواب: د هري قبيلې رئيس غوښتل چي حجر اسود په خپله خوښه د كعبې شريفي په ديوال كي كښېږدي تر څو نبي الامين ﷺ راغلى او دوئ خوشحال سوو نو قصه يې ورته وكړه نو رسول الله ﷺ خپل مبارك پټو هوار كړ حجر اسود يې پكښې كښېښووه او دوى ته يې امر وكړ چي د پټو پلوونه هر يو جدا جدا ونيسي رسول الله د شا لخوا د پټو مابين ونيوى ټولو په اتفاق سره يو ځاى كښېښووه او جګړه ختمه سوه . (۱)

سوال:

كعبه شريفه چي ابراهيم عليه السلام جوړه كړه څو دروازې يې درلودې؟

جواب: دوې دروازې يې درلودې . ۱ . ارشاد الساري ص ۱۳ .

سوال: حجاج بن يوسف د كعبې كومه دروازه بنده كړه؟

جواب: د غربي طرف دروازه يې بنده كړه . (۲)

سوال:

كعبه شريفه څو واره جوړه سوې ده؟

جواب: اوه واره جوړه سوې ده ځكه اسمانونه هم اوه دي انواع الاطوفه هم اوه دي د طواف شوطونه هم اوه دي .

سوال:

كعبې شريفي ته كله لباس وركول سو؟

جواب: الشيخ محمد بن علانؒ وايي چي د كعبې شريفي چي نوې بناء كېده

Maktaba Tul Ishaat.com

نو د مکې شریف امیر و کړ چې پر۳ . ارشاد الساري ص ۱۵) .
نړېدلي دېوالو لرګي کښېږدئ او زرغونه جامه ور واغوندئ .
سوال:
کعبې ته ولي د الله ج کور وايي او د مؤمن زړه ته ولي د الله (ج) کور وايي؟
جواب : دلته اضافت تشریفیه دی یعنې له شرافت له وجهې يې الله (ج) ته نسبت سوی دی او د الله (ج) کور بلل سوی دی کعبه د الله (ج) کور دی بالجهر او د مومن زړه د الله (ج) دی بالسر .
ځکه په کعبه کښې د الله (ج) ذکر او عبادت بالجهر او په ښکاره کېږي او د مومن په زړه ک د الله (ج) ذکر بالسر او په پټه کېږي . (عن ابن عمرؓ انه نظر یوما الی الکعبة فقال ما اعظمک و ما اعظم حرمتک والمومن اعظم حرمة عند الله منک) اخرجه الترمذی .
از هزاران کعبه یک دل بهتر است . خو زه وایم چې هغه زړونه د انبیاؤ اولیاؤ او صلحاؤ ښئي .
سوال: د کعبې شریفې که څه لنډ صفت وکړې؟
جواب: کعبه شریفه ظاهراً له ډېرو او پردو جوړه ده باطن يې انوار او اسرار دي خو ظاهره ډېرې يې د انسانانو زړونه او نفسونه جذبوي او پر دې يې اساب د کشف او تجلیاتو رحمانیه وو دي۱ .ارشاد الساري ص ۱٦ .

باب دی په بیان د افعالو د حج کې

فصل په شرائطو د حج کې

سوال :
د حج د وجوب شرطونه څو دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : د حج د وجوب شرطونه يوولس (۱۱) دي:

۱ . اسلام دى، د كافر حج نه صحيح كيږي .

۲ . سالم عقل دى، د لېوني حج نه صحيح كيږي .

۳ . بلوغ دى، پر صبي حج نه واجبيږي .

۴ . حريت دى، پر مريي حج نه واجبيږي .

۵ . استـطاعـت دى، يـعنـي قـدرت پـر زاد او راحله، يعني د لارې او تلو راتلو او سپرلۍ طاقت به لري، هغه كه په ملك يې او كه په كرايه .

٦ . عـلـم دى پـه فـرضيت د حج، چې دار حرب كي وي، كه په دار اسلام كي وو بيا نه ده شرط .

۷ . د بدن روغوالى دى، يعنى چې د حج د ادا كولو قدرت به لري فلج يا ګوډ يا شلى به نه وي .

۸ . د لارې امان دى، د سر او مال خطر به نه وي .

۹ . له بنديخانې خلاصوالى دى ، پر بندي حج نه واجبيږي .

۱۰ . د ښځې لپاره اعتمادي محرم دى .

۱۱ . ښځه به په عده كي نه وي . (فتاوى هنديه ج۱/ ص ۲۱۴)

سوال: د حج د ادا د صحت شرطونه څو دي؟

جواب: د حد د ادا كولو د صحت شرطونه شپږ (٦) دي :

۱ . د احرام تړل دي، بغير احرام حج كول نه صحيح كيږي .

۲ . د حـج وخت او مـوسم دى، چې اشهر معلومات دي . اشهر معلومات دا درې مياشتي دي، شوال، ذى الـقـعـده، ذى الـحـجه په بل وخت كي حج نه صحيح كيږي .

۳ . د حج ځاى دى، په بل ځاى كي حج نه صحيح كيږي .

۴ . پخپله د حج مناسك ادا كول .

Maktaba Tul Ishaat.com

۵. عدم جماع مخکي تر وقوف د عرفات .

د احرام تړل په کال د ادا کولو د حج کي نه دا چي بل کال یې تړلي وي .

سوال:

د حج حکم په کوم آیت او حدیث ثابت دی؟

جواب: د حج د حکم په ثبوت کي ډیر آیاتونه او حدیثونه راغلي دي کما قال الله تعالی: ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾ (آل عمران :۹۸)

﴿ وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ()لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَاءِ۷سَ الْفَقِيرَ ()ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾(الحج:۲۷ـ۲۹)

وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فُرِضَ عَلَيْكُمُ الْحَجُّ فَحُجُّوا، فَقَالَ رَجُلٌ: أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللهِ فَسَكَتَ حَتَّى قَالَهَا ثَلَاثًافَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ، ثُمَّ قَالَ: ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ، وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَدَعُوهُ ـ (رواه مسلم)

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: اَلْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَاتٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ ـ (أخرجه مسلم في الصحيح)

مبرور یعني له ګناه پاک او خالص، یا مبرور معنا قبول، یا مبرور دا معنا چي ریا، نام او ننبان، فسق او ګناه نه وي په کښې .

سوال:

حج او عمره که څوک یو ځای وکړي څه فایده لري؟

جواب: په حج او عمره ګناهونه فقر او مسکنت لري کيږي .

عن عبد الله بن مسعود رضى الله عنه ـ أن رسول الله قال : تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّ الْمُتَابَعَةِ بَيْنَهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا تَنْفِى الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَهَبِ وَالفِضَّةِ ـ اخرجه الترمذى ـ

سوال:

حج او عمره د چا لپاره رسول الله ﷺ جهاد بللي دي؟

جواب : د سپينږيري ، کوچني ، ضعيف او ښځو لپاره .

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَؓ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : جِهَادُ الْكَبِيْرِ وَالضَيف وَالْمَرْأَةِ : الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ ـ اخرجه النسائى ـ

سوال:

د حاجي دعا څه حيثيت لري؟

جواب: حاجي او هغه چا ته چي حاجي دعا ورته کوي رسول الله ﷺ دعا کړې ده .

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَؓ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْحَاجِّ وَلِمَنِ اسْتَغْفَرَ لَهُ الْحَاجُّ ـ رواه البيهقى ـ

و عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ خَمْسُ دَعْوَاتٍ لَا يُرَدَدْنَ: دَعْوَةُ الْحَاجِّ حَتّٰى يَصْدُرَ ـ الحديث ، رواه البيهقى ـ

نو ټول خلک بايد له حاجيانو دعاوي وغواړي ، او حاجيان هم بايد عامو مسلمانانو ته دعاوي وکړي .

سوال:

د ښځي محرم أمين څوک بلل کيږي؟

جواب: محرم امين د ښځي هغه څوک دی چي له ښځي سره يې د همېشه لپاره نکاح حرامه وي هغه که د نسب له وجهي وي يا د رضاعت له وجهي

وي یا د خسر ګنۍ له وجهې .

سوال:

که ښځه بغیر محرم حج وکړي حج یې صحیح دی که نه ؟

جواب : هو ! حج یې صحت لري خو ګنهګاره ده .

سوال :

ښځه له کوره وتلی سي او که نه ؟

جواب: ښځې ته بغیر ضرورت له کوره وتل مکروه دي که څه هم د یوې شپې کم وي .

سوال:

که محرم بغیر د نفقې له ښځې سره حج ته تله نو ښځه به نفقه ورکوي که یا ؟

جواب هو ! باندي واجب دي خرچه یې پر ښځه ده .

سوال: له سپین سري ښځې او نا بالغه نجلۍ سره د محرم تګ واجب دی او که نه ؟ ۱ .ارشاد الساری ص۲۷

جواب : هو ! واجب دی یوازي به نه ځي .

سوال:

نر ښځوکی او ښځه څه فرق لري؟

جواب : نر ښځوکی او ښځه په احکامو مختصه وو کي څه فرق نه سره لري .

سوال

: که مېړه او ښځه یو ځای حج ته سره ولاړ سي نو پر مېړه د ښځې نفقه واجب ده او که نه؟

جواب : هو ! داسې نفقه به ورکوي لکه په کور کې چي یې ورکوله .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: كه ښځه په عده كي حج وكړي حج يې صحت لري او كه نه ؟
جواب: حج يې صحت لري خو ګنهګاره ده .(٢)

سوال:
ديو فرض لپاره بل فرض پرېښودل څنګه دي؟ ١ .ارشاد السارى ص٢٧

جواب : ديوه فرض ادا كولو لپاره بل فرض پرېښودل نه دي مناسب، كه د چا علم پر دې راسي چي زه حج كوم نو لمونځ را څخه پاتېږي حج ځيني ساقط نه دى . كه له مجاهد څخه د جنګ په وخت كي لمونځ قضا سي نو بيا به يې قضا راوړي او پر دې سربېره دې و سلګونو دعاګانو ته حاجت لري چي د قضا سوي لمانځه كفاره سي، له رسول الله ﷺ څخه چي د خندق په غزا كي د جنګ په حالت كي د مازيګر لمونځ قضا سو نو بيا يې كفارو ته ښيرا وكړه چي الله (ج) دې د دوى كورونه او قبرونه له اوره ډك كړي د لمانځه ځنډول تر آخير وخته دا د جماعت تر پرېښودلو لويه ګناه ده . د موټر او كښتى وغيره په چلونكي دا واجب دي چي پر سواريانو به دا شرط لګوي چي لمونځ به كوئ .(١) ١ .ارشاد السارى ص ٤١

فصل دى په بيان د موانعو د وجوب د حج كي او په هغه عذرو كي چي حج ساقطيږي

سوال:
هغه كوم عذرونه دي چي حج ساقطوي؟
جواب : كوچنيوالى، مريښتوب، لېونتوب، معتووالى، مرګ، كفر او فقر .

سوال :
كه حاجي د عرفات تر وخت مخكي وقوف پر عرفات وكړي كفايت كوي كه

يا؟

جواب: نه، نه يې كوي، بلكې د عرفات په وخت كې به پر عرفات دريږي.

سوال:

كوچنى چې حج وكړي دا يې فرض حج سو كه نفل؟

جواب: نفل دى ثواب يې قريب ته رسيږي.

سوال:

د طواف ځاى كوم ځاى دى او د سعى ځاى كوم ځاى دى؟

جواب: د طواف ځاى مسجد حرم دى كه څه هم پر بام وي او د سعي ځاى د صفا او م روا مابين دى.

سوال:

كه حاجي تر وقوف د عرفات مخكې له خپلې ښځې سره جماع وكړي حج يې صحت لري كه يا؟

جواب: حج يې صحت نلري او په دغه احرام نه ادا كيږي بلكې بل كال به نوى احرام تړي او حج به كوي.

سوال:

كه څوك د بل معذور پر ځاى حج كوي هغه به څنګه معذور وي څو مره عذر معتبر دى؟

جواب: عذر به داسې عذر وي چې تر مركه به دوام لري.

سوال:

كه يو حاجي بيهوښه سي نو ملګري يې د حج نيت وكړي او فروض ادا كړي حج يې صحت لري كه يا؟

جواب: هوا صحت لري.

سوال:

که څوک د فرضي حج پر ځای د نفلي حج نیت وکړي نو حج یې فرضي سو که نفلي؟

جواب: حج یې نفلي دی .

سوال:

که فقیر یا پوروړی حج وکړي حج یې ساقط دی که یا؟

جوب: هو! دوهم وار بیا حج نه دی پر لازم .

سوال:

که څوک په حرام مال حج وکړي حج یې صحیح دی که یا؟

جواب: فرض څیني ساقط دی مګر ثواب یې نسته .

سوال:

که پر چا حج فرض وو او نه یې وکړی نو د ځکندن په حالت کې وصیت باندې واجب دی که یا؟

جواب: هو! وصیت پر واجب دی .

سوال:

چې شروط د وجوب او ادا موجود سي نو حج بالفور واجب دی او که بالتراخي، یعني په کوم کال چې حج پر سړي واجب سو په هغه کال بې دستي کوي او که یې هر وخت کولای سي یعني ځنډېدل یې ګناه لري که یا؟

جواب: د امام حنیفهؒ پر مذهب دستي حج پر واجب دی که یې څوک دوهم یا دریم یا مثلا یا لسم کال وکړی نو فرض خو یې ادا سوو مګر خو د ځنډ له وجهي ګنهګار دی .

سوال:

وجوب علی الفور عملا دی که اعتقادا؟

جواب: عملا دی .

سوال:
كه پر چا حج فرض سي او نه يې وكړي او وروسته فقير سي نو حج څيني ساقط دی كه يا ؟
جواب: نه، حج چي يو ځل فرض سو بيا نه ساقطيږي بلكي پور او قرض به كوي او حج به ادا كوي .

سوال:
كه څوك تر ډېره عمره حج وځنډوي او باندي فرض هم وي څه حكم لري؟
جواب: فاسق بلل كيږي او شاهدي يې مردوده ده نه قبليږي .

سوال:
:كه ير سړي مال پيدا كړی او حج او زكات دواړه پر فرض وي يعني پخوانی زكات پر پاته وي او حج هم پخوا پر فرض سوی وي، اوس كه زكات ادا كوي حج نه په كيږي او كه حج كوي زكات ته شی نه پاتيږي، نو اوس به دی زكات ادا كوي او كه به حج په كوي؟
جواب: كه د حج وخت وي حج دي په وكړي او كه د حج وخت نه وي نو زكات دي ادا كړي .



فصل دی په فرائضو د حج كي

سوال:
د حج فرائض څو دي؟
جواب: د حج فرائض درې دي:
١ . د احرام تړل له ميقات څخه .
٢ . پر عرفات درېدل په ورځ د عرفې، چي د نهم د ورځي له زواله يې وخت شروع كيږي بيا د اختر د سهار تر سپېدو پوري، يعني اتلس ((١٨)

Maktaba Tul Ishaat.com

ساعته وخت يې دی، خو د عرفې په ورځ چې هر څومره وختي ورسي ثواب لري، که په وخت کې د عرفت حاجي په دغه اتلس ساعته کې د عرفات په حدودو کې حاضر وو نو فرض يې ادا سوو که څه هم يوه دقيقه وي، که ويښ وي که بيده وي که جوړ وي که ناجوړه، که پوهيږي که نه پوهيږي که پرسد وي او که بې سده .

۲ . طواف زيارت دی، چې د اختر د ورځې له سپېدو څخه يې وخت شروع کيږي بيا د اختر د دريمې ورځې د مازيګر تر لمر لوېدو پورې، چې دوه نيم شباروزه کيږي، په ورځ او شپه دواړو کې صحت لري، افضل يې اوله ورځ ده، بيا دوهمه بيا دريمه، که يو چا دغه فرضي طواف د اختر په دغه دوه نيم شباروزه کې ونکړ بلکې وروسته يې وکړ نو د تاخير له وجهې پسه پر لازميږي او حاجي چې تر څو دغه طواف نه وي کړی جماع نه ده ورته حلاله که نر وي که ښځه، که لس کاله پر تېر سي هم ده ته تر هغو جماع نه ده حلاله تر څو چې يې طواف نه وي کړی، هر څونه عمر بعد چې يې وکړي نو پسه د تاخير پر لازم دی، او ښځه که د حيض په سبب طواف تر خپل وخت واړوي نو شی نه پر لازميږي، ځکه د حيض په حالت کې طواف نه کيږي نو دا مجبوره ده چې ځنډوي به يې، او که چا دغه په بې اوداسي سره وکړي نو پسه پر لازميږي او که يې بيرته د اختر په ورځو کې قضا راوړه نو بيا شی نسته پر .

سوال :

که يو سړي احرام وتړی او وقوف پر عرفه وکړي وروسته مړ سي او طواف زيارت ځيني پاته سي نو حج يې ادا سو او که نه؟

جواب : هو ! حج يې ادا سو .

سوال :

په حج کي د فرضو حکم څه دی؟

جواب: حج بې له ادا کولو د فرضو نه صحيح کيږي .

.●۞●.

فصل دی په واجباتو د حج کي

سوال:

واجبات د حج څو دي .

جواب: واجبات د حج ټول شپږويشت (٢٦) دي . خو څلور اولني واجب يې واجب دي ليکن په پرېښوولو سره يې پسه نه لازميږي .

١ . شروع د طواف له حجر اسود څخه نه مخته او نه شا ته، که له مخه تر حجر اسود وي نو مکروه تحريمي دي او که وروسته وي نو دغه ټول شوطونه يې نا حسابه دي .١ .ارشاد الساري ص ٣٦

٢ . دوه رکعته لمونځ د طواف په نيت، له طواف څخه وروسته .

٣ . په مزدلفه کي د ماښام لمونځ ځنډول تر ماخستنه پوري چي اول به فرض د ماښام کوي بيا به د ماخستن فرض کوي بيا به د ماښام سنت کوي بيا به د ماخستن سنت او وتر کوي .

٣ . له جنګ، فسق، فجور او ښکنځلو څخه ځان ساتل، او پاته نور دوه ويشت (٢٢) هغه واجبات دي چي په پرېښودلو سره يې دم يعني پسه لازميږي هغه دا لاندي واجبات دي:

١ . د احرام تړل له خپل ميقات څخه که د حج وي که د عمرې .

٢ . پر خپلو پښو طواف کول، که يې په چوکۍ کي بې له عذره وکړي نو پسه پر لازميږي .

٣ . په طواف کي له نجاست او بې اودسۍ څخه ځان پاکول .

۴ . پټېدل د عورتو په طواف کي .

Maktaba Tul Ishaat.com

٥ . سعي پس له طواف څخه د حج یا د عمرې، نه له هر طواف وروسته .
٦ . پر خپلو پښو سعي کول د غیر معذور لپاره .
٧ . حضور په عرفات کي د عرفات په ورځ تر ماښامه
٨ . وروسته والی تر امام د عرفات په راتلو کي له عرفات څخه .
٩ . داخلېده د وخت د عرفات په حدودو د عرفات کي .
١٠ . وقوف د مزدلفې د سهار له لمانځه وروسته .
١١ . د هرې ورځي د شیطانانو ویشتل په خپل وخت کي .
١٢ . له مخه کېده د ویشتلو د جمره عقبه تر حلالیدو د پسه .
١٣ . له مخه کېده د پسه د شکریې تر خریلو د سر .
١٤ . حلالیده د پسه په نیت د شکریې، نه په نیت د اختري .
١٥ . حلالیده د پسه په حرم کي .
١٦ . فرضي طواف د اختر په ورځو کي د فرضي طواف په نیت .
١٧ . خریل د سر په ورځو کي د اختر، نه وروسته تر اختر .
١٨ . خریل د سر په حرم کي، نه تر حرم دباندي .
١٩ . د رخصتي طواف به له فرضي طواف وروسته وي .
٢٠ . ځان ساتل له استعمال د خوشبویې څخه په احرام کي .
٢١ . ګنډلې جامه نه اغوستل لکه قمیص، پرتوګ وغیره .
٢٢ . ځان ساتل له پټېدو د سر څخه د نارینه لپاره او له پټېدو د مخ یا خولې یا پزې د ښځي لپاره .

سوال:
محلاتّ څو دي، یعني هغه کوم شیان دي چي له احرامه سړی په ووزي؟

جواب: محلات درې دي: رمی، یعني د شیطان ویشتل، حلق، یعني سر خرېیل، او طواف زیارت .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
که له سره بغیر نور ویښتان سرې و خرېيې یا یې پرې کړي له احرامه ووزي که یا؟
جواب: نه، نه ووزي له احرامه بلکې سر به خرېيي .
سوال:
د مکې او جدې پر خلکو طواف صدر سته که یا؟
جواب: نسته .
سوال:
که د عذر په وجه څوک منع کار وکړي نو جزایې سته که یا؟
جواب: هوا سته .

.❁◉❁.

فصل دی په سنتو د حج کې

سوال:
: په حج کې سنت څو دي؟
جواب: په حج کې سنت افعال شپږ دېرش (۳٦) دي:
۱ . د احرام تړلو لپاره په مستور ځای کې غسل کول .
۲ . سپین نوی یا پاک پرېولي احرامونه .
۳ . د تلبیې ویل تر درو وارو پوري .
۴ . په لوړ اواز تلبیه ویل د نارینه لپاره او د ښځې لپاره کرار ویل .
۵ . له هر لمانځه وروسته د تلبیې ویل .
٦ . د احرام تړلو په ابتداء کې دوه رکعاته لمونځ کول .
۷ . د طواف په اوو شوطو کې د راسته اوږې لڅوالی، هغه طواف چې وروسته تر هغه سعي وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۸ . طواف قدوم د اطرافي لپاره .

۹ . لــه احـرام تـړلـو وروستــه پـر رسـول الله ﷺ درود ويل او د سنتو پر موافقت توفيق غوښتل .

۱۰ . پورته كېده د دواړو لاسو يوازي پر برابري د حجر اسود ديو وار، سره له تكبيره .

۱۱ . استـلام (مـوچـېدل) د حـجـر اسـود كـه ازدحـام نـه وو، او خلكو تـه تكليف نه رسېدى او كه د ازدحام په وجه خلكو ته تكليف رسېدى بيا به يې نه كوي .

۱۲ . د زم زم اوبه په ولاړي څښل .

۱۳ . د زم زم له اوبو وروسته مخ پر قبله دعا كول .

۱۴ . په درو اولو شوطو كې د اوږو ښورول .

۱۵ . د صفا پر غونډۍ ختل تر څو چې كعبه شريفه معلومېږي .

۱۶ . د لاسو پورته كېدل پر صفا او مروا د دعا پر رقم .

۱۷ . چابك تګ په مابين د زرغونو څلو كې د نارينه لپاره او زايد تر څلو به نه وي، او ښځه به نه ځغلي په ارامه به ځي .

۱۸ . خرېيل د ټول سر پس له حج يا عمرې د نارينه لپاره .

۱۹ . و منى ته وتل پس له راختو د لمر د اتم په ورځ .

۲۰ . پـه مـنـى كـې شپـه تېرول او پـنـځـه لـمنځونه په منى كې كول، له ماپښينه بيا تر سهاره .

۲۱ . وتل و عرفات ته پس له راختو د لمر د نهم د ورځې .

۲۲ . د خول و خيمو ته خپل له مخه تر زوال .

۲۳ . غسل كول د عرفات تر داخلېدو مخكې .

۲۴ . د ډوډۍ خوړل مـخـكې تـر زوال، د دې لپـاره چې پـه عـرفـات كې

Maktaba Tul Ishaat.com

دعاوو ته فارغ سي .

۲۵ . دربده لپاره د دعا د جبل الرحمة په لمن کي، نه د غره پر سر .

۲٦ . لاسونه په عرفات کي د دعا لپاره داسي پورته کول چي د بغلانو وینبتان یې ښکاره سي .

۲۷ . دېره حصه د شپې تېرول په مزدلفه کي .

۲۸ . دېروالی د دعا په مزدلفه کي، او سوال د جنت .

۲۹ . حرکت له مزدلفې څخه وروسته تر راختو د لمر .

۳۰ . د منی شپې په منی کي کول .

۳۱ . و جمره عقبه ته داسي دربدل چي راسته اوږه يې و منی ته او چپه اوږه يې و کعبې ته وي .

۳۲ . د دوهم په ورځ به شروع له کوچني شیطانه کوي .

۳۳ . مخ پر قبله ویشتل د اولو دوو شیطانانو .

۳۴ . مخ پر قبله اوږده دعا کول پس له اول او دوهم شیطان څخه .

۳۵ . له حج او عمرې وروسته د شکریې په نیت داسي پسه حلالول چي ښوره خوله او توري پښې یې وي .

۳٦ . په ټوله زمانه د احرام کي د صالحانو او عالمانو صحبت کول .

فصل په مستحباتو د حج کي

سوال:

افضل حج کوم حج دی؟

جواب: افضل الحج العج، یعني په لوړ اواز تلبیه ویل، والثج، د ویني بهول، یعني نفلي قرباني کول .

سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

و جبل الرحمة ته ختل جواز لري كه يا ؟

جواب: جبل الرحمة ته ختل بدعت دی .

سوال:

د امام شا ته نژدې درېدل مستحب دي كه يا ؟

جواب : هو! مستحب دي .

سوال:

په مزدلفه كي د سهار لمونځ په تياره كول مستحب دي كه يا ؟

جواب : هو! او رمی له لمر ختو مخكي جائز او وروسته مستحب دی .

سوال :

د مستحب حكم څه دی؟

جواب : حكم د مستحبو دا دی چی پـه كولـو سره يې ثواب حاصلېږي تر سنتو كښته او تر نفلو بالا دی .



فصل په مكروهاتو د حج كي

سوال :

هغه كوم كارونه دي چې پـه حج كي مكروه دي او له كولو يې حاجي بايد ځان وساتي؟

جواب : د حج مكروهات پنځه (۵) دي چي لاندي بيانيږي:

۱ . د عرفات پـه وقوف كي تاخير او ځنډ كول ،يعني پر خپل وخت وقوف نه كول .

۲ . په ويشتل سوو ډبرو دوهم ځل د شيطانانو ويشتل .

۳ . پـه لـو ډبره ويشتل سنت دا دی چي د خرما د زړي پر اندازه په ډبره به يې ولي .

۴ . صرف څلورمه حصه سر خرييل په ځان حلالول کي، سنت دا دى چي ټول سر به خرييى .

۵ . شپه تيرول په غير منى کي په ورځو د منى کي،

. . .

باب دى په بيان د مواقيت كي

مواقيت دوه قسمه دي:

۱ . زماني

۲ . مكاني

مؤاقيت زماني يعني هغه وختونه چي حج کي ادا كيږي، هغه د شوال يعني كوچني اختر مياشت ده او د ذى القعدې يعني مياني مياشت ده او لس ورځي د ذى الحجې يعني د لوى اختر د مياشتي دي .

سوال:

كه له حاجيانو د عرفات ورځ وركه سوه پر عرفات ودريدل او هغه ورځ د اختر وه نو وقوف يې صحيح دى او كه يا؟

جواب: هوا صحيح دى .

سوال:

د حج په ورځو کي عمره صحيح ده او كه نه ؟

جواب: د مكې او سيدونكو لره د حج په ورځو کي مكروه ده او افاقي لره په هر وخت کي سنت ده .

سوال:

رابغ كوم ځاى دى او جحفه مكې مكرمې ته نژدې ده كه رابغ؟

جواب: رابغ يوه شيله ده په مابين د حرمينو کي احرام ترل ځيني صحت لري

، او جحفه مكمې ته نږدې تر رابغ .

مواقيت مكاني يعني هغه ځايونه چې احرام ورځخه تړل كيږي او بې احرام تېرېدل ورځخه جواز نلري . دا پنځه(۵) دي:

۱. ذالحليفه ده، دا د مدينې منورې د خلكو او ددې لاري د تېرېدونكو لپاره ميقات دی .

۲ . ذات العرق دی، دا د عراق او د دې لاري د تېرېدونكو لپاره ميقات دی .

۳ . جحفه ده، دا د شام، مصر او اهل مغرب او د دې لاري د تېرېدونكو لپاره ميقات دی .

۴ . قرن دی، دا د نجد او د دې لاري د تېرېدونكو لپاره ميقات دی .

۵ . يلملم دی، دا د يمن او د دې لاري د تېرېدونكو لپاره ميقات دی .

د اهل ميقات لپاره د احرام تړلو ځای حل دی، د مكې د اوسېدونكو لپاره حرم شريف دی .

د مكې د اوسېدونكو د عمرې لپاره تنعيم دی .

سوال:

كه څوک مكې مكرمې ته د تجارت يا بل كار لپاره ځي احرام به تړي؟

جواب: هو! كه حج كوي كه تجارت، احرام تړل باندي واجب دي .

سوال:

تعين د ميقات شرط دی كه نه ؟

جواب: تعين نه دی شرط كه يې پر برابري د ميقات وتړي هم صحت لري، كه ميقات پريږدي له ميقات څخه احرام وتړي دم نه پر لازميږي .

سوال:

كه حاجي له ذالحليفې تېر سي احرام نه وتړي بيا به چيري احرام تړي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: بيا به له رابغ څخه احرام وتړي .

سوال:

كه چا تصور د محاذات د ميقات نه سواى كولاى يعني دا نه ورته معلومېده چي زه د ميقات پر برابري يم كه نه يم بيا به څه كوي؟

جواب: بيا به دوه منزله لري له مكي مكرمې احرام تړي، جده درې منزله لري ده او عرفات دوه منزله لري دى .

سوال:

: كه ديو سړي پر لاره دوه ميقاته وي تر اول تېر سي پر دوهم احرام وتړي جواز لري كه يا؟

جواب: هو! زموږ پر مذهب جواز لري .(۱)

سوال:

د ميقات داخل خلك لكه د حرم او جدې خلك بغير احرام حرم ته داخلېدلاى سي؟

جواب: هو! كه يې نيت د نسكو نه وو داخلېدلاى سي، او كه يې نيت د نسكو وو يعني د حج يا عمرې كوم عمل يې كاوو بيا به احرام خپل ميقات څخه تړي، د حرم خلك به په حرم يا تنعيم څخه تړي زموږ پر مذهب تنعيم افضل دى .

سوال:

كه څوك حرم ته بغير احرام داخل سي نو څه به كوي؟

جواب: بيرته به راګرزي ميقات ته د احرام لپاره .

.●۞●.

Maktaba Tul Ishaat.com

فصل دى په تجاوز كي
تر ميقات بغير احرام

سوال:
كه يو څوك له حرم شريف څخه د عمرې لپاره احرام وتړي او بيرته ميقات ته را وګرزي شروع يې په طواف نه وي كړي نو دم ځيني ساقط دى كه يا؟
جواب هو! دم نسته پر. ۱. ارشاد الساري ص ۵۷
سوال:
كه متجاوز مخكي تر عرفه ميقات ته را وګرزي دم ځيني ساقط دى كه نه؟
جواب: كه تر عرفه مخكي ميقات ته را وګرزي نو دم ځيني ساقط دى او كه د عرفات له وقوف څخه وروسته د احرام لپاره ميقات ته را وګرزي نو بيا دم پر لازم دى، نه ساقطيږي.
سوال:
كه څوك اول قصد د جدې وكړي جدې ته ځي او بيا بيرته د مكې قصد وكړي نو بغير احرام داخلېدلاى سي كه نه؟
جواب: هو! داخلېدلاى سي.
سوال:
كه افاقي مكې ته بغير احرام داخل سي څه باك لري كه يا؟
جواب: هو! باك لري، يا به حج يا عمره را ګرزوي دغه شان دم د مجاورت هم پر لازم دى يا به بيرته ميقات ته راځي احرام به تړي.
سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

كه متجاوز بيرته ميقات ته راوګرزي د قضايا ادا لپاره نو دم ځيني ساقط دي كه نه ؟

جواب : هو ! كه په دغه كال كي وي خو دا استحسان دى ځكه په را ګرزېدو سره تعظيم حاصلېږي، كه چيري په دغه كال كي احرام نه وتړي نو دم نه ځيني ساقطېږي، ځوك چي واى وجوب د دم نسته دا غلطه ده .

۱ .ارشاد الساري ص ٦١

باب الاحرام

سوال :

په خالي نيت حاجي په احرام كي داخلېدلاى سي كه يا ؟

جواب : احرام بـه تړي ضرور بـه تلبيه يا بل شى چي د تلبيې قايم مقام وي ورسره وايي پـه خالي نيت سره په احرام كي نسي داخلېدلاى، نيت په وخت كي د شروع د تلبيې داسي دى لكه نيت د شروع په لمانځه سره د تكبير په وخت كي ، يعني نيت له تلبيې سره متصل دى خو له تلبيې خارج دى .

فصل دى په واجب او سنتو د احرام كي

سوال :

د احرام واجب ځو دي او كوم دي؟

جواب : د احرام واجب دوه (۲) دي:

۱ . له خپل ميقات څخه احرام تړل .

۲ . لـه هغو شيانو څخه ځان ساتل چي دم لازموي، يعني چي په كولو سره يې دم لازمېږي .

سوال :

د احرام سنت ځو او كوم دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : د احرام سنت شپاړس (۱٦) دي:

۱ . د خپل وطن يا لاري څخه ميقات تړل .

۲ . د حج احرام د حج په مياشتو کي تړل .

۳ . د بدن د پاکوالي لپاره غسل کول، که حائضه يا نفاسه وي بيا لازم دی .

۴ . د طواف تر نيت لږ مخکي اضطباع کول ، اضطباع دې ته وايي چي راسته اوږه لوڅه کړي او چپه وږه پټه کړي .

۵ . تر احرام مخکي دوه رکعاته لمونځ کول، خو په مکروه وخت کي به نه وي .

٦ . په زوره تلبيه ويل، چي ځمکه او د ځمکي شيان باندي شاهد سي .

۷ . د خرېيلو پر ځای پوډر استعمالول .

۸ . تر احرام مخکي خوشبويي لګول .

۹ . ښځه به په زور تلبيه نه وايي .

۱۰ . له لنګ سره پټو هم اغوستل، يعني يوازي په لنګ به اکتفا نه کوي .

۱۱ . ماثوره تلبيه ويل، ماثوره تلبيه هغه تلبيه ده چي رسول الله ﷺ ويلي ده کوم چي په حديثو کي راغلې ده .

۱۲ . له نيت سره متصل تلبيه ويل .

۱۳ . په تلبيه کي تکرار کول .

۱۴ . په نوي يا پرېولي جامه سره احرام تړل .

۱۵ . په سپينه جامه سره احرام تړل .

۱٦ . کوچني ته غسل ورکول که څه هم غير عاقل وي، يعني که له حاجي سره مثلا يا له ښځي سره کوچنی وو هغه ته به هم غسل ورکوي .

Maktaba Tul Ishaat.com

مستحبات د احرام

۱ . تر احرام مخکي نوکان پریکول .
۲ . تر احرام مخکي برېتونه لنډول .
۳ . تر احرام مخکي د نامه لاندي ویښتان صفا کول .
۴ . تراحرام مخکي د ښځي لپاره نوره، آهاک استعمالول .
۵ . تر احرام مخکي له خپلي ښځي سره جماع کول، که مانع نه وو .
مستحبات نور هم ډېر دي .

فصل په محرماتو د احرام کي

سوال:
احرام په څه شي فاسدیږي؟
جواب: په جماع سره چي تر وقوف له مخه وي .
له عذره بغیر بې غسله او اوبې دسه احرام تړل مکروه دي .

سوال:
د احرام حکم څه دی؟
جواب: حکم د احرام لزوم د عدم خروج او لزوم د عدم ارتکاب د محظوراتو دی، یعني له وتلو او ممنوعه شیانو به منع کوي، بلکي خروج به یې په یو عمل سره وي .

سوال: شرط د خروج یې څه شی دی؟
جواب: شرط د خروج یې سر خرییل یا لنډول دي په خپل وخت او خپل ځای کي .

سوال:
که حاجي د سر خرییلو یا لنډولو اسباب نکړو پیدا، او یا یې په سر کي یو علت وو نو بیا حلالیدل ساقط دي که یا؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: هو ! حلالېدل ساقط دي دم يا صدقه نه پر لازميږي، خو چاره دي باندي تېره كړي .

سوال:

كه حاجي په احرام كي گنډل سوي جامه واغوندي دم پر لازميږي كه يا؟

جواب: كه پوره يوه ورځ يې واغوندي نو دم پر لازميږي او كه تر ورځ كم يې واغوندي نو دم نسته خو صدقه پر لازمه ده .

فصل دی په انواعو د احرام كي

سوال:

احرام څو قسمه دی؟

جواب: احرام څلور قسمه دی:

۱ . احرام په حج سره دی چي حج مفرد ورته وايي .

۲ . احرام په عمره سره دی كه په مياشتو د حج كي وي نو كه په دغه كال حج وكړي نو حج تمتع ورته وايي .

۳ . احرام په حج او عمره سره يو ځای تړل دي چي دغه ته حج قران ويل كيږي .

۴ . احرام په عمره سره دی چي د حج په مياشتو كي نه وي دې ته خالي عمره ويل كيږي .

سوال:

افضل حج كوم حج دی؟

جواب :افضل حج حج قران دی بيا تمتع دی او بيا مفرد دی .

سوال:

په يوه احرام سره په يوه كال كي جمع د دوو حجو يا عمرو جواز لري كه يا؟

جواب: نه جواز نلري .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
د خال د حج پر عمره جواز لري كه يا؟
جواب: مكي لره جواز لري افاقي لره يې نلري .

. . .

فصل دى په صفت د احرام كي

سوال:
له احرامه وروسته كوم اعمال مستحب دي؟
جواب: له احرام څخه وروسته دا لاندي اعمال مستحب دي .
۱ . نوكان پرې كول .
۲ . بغلونه صفا كول .
۳ . تر نامه لاندي ويښتان صفا كول .

سوال:
كه احرام بغير غسل او اوداسه و لمانځه وتړي جواز لري كه يا؟
جواب: هو جواز لري، خو مستحب دا دى چي غسل او اودس او دوه ركعاته نفل وكړي .

سوال:
په احرام تړلو كي كوم رنګ كپړه افضل ده؟
جواب: سپين رنګ لكه كفن .

سوال: كه په جامه كي ګنډل وي خو په ممنوعه وجه نه وي جواز لري كه يا؟
جواب: هو ! جواز لري .

سوال :
اضطباع يعني راسته اوږه لوڅول او چپه اوږه پټول صرف په طواف كي ده او كه په لمانځه او سعى كي هم سته؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب:

صرف په طواف كي ستـه فقط .

سوال:

احرام په يوه كپړه يا تر درو زياتو كپړو سره جواز لري كه يا؟

جواب : هو ! لري يې .

سوال :

بدلېدل د يوه احرام په بل احرام سره جواز لري كه يا؟

جواب : هو ! جواز لري .

سوال:

د طـواف پـه لـمـانځـه كـي به په اول ركعت كي كوم سورت وايي او په دوهم كي به كوم وايي؟

جواب: په اول كي به قل يا ايها الكافرون وايي او په دوهم كي دي قل هو الله احد ووايي .

سوال :

د طواف لمونځ په مكروه وخت كي كېدلى سي كه يا؟

جواب: زموږ پر مذهب د طواف لمونځ به په مكروه وخت كي نه كوي .

سوال:

د طواف لمونځ په مكروه وخت كي كېدلى سي كه يا؟

جواب : پـر فـقـيـر پـه ميـقـات سـره حـج فرض كرزي نو د نفلي حج نيت به نه كوي ځكه چي حج پر فرض سو .

سوال :

احرام په څه شي متحقق كيږي يعني په څه شي سره سړى محرم بلل كيږي؟

جواب : چي نيت له تلبيې سره پيوست و كړي بس محرم سو .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
تلبیه کوم الفاظ دي او معنا يې څه ده؟
جواب: د تلبيې الفاظ دا دي: (لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَ النِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ) معنا يې دا ده: (په خدمت درته ولاړ يم يا الله په خدمت درته ولاړ يم، په خدمت درته ولاړ يم، نسته شريک تا لره، په خدمت درته ولاړ يم، بې شکه ټوله ثنا تا لره ده او ټول نعمتونه تا لره دي، او باچاهي تا لره ده. نسته شريک تا لره)، له نيت او تلبيې وروسته به دغه دعا وايي (اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْأَلُكَ رَضَائَكَ وَالْجَنَّةَ وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْ غَضَبِكَ وَالنَّارِ) يا به دغه دعا وايي: (اَحْرَمَ لَكَ شَعْرِىْ وَبَشْرِىْ وَ دَمِىْ مِنَ النِّسَاءِ وَالطِّيْبِ وَكُلِّ شَيْئٍ حَرَّمْتَهُ عَلَى الْمُحْرِمِ اَبْتَغِىْ بِذَالِكَ وَجْهَكَ الْكَرِيْمِ)

فصل دى په شرطوالي د نيت كې

سوال:
نيت په ژبه ويل شرط دى كه په زړه؟
جواب: په زړه كول شرط دى.
سوال:
كه د سړي پر ژبه د زړه د نيت خلاف توری وويل سي نيت صحت لري كه يا؟
جواب: هوا نيت يې صحيح دى د زړه هغه معتبر دى.

فصل په شرط د تلبيې كې

سوال:
د تلبيې ويل په ژبه شرط دى كه په زړه؟
جواب: په ژبه ويل شرط دى او د تلبيې پر ځاى په هر ذكر او تسبيح د تعظيم په نيت صحت لري، كه تلبيه نه وه زده هر ذكر په نيت د تلبيه جواز لري.
سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

تلبیه په کوم وخت کې فرض ده؟
جواب: په وخت د احرام کې فرض ده او تکرار کول پکښې سنت دی، بزار او بیهقي له حضرت خدیجهؓ څخه روایت کوي وایي چې الله (ج) به خلک په یو میدان کې جمع کړي هیڅوک به خبري نسي کولای اول دعا کونکی به رسول الله ﷺ وي و به وایي: (لَبَّيْكَ وَ سَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِيْ يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ الْمَهْدِيُّ مَنْ هَدَيْتَ وَ عَبْدُكَ بَيْنَ يَدَيْكَ وَلَكَ وَ إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَ لَا مُنْجَأَ مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ تَبَارَكْتَ وَ تَعَالَيْتَ سُبْحَانَ رَبُّ الْبَيْتِ) په دغه وخت کې شفاعت هم کوي د الله (ج) قول دی: ﴿ عَسَىٰ أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا ﴾ (الاسراء:۷۹) نو له دغې وجهې زیادت په تلبیه کې روا ده نه نقصان .

سوال :
تلبیه په جنابت، حیض او نفاس او بې اودسۍ کې صحت لري او که یا؟
جواب: هو! صحت لري، خو سنت او مستحب دا دی چې غسل او اودس وکړي .

سوال:
تلبیه په څومره اواز ویل کیږي؟
جواب: په وسط درمیانه اواز به یې وایي، صوت به په تلبیه یا هل ذکر سره پورته کوي په مسجد حرام کې .

سوال:
ښځه به په څومره اواز تلبیه وایي؟
جواب: چې ځ خپله یې اوري او هل څوک یې نه اوري .

سوال:
رسول الله ﷺ څو اوښان هدیه کړي دي؟

جواب: د حجة الوداع په کال يې سل او بنان هديه کړي دي درې شپېته (٦٣) يې د خپل عمر شريف په شمېر په خپل لاس حلال کړي دي .

سوال:

که څوک د احرام نيت وکړي تعين د حج يا عمرې نه وکړي صحت لري که يا؟

جواب:هو صحت لري خو په افعالو چې يې لا شروع نه وي کړې په نيت کې دي تعين وکړي .

سوال:

د احرام نيت دبل پر ځای صحت لري که يا؟

جواب: هو ا لکه عليؓ چې د رسول الله ﷺ پر ځای د احرام نيت وکړ .

سوال:

که حاجي د احرام نيت وکړي خو تعين د فرض او نفلو نکړي نو حج نفلي سو که فرض؟

جواب: فرضي کيږي .

سوال:

که حاجي نيت د احرام د حج يا عمرې يا قران وکړي بيا يې هېر سي څه به کوي؟

جواب: حج او عمره به دواړه کوي احتياطاً يا خو حج او عمره اکمل او افضل دي، هديه د قران نسته ځکه چې هاندي د هېري په وجه دغه فرق دی په ما بين د قصد او هېري کې .

سوال:

: که حاجي قارن مخکي تر طواف د عمرې جماع وکړي حج او عمره يې څنګه سوو؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : حج او عمره يې دواړه فاسد سوو ، قضا به يې راوړي ، او كه يې طوافونه كړي وو وروسته يې جماع وكړه پر عرفات لا نه وو درېدلى نو يوازي حج يې فاسد سو عمره يې صحيح ده .

سوال:

كه حاجي بې هوښه سي يا ويده سي د مرض په وجه ملګري يې پر ځاى احرام وتړي او تلبيه ووايي وروسته تر خپل احرام او تلبيې صحت لري كه يا؟

جواب : هو! صحت لري كه يې ملګري وي كه بل څوک ، كه يې امر ورته كړى وي او كه يې نه وي كړى ، بلكي پر ملګري يې واجب دي چي طواف به په كوي او عرفات ته به يې بيايي .

فصل په احرام د كوچني كي

سوال:

كوچني ته د حج ثواب وركول كيږي كه يا؟

جواب: هو! آئمه اربعه ټول پر دې متفق دي .

سوال: كه چيري كوچنى جنايت وكړي دم پر ده يا يې پر قريب سته كه يا؟

جواب : نه ، نسته .

سوال:

كه كوچني مخكي تر وقوف پر عرفات بلوغ ته ورسيږي او حرام نه وى كړى نو په دې حج سره يې فرض ساقطيږي كه يا؟

جواب: هو! ساقطيږي بل حج نسته پر .

سوال:

لېوني او كوچنى په مذكوره احكامو كي څه فرق سره لري كه يا؟

جواب : څه فرق نه سره لري .

Maktaba Tul Ishaat.com

فصل په احرام د ښځي کي

سوال :

د ښځي او نر په احرام کي څه فرق دی؟

جواب : ښځه او نر په احرام کي سره يو رقم دي خو ښځه په لاندي دوولس (۱۲) شيانو کي ځيني جلا ده:

۱ . ښځه ګنډل سوي جامه چي رنګېدلي نه وي اغوستلای سي .

۲ . موزي په پښو کولای سي .

۳ . دسکلي په لاس کولای سي .

۴ . سر به پټوي مخ پټول ورته مستحب دي خو سدل به کوي يعني هغه شی به له مخ څخه پورته کوي کوم چي مخ يې په پټ کړی وي په مخ پوري به يې مښتی نه وي، او سدل واجب دی .

۵ . تلبيه به کرار وايي .

٦ . اضطباع به نه کوي، يعني اوږه به نه لڅوي .

۷ . رمل به نه کوي، يعني اوږي به نه ښوروي .

۸ . د صفا او مروا په مابين کي به چابک تګ نه کوي که ازدحام وو .

۹ . سر به نه خرييي .

۱۰ . استلام د حجر اسود به نه کوي که رش وو .

۱۱ . لمونځ به په مقام ابراهيم کي نه کوي که رش وو .

۱۲ . په ترک د طواف صدر سره او په تاخير د طواف زيارت سره تر ورځو د اختر شی نه پر لازميږي، په سبب د عذر د حيض يا نفاس .

فصل په محرماتو د احرام کي

سوال:

کوم شيان په احرام کي ممنوع دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: جدل، یعني جنګ او جګړه، رفث، یعني جماع او دواعي د جماع، دواعي د جماع لکه له ښځې مچه اخیستل یا داسې نور افعال، فسق، یعني ټول ګناهونه، د سر خریل و محرم ته تر څو چې له ټولو مناسکو فارغ سوی نه وي .

سوال:

که یو حاجي پټو نه لري نو قمیص پټو کړي او څیرې یې نکړي څه باک لري؟

جواب: څه باک نلري .

سوال:

حج مبرور یعني قبول سوی حج کوم حج دی؟

جواب: هر حج چې په هغه کې ارتکاب د ممنوعاتو نه وي هغه حج مبرور یعني قبول سوی حج دی .

فصل په مکروهاتو د احرام کې

سوال:

د احرام مکروهات څو دي؟

جواب: مکروهات په احرام کې څلور (۴) دي:

۱ . خوشبویي لګول .

۲ . پزه او زني پټول .

۳ . پر مخې پرېوتل .

۴ . د ښکار سوی حیوان رانیول .

فصل په مباحاتو د احرام کې

مباح هغه فعل دی چې کول یې پروا نلري .

سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

مباحات په احرام کي څو دي؟
جواب: مباحات په احرام کي شل (۲۰) دي:
۱ . غسل کول .
۲ . د صابون او بـه استعمالول د ګرز د لري کولو لپاره د خيري لري کولو لپاره .
۳ . ګوتمۍ په ګوته کول .
۴ . هميانۍ تړل .
۵ . کمربند تړل .
۶ . سلاح تړل .
۷ . د مات نوک پرې کول، او هغه ويښته شکول چي په سترګه کي شين سوي وي .
۸ . د ټول بدن پټول ماسوا له سر او مخ څخه .
۹ . د صابون په اوبو سر او ږيره پرېولل .
۱۰ . په احرام کي د پسه يا غوايي يا اوښ حلالول .
۱۱ . مار لړم کربوړی او نور ضرري حشرات وژل .
۱۲ . په خونه يا خيمه کي کښېناستل .
۱۳ . د سترګو تورول .
۱۴ . درګ وهل .
۱۵ . ښکر لکول .
۱۶ . د مات او سست غاښ ايستل .
۱۷ . د سر او مخ ګرول .
۱۸ . د پزي يا غوږ غوړول .
۱۹ . د لاسو او پښو پر هارونه غوړول .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۰ . د غوږ او څټ پټول .
دا ټول شیان دي چي حاجي ته په احرام کي مباح او روا دي .

باب دی په بیان د دخول د مکې کي

بهتره او ښه خبره دا ده چي حاجي و مکې ته په لڅو پښو داخل سي، اول به راسته پښه داخله کړي درود به وایي او دا دعا به کوي (اَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِیْمِ وَبِوَجْهِهِ الْکَرِیْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِیْمِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ)، او غسل په نیت د دخول و مکې مکرمې ته مستحب دی، او ښه دعا دا ده: (رَبَّنَا آتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَفِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ) دخول و مکې مکرمې ته د باب السلام له طرفه مستحب دی، او مهمه دعا طلب د جنت دی، د بیتې شریفې په لیدلو سره به لاسونه پورته کوي .

فصل په شروع د طواف کي

سوال:
اضطباع یعني راسته اوږه لڅول او چپه اوږه پټول د طواف په کوم شوطو کي سنت ده؟
جواب: په ټولو شوطو کي سنت ده .
سوال:
اضطباع په دوه رکعاته لمانځه د طواف کي او سعي کي هم سنت ده؟
جواب: نه، هلته مکروه ده .
له هر طواف وروسته چي سعي وي هلته اضطباع سنت ده .
د داخلېدو په وخت کي به په تکبیر دعا او عاجزي سره د حجر اسود شریف په تقریب د رکن یماني و خوا ته د مطاف په څمکه کي مخامخ بیتې شریفې ته ودرېږي راسته اوږه به پر حجر اسود برابره کړي، نیت فرض دی

Maktaba Tul Ishaat.com

او استقبال سنت دی ، واجب نه دی ، تحيه د مسجد خاص طواف دی لاسونه به په وخت د تكبير كي پورته كړي پر برابري د اوږو يا غوږو ، مخكي تر محاذات پورته كول مكروه او بدعت ده د ټولو امامانو په نزد . (۱)

سوال :

سنت طريقه د استلام څنګه ده؟

جواب: دواړه لاسونه به پر حجر اسود كښېږدي او خوله به په مابين د لاسو كي كښېږدي ، د متكبرينو په شان به يو لاس نه پر ايږدي بلكي دواړه به پر ږدي ، ځكه حجر اسود شريف د الله (ج) راسته لاس دی د الله (ج) بندګان مصافحه يعني ستړي مشي ورسره كوي ، او مچوي به يې بې له صوت څخه ، او كه په عطرو خوشبويه سوې وه يا ازدحام وو بيا دي د لاسو باطن يعني دير غوو خوا پر كښېږدي هغه دي مچ كړي د حجر اسود پر ځای ، او په هر شوط كي استلام سنت دی ، يا په اول او اخير كي .۱ .ارشاد الساري ص ۸۸

سوال:

كه حاجي طواف شروع كړي بيا به هم تلبيه وايي؟

جواب: يا نه به يې وايي .

سوال:

د حجر اسود پر ځای لاس مچول څه اصل لري په دين كي؟

جواب : هو! حضرت عمر فاروق حجر اسود مسه كړی او بيا يې خپل لاس مچ كړی دی او بيا يې ويلي دي چي ما رسول الله ﷺ ليدلی دی بيا مي دغه فعل نه دی پرېښی .

سوال :

د طواف شروع د ركنينو په مابين كي جواز لري كه يا؟

جواب : نه يې لري دغسي فعل د اجماع مخالف دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
طواف سره له رمل لري له مسجد حرم څخه افضل دی او که طواف بې له رمل نژدې و مسجد حرم ته افضل دی؟
جواب: لري طواف سره له رمل افضل دی .

سوال:
په رمل کي څه فایده او مقصد دی؟
جواب: کفارو ته په ذهن کي د مومنانو قوت او زور اچول دي او اظهار د نعمت دی چي امن دی .

سوال:
اذکار په طواف کي افضل دي که تلاوت؟
جواب: اذکار افضل دي، ځکه رسول الله ﷺ په طواف کي اذکار کړي دي .
نو حاجي صاحب به دغه اذکار وايي: (سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ)

سوال:
په رکن عراقي او شامي اویماني کي به حاجي کومي دعاوي وایي؟
جواب: و رکن عراقي ته به نه اشاره کوي نه سلام بلکي دغه دعاوي به وايي: (اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّكِّ وَالشِّرْكِ وَالنِّفَاقِ وَالشِّقَاقِ وَسُوْءِ الْاَخْلَاقِ وَ سُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْاَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ)، په رکن شامي کي به وايي : (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ حَجًّا مَبْرُوْرًا وَ ذَنْبًا مَغْفُوْرًا وَ سَعْيًا مَشْكُوْرًا وَ تِجَارَةً لَنْ تَبُوْرَا يَا عَالِمَ مَا فِي الصُّدُوْرِ اَخْرِجْنِيْ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ) ، او په رکن يماني کي به دغه دعا وايي: (اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدِّيْنِ وَالدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ) ، د رکن يماني او حجر اسود په مابين کي به دغه دعا وايي: (رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَ قِنَا عَذَابَ النَّارِ) د طواف او ارکانو په مابين کي به د دعا

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره نه دريږي، او د دعا الفاظ به سم صحيح وايي، او صحيح به يې ادا کوي خصوصا بيا ماثوري دعاوي تر څو چي د رسول الله ﷺ د حديث مصداق او نښه و نه ګرزي چي وايي چي څوک چي په ما پوري قصداً دروا غ تړي هغه دې د ځان لپاره په جهنم کي ځاى جوړ کړي، استلام د رکن يماني مستحب دى په لاس سره نه مچول يې، که زحمت وو په لاس يې لمس نه وکاوو نو اشاره هم نسته نه دي کوي، په رکنځ عراقي او شامي کي نه استلام نه مچول نه اشاره سته بلکي بدعت د ټولو امامانو په مذهب .

سوال:

له طواف وروسته به حاجي څه کوي؟

جواب: چي طواف وکړي د حجر اسود استلام وکړي بيا به د مقام ابراهيم و شا ته دوه رکعته لمونځ وکړي، پ ټول مسجد حرم کي چي هر ځاى وي کولاى يې سي، خاص مقام ابراهيم ضروري نه دی، او له مسجد دباندي يې هم کولاى سي حتی په خپل ښار کي هم جواز لري خو کټول يې زموږ پر مذهب واجب دي، او په مکروه وخت کي نه کيږي .

سوال:

حاجي به له لمانځه بعد کوم عمل کوي ؟

جواب: بيا به ملتزم شريف ته ورسي او خپله سينه او نس او باړخو به باندي کښيږدي لاسونه به تر سر پورته کړي پر ديوال به يې وغوړوي ماثوره دعا به وکړي وروسته به اب زم زم شريف ته ورسي په ولاړي به يې وڅښي او ډېر څښل يې د ايمان نخښنه ده بيا به حجر اسود ته راسي استلام او مسح به وکړي مخامخ به سي تکبير به ووايي بيا به صفا ته ولاړ سي هلته به پر بيتي شريفي مخامخ ودريږي دعا او تکبير او تهليل به وايي،



Maktaba Tul Ishaat.com

باب دى په بيان د طوافو كي

سوال:

طوافونه ټول څو دي؟

جواب: طوافونه اووه (۷) دي:

۱ . طواف زيارت، دا فرض دى .

۲ . طواف عمره، دا ركن دى .

۳ . طواف صدر، دا واجب دى،

۴ . طواف نذر، دا واجب دى .

۵ . طواف قدوم، دا سنت دى افاقي لره .

٦ . طواف تحيه، دا نفل دى .

۷ . طواف نفلي، دا نفل دى .

سوال:

حاجي مفرد يا قارن افاقي د زحمت په وجه سعي تر خپل وخت چي وروسته له طواف زيارت څخه ده مخكي تر طواف كولاى سي كه يا؟

جواب: هوا كولاى يې سي، خو د قارن لپاره د سعي تقديم افضل كار دى .

سوال:

طواف صدر يا وداع پر حاجي سته كه يا؟

جواب: پر افاقي باندي سته نه پر معتمر سته نه پر هغه چا سته چي هغه داسي وي لكه مكي .

سوال:

اول وخت د طواف الوداع كوم وخت دى؟

جواب: له طواف زيارت وروسته، نه رمل او نه سعي پكښي سته .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:

طواف وداع په عذر سره ساقطیږي که یا؟

جواب: هو، خو که غیر معذور حاجي او طواف وداع یې نه وکړ نو جبیره به یې دم وکړي، هیڅ طواف په وخت پوري معین نه دی ماسوا له طواف نذري .

سوال:

که څوک په طواف شروع وکړي اتمام یې لازم دی که یا؟

جواب: هو! لازم دی، ځکه الله (ج) وایي (وَلَا تُبْطِلُوٓا اَعْمَالَكُمْ)

فصل په شرائطو د صحت د طواف کې

سوال:

د طواف زیارت د صحت شرائط څو دي؟

جواب: د طواف زیارت د صحت شرائط اته(۸) دي:

۱ . اسلام .

۲ .عقل .

۳ . تمیز .

۴ . په حج سره احرام تړل .

۵ . پر عرفات درېدل .

٦ . نیت د طواف زیارت کول .

۷ . داخلېدل د وخت چې د لوی اختر سهار دی .

۸ . ځای د طواف چې مسجد حرام دی، طواف زیارت او وه شوطه دي اول څلور فرض دي او درې واجب دي .

طواف زیارت په هیڅ شي نه فاسدیږي بې ارتداده، طواف زیارت نه قضا کیږي مګر په تاخیر سره یې پسه لازمیږي، طواف زیارت هیڅ بدل او

Maktaba Tul Ishaat.com

عوض نلري مگر که له عرفات وروسته وفات سو وصيت يې کړی وو د حج په پوره کېدو سره نو وکيل به يې اوښ يا غويي ذبح کړي .

فصل په مکان د طواف کي

شا و خوا د بيتـې شريفي داخل د مسجد حرم پر شا د زم زم يعني که زم زم داخـل سي په طواف کي هم صحت لري که پر بام د مسـجد وي که څه هم د بيتـې شـريـفـي نـه پورته وي هم صحت لري څکه لمونځ پر جبل ابي قبيس روا ده چي تر بيتې شريفي پورته او بالا هم دی .

. . .

فصل په واجباتو د طواف زيارت کي

سوال :

د طواف زيارت واجبات څو دي ؟

جواب: د طواف زيارت واجبات اووه (۷) دي:

۱ . پر خپلو پښو طواف کول که معذوره نه وو .

۲ . پـر راستـه طرف طواف شروع کول که يې پر راسته طرف شروع نه کړ بيا به يې بيرته را کرزوي يا به دم باندي لازميږي .

۳ . طواف زيارت اووه کښته پوره کول .

۴ . شـروع د طـواف لـه حـجـر اسـود څخـه نـه بـه مـخـکي وي نـه شاتـه او حطيم به پکښي داخل وي .

۵ . په کامل طهارت او داسه باندي کول .

٦ . د عورتو پټوالی په طواف زيارت کي .

۷ . طواف زيارت د اختر په درو ورځو کي کول .

Maktaba Tul Ishaat.com

فصل په رکعاتو د طواف کي

سوال:
دوه رکعاته لمونځ د طواف واجب دی که سنت؟
جواب: واجب دی .
سوال:
په مکان یا زمان پسي مختص دی که یا؟
جواب : نه دی مختص هر ځای صحت لري .
سوال:
پیوستوب په مابین د طواف او لمانځه د طواف کي سنت دی که واجب ؟
جواب : سنت دی .
سوال :
افضل مکان د طواف د لمانځه لپاره کوم ځای دی؟
جواب : مقام ابراهیم دی بیا حطیم دی بیا مسجد حرم دی . (۱)
سوال :
کله چي په مسجد حرم کي لمونځ کوې تېرېدونکی بندولی سې که یا؟
جواب: کله چي په مسجد حرم کي لمونځ کوې مناسب دا دی چي تېرېدونکی بند نه کړې، احمد او ابو داود روایت کوي له مطلب بن ابی وداعه څخه چي هغه نژدې و دروازې د بني سلیم ته لمونځ کاوه او خلک یې مخ ته تېرېدل او ستره هم نه وه، ظاهره دا ده چي دا طواف کونکي وو ځکه طواف هم لونځ دی لکه چي د ده مخ ته د لمانځه صفونه ولاړ وي او طحاوي هم وايي چي په حضور د کعبې کي د لمونځ کونکي مخ ته تېرېده جائز دي .

۱ .ارشاد الساری ص ۱۰۵

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال :
آيا د طواف لمونځ خاص په مقام ابراهيم كي كيږي لكه آيت چي وايي
جواب: لمونځ په ټول حرم كي كيږي او مراد په آيت كي هم ټول حرم دى، ځكه اكثره صحابه كرامو د طواف دوه ركعاته لمونځ په مسجد كي بغير له مقام ابراهيم څخه كړى دى .
سوال :
كه د مازيگر له لمانځه وروسته چا طواف پوره كړ نو د طواف لمونځ به څه وخت كوي؟
جواب: د ماښام له فرضو وروسته او له سنتو مخكي ځكه چي واجب دى او تر سنتو مخي پر سړي لازم سوي دي سنت به وروسته كوي او كه جنازه هم وه نو اول به د ماښام فرض كوي بيا به جنازه كوي او بيا به د طواف لمونځ كوي او بيا به سنت كوي .
سوال :
په مكروه وخت كي د طواف لمونځ صحيح دى كه مكروه؟
جواب : د طواف لمونځ په مكروه وخت كي مكروه دى .
سوال :
له اول جماعت وروسته د هر مذهب والا ځانته جماعت درول صحت لري كه يا؟
جواب : اول جماعت اولىٰ دى كه امام د هر مذهب وي او دا نور جماعتونه بدعت، قبيح او مكروه تحريمي دي په اتفاق د څلورو مذاهبو .

فصل دى په سنتو او مستحباتو او مكروهاتو د طواف كي

سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

طواف او سعی سره متصل کول څه حکم لري او څومره فاصله ور کولای سي؟

جواب: پیوسته کېدل د سعي په طواف پسي سنت ده خو بنا پر توسع خوراک یا څیښناک په مابین کي کولای سي، مګر خاص داوو شوطو په مینځ کي خوراک مکروه دی، او څیښناک هم څوک مکروه بولي او چا بیا جواز ور کړی دی .

سوال:

د ښځي او نر د طواف مستحبه طریقه کومه ده؟

جواب: د نر لپاره مستحب دي چي کعبې ته نژدې وي که خلکو ت ضرر نه وو او د ښځي لپاره مستحب دا دي چي لري وي که وخت خاص د ښځو لپاره نه وو او یا د خلکو ډېر رش نه وو او بل ښځو ته دا مستحب دي چي د شپې طواف وکړي که څه هم سپین سري وي ځکه چي شپه سترناکه ده د ښځي لپاره .

سوال:

د طواف په وخت کي لاسونه څنګه نیول پکار دي؟

جواب: په طواف کي باید لاسونه کښته پرېښودل سي او داسنت طریقه ده په طواف کي او لاسونه پر تشي یا څټ نیول مکره دي او د لمانځه پر ز قم لاس نیول له سنتو خلاف کار دی .

سوال:

په طواف کي خبري کول څنګه دي؟

جواب: رسول الله ﷺ وایي: (طواف پر بیت الله داسي دی لکه لمونځ مګر خو تاسي خبري په کي کوئ او خبري دی نه کوئ مګر د خیر) ترمذی، یعني خبري نه کول مستحب دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
په مسجد حرم کي په زوره اواز کول ځنګه دي؟
جواب: اواز پورته کول په مسجد حرم کي حرام دي که څه هم په ذکر سره وي يعني سوکه ذکر کول او دعا مستحب ده خو که طواف کونکو يا لمونځ کونکو ته ضرر وو بيا سوکوالي واجب دی .
سوال:
په طواف کي يوې او بلي خوا ته کتل يا ځا ن مشغوله کول ځنګه دي؟
جواب: په طواف کي يوې او بلي خوا ته نه کتل او ځان ساتل له هغه څه چي له طواف سره ضد وي يا سړی له حضوره مشغولوي مستحب دي .
سوال
: په طواف کي سلام اچول يا ردول يا د پرنچي په وخت کي حمد ويل يا د بل د پرنچي په جواب ويل ځنګه دي؟
جواب: په طواف کي مذکوره شيان پروا نلري .
سوال:
په طواف کي په زوره قرآن ويل ځنګه دي؟
جواب: په طواف کي په زوره قرآن ويل مناسب نه دي، همدا رنګه د امام اعظمؒ پر مذهب سوکه ويل هم مناسب نه دي .
سوال:
په حج کي فتوی ورکول افضل کار دی که نفلي عبادات؟
جواب: فتوی افضل کار دی تر نفلي عبادت .
سوال:
په طواف کي په زوره اواز کول جائز دي که يا؟
جواب: اواز پورته کول که څه هم په ذکر يا دعا د تلاوت سره وي مکروه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

خو په داسي اندازه چي لمونځ کونکي يا طواف کونکي په تشويش کي اچوي .

سوال:

که څوک له هر طواف سره خپل لمونځ و نکړي او طوافونه سره متصل کي جواز لري که يا؟

جواب: مکروه دي خو که په مکروه وخت کي وي بيا اتصال پروا نلري او لمنځونه به وروسته کوي په صحيح وخت کي .

سوال:

د خطبې يا جماعت په وخت کي طواف صحيح دی که يا؟

جواب: د خطبې په وخت کي طواف مطلقاً مکروه دی او د فرضي لمانځه د جماعت په وخت کي طواف مطلقاً شروع کول هم مکروه دی مګر که احتمال د پوره والي يا بيا جماعت نيولو وو نو ظاهره دا ده چي پوره کول يې تر پرېښودلو اولیٰ ده .

سوال :

رمل او اضطباع پرېښودل څنګه دي ؟

جواب : پرېښودل يې مکروه دي او که ضرورت وو بيا پروا نلري .

سوال:

که چا طواف وکړ او د طواف لمونځ يې هېر سو او بل طواف يې شروع کړ بيا ور په ياد سو څه به کوي؟

جواب: که تر شوط پوره کولو مخکي ور په ياد سو نو طواف دي پرېږدي لمونځ دي وکړي او که تر شوط پوره کولو وروسته ور په ياد سو بيا دي طواف نه پرېږدي پوره دي کړي او وروسته دي د دواړو طوافو لمونځ وکړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال :

که یې اته شوطه په دې گمان وکړو چې اووه دي څه حکم لري؟

جواب : که د ده په گمان اتم شوط اووم شوط وو پروا نلري شی نسته پر .

سوال :

کـه پـه طـواف رکـن کـي د شوطو پـه حساب کي شک ور تـه پیدا سو څـه بـه کوي؟

جـواب : پـه طـواف رکـن کـي کـه شک ور تـه پیـدا سو کـه د حج وي کـه د عمرې بیرته دي له سره را وگرزي احتیاطاً .

سوال:

پـه طـواف کـي ذکـر ویـل افـضـل دی کـه تلاوت ، او بې ضرورته عبث خبري کول څنگه دي ، سنت طریقه څه ده؟

جـواب : پـه طـواف کـي عـبث خبري کـول ډېر لـوی غفلت دی .او لـه رسول الله ﷺ څـخـه یـوازي اذکـار ثـابت دي او لـه سلفو هم یوازي اذکار ثابت دي نو ځکه اذکار تر تلاوت د قرآن اولی دي په طواف کي .

سوال :

عالم باید جاهل ته څنگه طریقه ور وښیئ؟

جـواب : عـالـم باید جاهل په نرمۍ سره پوه کړي لکه چې الله (ج) وایي: (ته را بلل کوه و لاري د رب خپل ته په حکمت او ښه موعظت سره)

سوال :

نفلي طواف افضل دی که نفلي لمونځ ؟

جـواب : و افـاقـي تـه یـعـنـي چي د مکې اوسېدونکی نـه وي هغـه تـه طواف افـضـل دی تـر نـفـلـي لـمـانـځـه ځکه نفلي لمونځ هر ځای کیږي او طواف هر ځای نه کیږي یوازي په مکه کي کیږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
که له حجر اسود مخکي څوک طواف شروع کړي صحيح دی که يا ؟
جواب: زموږ پر مذهب مختاره دا دی چي طواف له حجر اسود څخه شروع کول واجب دی نو مخته شروع کول مکروه تحريمي دی .

سوال:
په طواف کي له ښځو سره د نرو کډېدل څنګه دی؟
جواب: په طواف کي له ښځو سره د نر و کډېدل او چي زينت يې هم کړي وي او د خلکو توجه ور اوړي دا سخت منکر کار دی خو په محاذات سره بيا هم طواف نه فاسديږي .

سوال:
په طواف کي د خلکو پوری وهل لپاره د دخول د اکابرو يا د حجر اسود د ستقبال لپاره او د خلکو مراعت نه کول جائز دی که يا؟
جواب: دا سخت منع او منکر کار دی بايد چي ځان ځيني وساتل سي .

سوال:
د طواف په وخت کي لويان يا کوچنيان يا ړانده يا شليان د طواف په لاره کی کښېناستل او په نارو سره خيرات غوښتل څنګه کار دی؟
جواب: دا سخت منکر کار دی د طواف په وخت کي د معذورو يا غير معذورو سوالګرو کښېناستل که ناري وهي او که يې نه وهي دا منع دي او پر نورو خلکو د دوی منع کول واجب دي په لاس يا په ژبه يا په زړه سره د خپل وس مطابق، او خاص بيا پر مشائخو او قاضيانو د حرم او پر خادمانو د دروازو .



Maktaba Tul Ishaat.com

باب ى په بيان د سعي كي پر صفا او مروا

سوال:
صفا ته څومره ختل ضروري دي؟
جواب: صفـات تـه دومره ختل ضروري دي چي د صفا لـه دروازې كعبـه وويني دا نه دى لازم چي بيته به ويني لـه دېواله دپاسه .
سوال:
پر صفا د لاسو پورته كولو څه طريقه ده او څو واره دي؟
جواب: مخامخ دي كعبې ته ودرېږي لاس دي داسي پورته كړي لكه په دعا كي او تر اوږو دي نـه لوړوي د الله (ج) حمد دي ووايي او تكبير دي ووايي درې درې واره او لـه تكبيرو سره دي لاس كښته او پورته نه كوي بلكې د دعا پر رقم بې نيولي وي او چي لاس پورته كړي دغه دعا دي ووايي: (اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ ، وَ اللّٰهُ اَكْبَرُ عَلٰى مَا هَدَانَا ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى مَا هَدَانَا وَ أَوْلَانَا ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ، لَهُ الْمُلْكُ ، وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَ يُمِيْتُ ، بِيَدِهِ الْخَيْرِ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ صَدَقَ وَعْدَهٗ ، وَ نَصَرَ عَبْدَهٗ ، وَ هَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُوْنَ. اَللّٰهُمَّ كَمَا هَدَيْتَنِيْ لِلْاِسْلَامِ اَسْأَلُكَ اَنْ لَّا تَنْزِعَهٗ مِنِّيْ حَتّٰى تَوَفَّانِيْ وَ اَنَا مُسْلِمٌ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَ لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَ سَلِّمْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى آلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ اَتْبَاعِهٖ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَ لِوَالِدَيَّ وَ لِمَشَائِخِيْ وَ

Maktaba Tul Ishaat.com

لِلْمُسْلِمِيْنَ اَجْمَعِيْنَ وَ يُسَلِّمُ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ)

سوال:

څومره وخت به پر صفا دریږي؟

جواب: پر صفا به په دعا او ذکر سره دومره وخت تیروي چې په دغونه وخت کې د سورت بقره (۲۵) ایاته ویل کیږي، او تلوار به نه کوي ځکه دا د دعا د قبلیدو او د حاجت د پوره کېدو ځای دی، همدارنګه مروا ده لکه صفا .

سوال:

د صفا او مروا په مابین کې د سعي څه طریقه ده؟

جواب: د صفا او مروا په مابین کې سعي واجب ده مګر د میلینو په مابین کې د نارینه لپاره منډه کول سنت ده او دا دعا به وایي: (رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَ تَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمُ اَنَّكَ اَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَكْرَمُ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ حَجًّا مَّبْرُوْرًا وَّ سَعْيًا مَّشْكُوْرًا وَّ ذَنْبًا مَّغْفُوْرًا اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ وَلِوَالِدَیَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَا مُجِيْبَ الدَّعْوَاتِ وَ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا)

چې کله تر دواړو میلینو تېر سي بیا به پر خپل هیئت ځي یعنې ټول مزل به په عادي تګ نه کوي لکه ځیني متکبرین .

سوال:

مروا ته څومره ختل کفایت کوي ؟

جواب: که څوک پر اوله درجه (ځینه) ودریږي بلکې پر مځه دمروا هغه هم ختلی ویل کیږي نور ختل نه دی ضروري او نه په دېوال پسې نښلېدل ضروري دي .

سوال:

په صفا او مروا کې دیکې وهل او خلک په تکلیفول څه حکم لري؟

جواب : خلکو ته تکلیف رسول حرام دي ځان به ځیني کوږي او دا عمل په

Maktaba Tul Ishaat.com

فسق كي داخل دي .

فصل دى په شروطو او واجباتو او سنتو د سعي كي

سوال :

په حج كي له ځانه نائب درول څنګه دى؟

جواب : په حج كي له ځانه نائب درول نه دى صحيح مګر كه يو څوک تر احرام مخكي بيهوښه سي له هغه څخه نائب درول صحيح دى ځكه نيت نسي كولاى د احرام او كه له احرامه بعد بيهوښه سي نائب نسي نيولاى ځكه سعي ممكنه ده چي په يو شي كي يې بار كړي .

سوال :

كه تر طواف مخكي چا سعى وكړه څه حكم لري؟

جواب : د سعي شرط دا دى چي تر طواف وروسته به وي او تر طواف مخكي سعي كول نه دى صحيح ليكن كه د طواف څلور شوطه يا زيات تر دې وكړي بيا سعي وكړي پروا نلري .

سوال :

كه چا سعي له مروا شروع كړه څنګه ده؟

جواب : د سعي شرط دا دى چي له صفا څخه به شروع كيږي او پر مروا به ختميږي كه يې له مروا شروع كړه هغه وار به نه حسابي چي كله له صفا را وګرزي هغه يې اول وار بلل كيږي او شپږ به نورو ورسره ملګري كوي او اول وار لغوه دي نه حسابل كيږي، اول له صفا تر مروا يو شوط دى او له مروا تر صفا دوهم شوط بلل كيږي او كه يې را و نه ګرزوي نو د هغه به جزا او بدله وركوي .

سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

سعي څو واره ضروري او واجب ده؟

جـواب: اووه واره سعـي پـوره كـول واجب ده كه اووه واره يې پوره نه كړي د پاته وارو به صدقه وركوي .

سوال:

چي پر يو شي سپور وي او سعي د صفا او مروا په مابين كى كوي دا صحيح دى كه يا؟

جـواب: په سعي كي پياده تګ كول واجب دى كه بې له عذره څوک پياده تګ پريږدي نو دم پر لازميږي، او كه عذر وو بيا پروا نلري .

سوال:

كه په سعي كي د چا عورت لو څ وي څه حكم لري؟

جـواب: پـه سـعـي كـي عـورت پـټـول سـنـت دى كه يې چيري پټ نه كړي نو تـارک د سـنـتـو دى او د عـورت پـټـول خو مطلق فرض دى نو د ستر د فرضو د بربنبودو په وجه هم ګنهكار دى، او په طواف كي عورت پټول واجب دى .

سوال:

په سعي كي څومره اندازه خبري او خوراک او څنبـاک كـولاى سي؟

جـواب: چـي سـړى نـه مـشـغـولـه كوي دومره خبري كولاى سي لـكـين افـضـل پـربنبودل دي د هغو خبرو چي مقصودي نه وي په هر وخت كي خصوصا بيا پـه سـعـي كـي چـي عبـادت دى همدا رنګه او به څنبـل او خوراک هم جائز دى خو چي پيستوب نه پرې كوي .

سوال:

كه پيوستوب پريږدي څه حكم لري؟

جـواب: د سعي د شوطو تر مابين ډېر تفريق را وستـل د سنت خلاف عمـل دى او همدا رنګه را نيول او خرڅول او هغه خبري چي سړى مشغـولوي دا د سنت

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاف عمل دی .

سوال : چي له سعي فارغ سي څه به کوي؟

جواب : دوه رکعاته لمونځ به کوي په مسجد کي دا مستحب عمل دی .

سوال :

اضطباع يعني راسته اوږه لوڅول او چپه اوږه پټول او رمل يعني اوږي ښورول په هر طواف کي سنت دي؟

جواب :په هغه طواف کي سنت دي چي له هغه وروسته سعي وي او په نورو کي نه دي سنت .

سوال :

په مسجد کي به تلبيه په زوره وايي که سوکه ؟

جواب : دومره په زوره بې نه وايي چي لمونځ کونکو ته تشويش پيدا کړي .

سوال :

متمتع چي کله هديه وليږي دستي عمره کولی سي؟

جواب : متمتع چي کله هديه وليږي په مکه کي به مقيم پاته کيږي نو په دغه وخت کي عمره نسي کولی چي محرم وي .

سوال :

تلبيه به تر څه وخته وايي؟

جواب : تر هغه وخته به تلبيه وايي چي د عمرې په طواف شروع کوي چي هر کله په طواف شروع وکړي نور به تلبيه پريږدي .

سوال :

متمتع تر څه وخته عمره نسي شروع کولی سي؟

جواب : چي کله سر وخريي ځان حلال کړي بيا عمره کولای سي تر هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

مختته يې نسي کولای .

سوال: په عمره کي مستحبه طريقه کومه ده ؟

جواب: مستحب ډېروالی د عمرو دی مخکي تر مياشتو د حج، خو امام شافعيؒ د حج په مياشتو کي هم د عمرو ډېروالی روا بولي .

سوال:

زياتي عمرې کول افضل دي که زيادت طوافونه؟

جواب: زيادت طوافونه کول افضل دي ځکه طوافونه مقصود دي، او طواف هر وخت صحيح دی او بل له دې وجهي چي ځيني علماوو په يو کال کي ډېري عمرې مکروه بللي دي .

او د عمرو ډېروالی خاص د بياباني لپاره سته د مکې لپاره نسته، او تکرار د عمرو په روژه کي مستحب دي ځکه له يوه هغه حج سره برابر دي چي له رسول الله ﷺ سره يې کړي وي، او مکي او هغه چا ته چي په ميقات کي داخل وي عمره مکروه ده په مياشتو د حج کي .

سوال:

کله چي عرفات ته ځي څه به وايي؟

جواب: چي کله لمر را وخيژي د عرفات پر لور به روان سي بنه په باطني او ظاهري اطمينان به تلبيه وايي لا اله الا الله به وايي تکبير به وايي حمد به وايي تسبيح به وايي استغفار به وايي دعا به کوي او ذکر به کوي او درود به وايي په سر او پای کي او هر ساعت به تلبيه وايي .

سوال:

هغه لس کلمې کومې دي چي مستجابې دي؟

جواب: هغه کلمې دا دي: (سُبحَانَ الَّذِیْ فِی السَّمَاءِ عَرْشُهُ ،سُبحَانَ الَّذِیْ فِی الاَرْضِ مَوْطِئُهُ، سُبحَانَ الَّذِیْ فِی البَحْرِ سَبِیْلُهُ ،سُبحَانَ الَّذِیْ فِی النَّارِ سُلْطَانُهُ،

Maktaba Tul Ishaat.com

سُبْحَانَ الَّذِىْ فِى الْجَنَّةِ رَحْمَتُهُ، سُبْحَانَ الَّذِىْ فِى الْقُبُوْرِ قَضَاؤُهُ، سُبْحَانَ الَّذِىْ فِى الْهَوَاءِ نِعْمَتُهُ ،سُبْحَانَ الَّذِىْ رَفَعَ السَّمَاءَ ، سُبْحَانَ الَّذِىْ وَضَعَ الْاَرْضَ ، سُبْحَانَ الَّذِىْ لَا مَنْجَا مِنْهُ اِلَّا اِلَيْهِ)

كه څوک په دغو دعاګانو زر (۱۰۰۰) واره دعا وکړي الله (ج) به هغه سوال ور پوره کړي .



باب دی په وقوف د عرفات

کي او په احکامو د عرفات کي

سوال:

عرفات ته د تللو طريقه څنګه ده!

جواب: کله چي عرفات ته ورسيږي له خلکو سره دي يو ځای سي ځکه په يوازيوالي سره يوقسم تکبر راځي افضل دا دی چي له جبل الرحمت سره شوه سي که تکليف نه وي او تياره نه وي چي کله عرفات ته ورسي هلته به درنګ کوي او په دعا او ذکر او درود دي ځان مشغول ساتي چي وخت ضائع نه سي او تلبيه دي وايي سنت او افضل ذکر دا دی: (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِىْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ) ، او زيات استغفار به وايي .

سوال:

غسل او خوراک او څښاک او نور ضروريات به تر زوال مخته پوره کوي که وروسته؟

جواب: افضل دا دی چي ټول ضروريات تر زوال مخکي پوره کړي چي پر عرفات بيا ذکر ته فارغ سي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
كه حاجي عرفات ته ورنسي او په مسجد نمره ودريږي حج يې صحيح دی كه يا؟
جواب: كه سړی عرفات ته ورنسي او اقتصار پر مسجد نمره وكړي حج يې نه دی صحيح ځكه د مسجد نمره اول حدود په عرفات كې نه دی داخل.
سوال:
عرفات ته د ختو لپاره كوم وخت أفضل دی؟
جواب: افضل دا دی چې عرفات ته تر زوال مخكې ورسي.
سوال:
ذبح او حلق به چيرې كوې؟
جواب: ذبح او حلق په حرم كې واجب دی؟
سوال:
د طواف زيارت لپاره كوم وخت افضل دی؟
جواب: داختر اوله ورځ افضله ده خو په شپه كې هم طواف كولای سې.
سوال:
جمع د لمنځو په مسجد نمره يامسجد ابراهيم كې مخكې ترعرفات او جمع د لمنځو په سفر كې څه فرق سره لري كه يا؟
جواب: جمع د لمنځو په مسجد نمره كې حقيقي جمع ده، د ماپښين او مازيګر د لمانځه په اول وخت په ماپښين كې، او جمع د لمنځو په سفر كې صرف صوري او ظاهري جمع ده حقيقي جمع نه ده هغه داسې چې د ماپښين لمونځ وروسته كړي او په اخير وخت كې يې وكړي او د مازيګر لمونځ را مخته كړي په اول وخت كې يې وكړي نو حقيقتا جمع نه راغلله دواړه لمنځونه په خپل خپل وخت كې ادا سوو، همدې ته صوري جمع وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: کـه چیـري د منـی تـر وتـلـو مخکي ۱۵ شپې پوره کېدې د اقامت نیت صحیح کیږي او کـه نـه پـوره کېدې نـه صحیح کیږي .

سوال ::

که سړی د قامت نیت وکړي او ۱۵ شپې پاته وي لمونځ به څو رکعاته کوي؟

جواب: مقیم سړی به لمونځ پوره کوي او که امام وي که مقتدي د مقتدي لپاره نه دی روا چې په مقیم امام پسې اقتدا وکړي او لمونځ څلور رکعاته نـه کـوي او کـه امـام مسـافـر وي لـه سلامـه وروستـه دي مقیم خپل څلور رکعاته پوره کړي .

سوال:

که څوک په مکه او منی کي د اقامت نیت وکړي صحیح کیږي ؟

جواب: د اقامت نیت په مکه او منی کي نه دی صحیح .

سوال:

د جمعې لمونځ په عرفات کي صحیح دی که یا؟

جواب: د جمعې لمونځ په عرفات کي نه دی صحیح ځکه صحرا ده، او په خلکو نـه ښـار کیـږي ځکـه کورونه او بناوي نسته او په منی کي صحیح دی .

فصل دی په شرطونو د یو ځایوالي
د ماپښین او مازیگر د لمانځه کي

سوال:

جمع په مابین د دوو لمنځو کي روا ده ؟

جواب: جمع په مابین د دوو لمنځو کي روا ده خو په شپږو شرطو:

۱ . احرام د حج بې تړلي وي مخکي د ماپښین او مازیگر تر لمنځو، که یوازي تـر مـازیـگر مخکي احرام وتړي او یا د حج نه بلکي د عمرې یې تړلي

وي یا مینبین یې یوازي د عمرې احرام تړلی وئ او مازیګر د حج، نو بیا جمع په مابین کې د دوو لمنځو نسي کولی په نزد د امام اعظمؒ .

۲ . د ماپښین لمونځ به مخته کوي د مازیګر دا وروسته که چیرې د مازیګر لمونځ مخته کړې بیا جواز نلري .

۳ . د عرفات ورځ به وي بعد له زواله مخکې تر دخول د مازیګر .

۴ . عرفات به وي یا به قریب و عرفات ته وي خو ښه دا دی چې عرفات نه وي بلکې نژدې و عرفات ته وي .

۵ . په دواړو لمنځو کې به جماعت وي که په یو یا دواړو کې جماعت نه وي بیا صحت نلري .

٦ . باچا یا د هغه نائب به دواړه جماعته ورکوي که بل څوک د امام بې اجازې دواړه لمنځونه سره جمع کړي نو د مازیګر لمونځ یې نه دی صحیح په نزد د امام اعظمؒ .

سوال:

پر عرفات درېدل په کومه طریقه سنت دی؟

جواب: پر عرفات درېدل له هغ غټو تورو فرش سوو ډبرو سره پر همدغه د رسول الله ﷺ د درېدلو ځای اټکل کیږي لاس به پورته کوي غوږ ېدلی ډېره په زوره دعا به نه کوي او د قبلېدو بې تېنګ امید وي او دعا به درې واره مکرره وي او درود به وایي او ختموي به یې په امین سره او حمد او صلوٰة سره او مخامخ به وي بیت الله ته دعا به کوي تر لمر لوېدلو پوري .

سوال:

پر عرفات تلبیه ویل کیږي؟

جواب: هو! تلبیه به هم یو یو نوبت وایي او کوشش به کوي چې له سترګو یې یو څه او ښکې ولاړې سي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
د رسول الله ﷺ د درېدلو ځاى كوم دى؟
جواب : د رسول الله ﷺ د درېدلو ځاى په داسې طريقه دى چې جبل الرحمة دې راستــه طرف ته وي او بناء مربع دې چپه طرفته وي تر دغه لږ څه مخكې د رسول الله ﷺ د درېدلو ځاى دى، يعني لـه هغو تورو ډبرو سره نژدې و جبل الرحمة ته .
سوال :
تر وخت مخكې يا وروسته جبل رحمت ته ختل او هلته درېدل لږ څه درنګ كول څنګه دې؟
جواب: غره ته ختل او خلګ ورته تشويقول او درنګ كول اورونه بلول نر او ښځې سره ګډېدل دا ټول بدعت دې هيڅ اصل نلري .
طبراني په اوسط كې له ابن عمرؓ څخه روايت كوې چې دى عرفات ته وختى او ويل يې : (اِلَيْكَ تَعْدُوقُلِقًا وَضِيْنُهَا... مُخَالِفًا دِيْنَ النَّصَارى دِيْنُهَا)
سوال :
پر عرفات د درېدلو د صحت شرطونه كوم دې؟
جواب :د عرفات د درېدلو د صحت شرطونه دا دې:
١ . اسلام
٢ . د حج احرام، نه د عمرې
٣ . پر خپل وخت به وي نه تر وخت مخكې او نه وروسته
٤ . پرعرفات به وي نه بل ځاى
خوب او ويښتيـا، بې هوښې او مستې، حيض او طهارت، لږ وخت تېرول او تر لمر لوېدو درنګ كول دا ټول سره برابر دې فرق نلري .
سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

ددعاء مستحبات كوم دي؟

جواب: د دعاء مستحبات دا دي:

۱. لاس پورته کول طرفته د اسمان او اسمان يوازي د دعا قبله ده.

۲. دعا مكرر ول دري واره.

۳. د دعا په سر او پاى كي حمد، درود او آمين ويل.

۴. له لمره ځان نه پټول كه يې په دعا كي حضور نه او ښتى او يا معذور نه وو.

۵. زياتوالى د نېكو اعمالو لكه روژه نيول يا نور اعمال كه ضعيف نه وو.

سوال:

د عرفات حدود كوم دي؟

جواب: اولنۍ حصه د مسجد نمره په عرفات كي نه ده او اخيره حصه داخله ده.

سوال:

كه څوک تر لمر لوېدو مخكي عرفات ته وخيژي څه حكم لري؟

جواب: كه چيري پر عرفات ودريږي تر لمر لوېدو وروسته را كښته سي هيڅ نسته ورباندي او كه تر لمر لوېدو مخكي را كښته سي نو دم پر لازميږي كه څه هم تر لمر لوېدو وروسته بيرته ور پورته سي نور كه په خپل اختيار را كښته سوى وي او كه بې اختياره، او كه چيري تر لمر لوېدو مخكي بيرته ورسي او پر عرفات ودريږي او هلته له لمر لوېدو وروسته څه بيا را كښته سي بيرته دم ځيني ساقطيږي.

سوال:

كه چيري د عرفات شپې وركي سوې نو په بل ځاى كي د مياشتي د ليدلو

په حساب به حکم کوي که یا؟
یعني اختلاف د مطالعو معتبر دی که یا؟
جواب: اختلاف د مطالعو نه دی معتبر په لیدلو د اهل مغرب او اهل مشرق حکم کولای سي او په ثبوت په یوه ښار کي پر ټولو خلکو لازمیږي په ظاهر الروایة کي او دا قول مختار د مشائخو دی، خو ځیني علماء وایي که د یوې میاشتي په اندازه سره لري وي بیا اختلاف معتبر دي .
سوال:
له عرفات څخه د راکښته کېدلو طریقه څه ده؟
جواب: کله چي له عرفاته کښته کیږي په ظاهري او باطني اطمینان او سکون سره به را کښته کیږي، او که چیري پراخي وه رش ډېر نه وو خلک نه ځیني په تکلیفېدل او یو څه تېز ولاړ سي پروا نلري، ځکه خلک په تکلیفول حرام کار دی نو د خلکو د تکلفیدلو په صورت کي به تېز نه ځي .
سوال:
مزدلفې ته د ورتګ طریقه څه ده؟
جواب: د ادب او عاجزی په خاطر مستحب دا دی چي کله مزدلفې ته ورنژدې سي پیاده کیږي به، او غسل مستحب دی که تکلیف نه وو، او جبل قزح ته به کښته کیږي که تکلیف نه وو .
سوال:
په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځ څنګه جمع کیږي؟
جواب: په مزدلفه کي به د ماښام لمونځ ځنډ وي تر څو د ماخستن وخت داخل سي او تلوار به باندي کوي او د فرضو په مینځ کي به په سنتو او نفلو سره تفرقه نه راولي‌او سنت او وتر به تر فرض لمانځه وروسته کوي .
سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

په مزدلفه کي د لمنځونو د جمع کولو شرائط کوم دي؟
جواب:د جمع کولو شرائط دا دي:
۱ . احرام په حج سره به وي نه په عمره سره .
۲ . د ماخستن وخت به وي .
۳ . په مزدلفه کي به وي .
۴ . له عرفاته به راغلی وي .
سوال:
که عرفات او لمونځ دواړه اخيره وخت ته راغله او وخت کم وي دواړه نسني ځايولای نو کوم يو به پريږدي؟
جواب: لمونځ ، ځکه يو فرض د بل فرض د راتک له وجهي نه پرېښودل کيږي او د حج وخت تر آخير د عمر پراخ دی بل کال به يې وکړي او د لمونځ وخت کم دی ،
نو دا معلومه سوه چي څوک د حج په لاره کي لمنځونه قضا کوي يا يې بې وخته کوي هغه به ډېر تاواني وي .
سوال:
په مزدلفه کي شپه تېرول څنګه ده؟
جواب: په مزدلفه کي شپه تېرول واجب نه ده بلکي سنت ده مناسبه دا ده چي تر سهاره به ويښ وي په عبادت دعا او نفلونو دي شپه تېره کړي ځکه په دغه شپه کي دعا مستجابه ګرزي نو سستي به نه کوي، ابن عباسؓ روايت کوي چي رسول الله ﷺ د عرفات په ماخستن خپل امت ته په مغفرت دعا وکړه الله (ج) قبوله کړه، الله (ج) ورته ويل ما ټول بخښلي دي ماسوی له هغه چا چي ظلم يې کړی وي هغه نه بخښم د مظلوم حق ځيني اخلم، بيا رسول الله ﷺ ورته وويل چي يا الله (ج) که ستا خوښه سي مظلوم ته جنت

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړه ظالم و بخښه الله (ج) ماښام جواب ورنکړ او سهار ئې دعا قبوله کړه ، کله چې شیطان خبر سو نو خاوري يې پر سر شندلې او پر ځان يې هلاکت وایو .

سوال :

په مزدلفه کي درېدل څنګه دي؟

جواب : په مزدلفه کي درېدل تر سپېدو وروسته واجب دي او تقدیم د وقوف پر عرفات دی، پر خپل وخت به وي تر سپېدو وروسته تر لمر ختو مخکي درېدل واجب دي که څه هم لږ وخت وي که څوک نه ودرېږي دم پر لازمېږي مګر که عذر لري یا نه ورته رارسېږي تر لمر ختو مخکي یا ضعیف وي یا کوچنی وي نو پروا نلري .

سوال :

د مزدلفې حدود کوم دي؟

جواب : د مزدلفې حدود مابین د هغو دوو تنګو لارو د عرفات او هغه دوه طرفه لاري د محسر راسته او چپه طرفته .

فصل په ادابو د توجه کي و منیٰ ته

سوال :

پر مزدلفه به څنګه درېږي؟

جواب : کله چي سپېدې راوخېژي په تیاره کي به لمونځ وکړي په جماعت سره که يې یوازي وکړي هم صحیح کېږي . مستحب دا دی چي امام او مقتدیان به ټول مشعر الحرام (جبل قزح) ته ځي، امام به مخامخ قبلې ته درېږي خلک به يې شاته او راسته او چپه طرفته ودرېږي مګر ښه دا دی چي پر جبل ودرېږي که ممکن وي ، کنه نو لاندي دي ودرېږي، که الله (ج) يې حج قبول کړي نو د بندګانو حقوق هم وربخښل کېږي ان شاء الله تعالی .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:

منی ته د تګ طریقه څه ده؟

جواب: منیٰ ته به په وقار سکون او اطمینان سره ځي مګر چې کله و محسر شېلې ته ورسیږي نو پر اندازه د یوې غورځېدلې ډبرې به تېز تګ کوي چې دا سنت طریقه ده، او د ابن عمر رضی الله تعالی عنهما فعل دی ځکه چې دلته د اصحاب فیل فیلان بند سوي دي .

سوال:

د ډبرو په اخیستو کې سنت طریقه څه ده؟

جواب: مستحب دا دی چې ډبرې له مزدلفې ورسره واخلې پر اندازه د خورما د زړي یا د لوبیا او روا دی چې له هره ځایه یې اخلې بې له مکروهوالي مګر یوازې له جمرې او مسجد څخه چې هر مسجد وي او له ناپاک ځای څخه اخیستل یې مکروه دي .

سوال:

آیا جمره عقبه په منی کی حساب ده؟

جواب: جمره عقبه په منی کی نه ده داخله ځکه منی د جمرې عقبی او محسر مابین دی او دا لاندې خصوصیات لري:

۱ . ډبرې ځیني پورته کیږي .

۲ . حاجیانو ته پراخیږي .

۳ . تپوسان غوښې نه پکښې غورځوي .

۴ . مچان پر ډوډۍ نه پکښې کښېني .

۵ . مچر پکښې لږ وي .

سوال:

د جمرې د ویشتلو په وخت کې به څه وایي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : د جمرې د ويشتلو په وخت كې به دا وايې: (بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَر رَغْمًا لِلشَّيْطَانِ وَ حِزْبِهٖ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ حَجِّیْ مَبْرُوْرًا وَ سَعْيِیْ مَشْكُوْرًا وَ ذَنْبِیْ مَغْفُوْرًا)

سوال :

د جمرې د ويشتلو خاص طريقه څه ده؟

جواب : د جمرې ويشتل په هيڅ هيئت نه دي مقيد جوازاً، مګر د برو بنوول نه دي رواء، او مستحب دی چې له جمرې به تقريبا پنځه ګزه يا زيات لرې وي ، او تر دې ورنږدې كېدل د سنت خلاف دي، او لاس به دومره پورته كوي چې تخرګ يې ليدل كيږي .

سوال :

تلبيه به تر څه وخته وايي؟

جواب : كله چې جمره عقبه او له ډېره وولي نور تلبيه ختميږي .

سوال :

د ذبح مسنونه طريقه څه ده ؟

جواب : كله چې له جمرې عقبی فارغ سي خپل ځای ته به ولاړ سي په بل شي به بې ضرورته ځان نه مصروفوي كه حج مفرد وي نو مستحب دا دی چې اول ذبح وكړې بيا سر وخريي او كه قارن يا متمتع وي نو سر خرېيل تر ذبح وروسته كول واجب دي، او د ذبح په وخت كې به دا الفاظ وايي: (وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمَاوعَاتِ وَالارْضَ حَنِيْفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ، إِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُكِیْ وَمَحْيَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ۔ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ) او دا دعا به وايي: (اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّیْ هٰذَا النُّسُكَ وَاجْعَلْهَا قُرْبَاناً لِوَجْهِكَ وَ عَظِّمْ اَجْرِیْ عَلَيْهَا) ، مګر دعا د تكبير او ذبح په مابين كې ويل مكروه ده، كله چې چاړه باندې كښېږدي وايي به (بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:

د سر خرېيلو مسنون طريقه څه ده؟او كمول يې روا دي كه به يې خامخا خرېيې؟

جواب: سر كمول صحيح دي مگر خرېيل يې افضل دي، او مسنونه طريقه دا ده چې مخ پر قبله به كښېني او په راسته طرف به شروع وكړي لكه رسول الله ﷺ چې دا فعل كړى دى، او ښځې به يوازي قصر كوي، نوكان به پرېكوي، برېتونه به لنډوي او ږيره چې تر قبضه زياته وي لنډوي به يې.

سوال:

د سر څومره اندازه خرېيل كافي دي؟

جواب: ټول سر خرېيل او يا كمول سنت دى او كه څلورمه حصه ئې و خرېيي يا يې كم كړي هم جائز دى خو مكروه والى لري، او ابن همامؒ وايي چې ټول سر به خرېيي په څلورمه حصه خرېيلو سره له احرامه نه وزي، او د سر د كمولو كمه اندازه قدر د يو بند د ګوتي دى د سر د څلورمي حصې د ويښتانو، كه سړى د خرېيلو پر ځاى ويښتان وكاږي هم روا دي، او د كمېدلو پر ځاى پهغاښو پرې كړي هم روا دي.

سوال:

كه سړى معذور وي سر نسي خرېيلاى او نه يې كمولاى سي څه به كوي؟

جواب: كه چيري سر خرېيل او كمول متعذر يعني نا ممكن وو، نه دي كوي هېله شي دي ځان حلال كړي، خالي چاره دي د خرېيلو پر رقم پر سر تېره كړي.

سوال:

د حلالېدو په وخت كي خپل يا د بل سر وخرېيي څه به كوي؟

جواب: كه څرک د حلاليدو په وخت كي خپل يا د بل سر و خرېيي پروا نلري

Maktaba Tul Ishaat.com

هيڅ ورباندي نسته .

سوال:

سر به چيري او څه وخت خريېي؟

جواب: د حج کونکي لپاره د سر خريېلو وخت د اختر اولنۍ درې ورځې او شپې دي، او د سر خريېلو ځای حرم دی د حج او عمره کونکي دواړو لپاره .

سوال :

کله چي ځان حلال کړي څه ورته روا دي؟

جواب: چي کله سرې حلال سي هر څه ورته روا دي پوازي جماع او دواعي د جماع نسي کولی تر څو چي طواف افاضه کوي او که طواف تر حلق مخکي وکړي بيا هيڅ نه دي ورته روا تر څو چي حلق کوي يعني حلاليدل د سر تر خريېلو تعلق لري .

فصل دی په بيان د وخت او شروطو د طواف زيارت کي

سوال:

طواف زيارت کله کيږي او طريقه يې څه ده؟

جواب: کله چي له رمي او ذبح او حلق څخه فارغ سي مسجد ته به راسي او تر لمانځه مخکي به طواف شروع کړي اوه شوطه طواف به وکړي بې له سعي او رمل، که يې په مخکي طواف کي کړي وو، او په دغه طواف کي اوږې ښورول مطلقاً نسته، او کله چي له طواف زيارت څخه فارغ سي بيا نو هر څه ورته روا دي حتی جماع هم کولی سي .

سوال:

د طواف زيارت لپاره کوم وخت معلوم دی؟

جواب: د طواف زيارت اول وخت د اختر د ورځي سپېدې ختل دي که څوک

Maktaba Tul Ishaat.com

تر سپېدو مخکي طواف وکړي نه دي صحيح ، خو دا واجب دی چي طواف زيارت به د اختر په اولو درو ورځو کي کوي که چيري تر دغو ورځو واوړي هر څومره وخت بعد يې هم کولی سي خو دم پر لازم دي .

سوال:.

د طواف د صحت شرائط څه دي؟

جواب: د طواف زيارت د صحت شرائط دا دي:

۱ . اسلام

۲ . احرام

۳ . وقوف پر عرفات

۴ . د اختر ور ځ به وي، نه مخته

۵ . داخل د مسجد شاوخوا د بيتې به وي

٦ . خپله به يې کوي نائب نسي درولای که څه هم معذور وي .

سوال:

د رمي او حلق او طواف په مابين کي ترتيب څنګه دی؟

جواب : ترتيب سنت دی که څوک طواف تر رمي مخکي کړي صحيح دی مګر مکروه او د سنت خلاف کار دی .

سوال :

:که حاجي د عرفات له درېدلو وروست مړ سي او په حج پوره کېدلو سره وصيت وکړي څه حکم يې دی؟

جواب : پهمذکوره صورت کي يې حج نور پوره دی صرف يوه اوښه به د ده له طرفه حلاليږي .

سوال :

رسول الله ﷺ څومره قرباني کړي دي او عليؓ څومره قرباني کړي دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جـواب : رسـول الله ﷺ (٦٣) او عـلـيؓ (٣٧) قـربانی په لوی اختر په مزدلفه کي وکړې .

سوال :

که څوک شپه په مکه کي تېره کړي څنګه دی؟

جواب : په مکه یا بل ځای کي په شپه نه تېروي ځکه په منی کي شپه تېرول سنت دي زموږ په مذهب، او د امام شافعيؒ په مذهب واجب دی .

❁❁❁

باب رمی الجمار

سوال :

جمرې ويشتل څه طريقه او څه حکم لري او وخت يې کوم دی؟

جـواب : جـمرې ويشتـل واجب دي کـه يـې څوک پرېږدي دم پر لازميږي او څلـور ورځي وخـت لـري د اختـر درې ورځي او څلورمـه د تشـريق ورځ ده يعني د اختر څلورمه ورځ، او له ورځ جمره عقبه ويشتل کيږي د سهار له سپېدو بيا د دوهمي ورځي تر سپېدو پوري، خو سنت وخت يې له لمر ختو وروستـه تـر زوالـه دی ، او تـر سپېدو مـخکي يا لمر لوېدو وروسته مکروه دی او کـه مـعذور يـا ښـځه وي تاخير پروا نلري، او که صبا ته پاته سي دم او قضا دواړه پر لازميږي .

سوال:

د اختر په دوهمه ورځ کومي جمرې او څه وخت ويشتـل کيږي؟

جـواب : دوهـمـه او دريـمه درې سره جمرې ويشتـل کيږي، او تر زوال مخکي ويشتـل يـې نـه دي روا، او مـعـذور لپاره هم تر زوال مخکي د جواز حکم نه دی راغـلی، نو سنت وخت په دا نورو ورځو کي له زواله تر لمر لوېدو پوري

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، او تر زوال مخکې په دوهمه او دریمه ورځ کې صحت نلري او څلورمه ورځ تر زوال مخکې مکروه دی، او څوک چې روا بولي په دوهمه او دریمه ورځ خاص په دریمه ورځ د تلونکي لپاره مخالفت له ظاهر الروایة او له متونو او له اجماع دی که څوک تر زوال مخکې رمی وکړي دم پر لازمیږي.

سوال:

په ضعیف قول فتوی ورکول څنګه دی؟

جواب: په مرجوح او ضعیف قول فتوی جهل او د اجماع مخالفت دی او عمل هم نه دی په صحیح.

سوال:

په مناسکو کې په یو قول په قیل سره تعبیر کول څنګه دي؟

جواب: په مناسکو کې د قیل قول نه دی معتبر او رمی یو امر تعبدي دی په عقل نه معلومیږي نو اتباع د نقل ته ضرورت سته او رسول الله ﷺ له زواله وروسته رمی کړې ده.

سوال:

څلورمه ورځ به څه وخت څلي ولي؟

جواب: څلورمه ورځ له سپېدو تر لمر لوېدو، مګر تر زوال مخکې مکروه دی او وروسته سنت دی.

سوال:

که څوک خاص په څلورمه ورځ تر زوال مخکې ځي هغه به څه کوي؟

جواب: د امام اعظمؒ په مذهب د تلونکي لپاره تر زوال مخکې هم جواز لري.

سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

د رمي مسنونه طريقه څه ده او څو ډبري دي؟
جواب: کله چي زوال وسي اول به لمونځ وکړي بيا به د اولي جمرې په ويشتلو پيل وکړي او د ډبرو د جمع کېدلو تر ځای به پنځه ګزه يا زيات لري وي او واجب دی چي اووه ډبري به يې ولي، او سنت دا دی چي په راسته لاس بې ولي، چي کله له رمی فارغ سي و چپ طرف ته به ميلان وکړي او پر اندازه د تلاوت ديوې سپارې يا د ربعي يا شل اياتو به مخامخ و قبلې ته ودريږي په عاجزۍ سره به لاس پورته کړي ځانته او ټولو مسلمانانو ته به دعا کوي بيا به دوهمي جمرې ته راسي همدا سي عمل به وکړي .
سوال:
کله چي په دوهمه ورځ جمرې ولي څه به کوي؟
جواب: چي کله په دوهمه ورځ جمرې وولي منی ته دي ولاړ سي هلته دي شپه تېره کړي همدا سنت دی، په دريمه ورځ به بيا تر زوال وروسته جمرې وولي مستحب دا دی چي هلته پاته سي او څلورمه ورځ هم جمرې وولي مګر که څوک په دريمه ورځ لهجمرو ويشتلو وروسته تر لمر لوېدو مخکي ولاړ سي پروا نلري او تر لمر لوېدو وروست تک مکروه دی تر سپېدو پوري که تر سپېدو مخکي ولاړ سي لا هم پروا نلري مګر تر سپېدو وروسته تک چي رمی يې نه وي کړې دم لازموي .
سوال :
په څلورمه ورځ تر زوال مخکي رمي کول صحيح ده که يا؟
جواب : په څلورمه ورځ افضله دا ده چي تر زوال وروسته رمی وکړي که ترزوال مخکي وي روا ده خو مکروه ده .
سوال :
د ځلي خاص ويشتل ضروري دي که څنګه؟

جواب: اول خو باید خاص ځلې وویشتل سي خو که و نه ویشتل سي نو نژدې باید ډبره ورته ولګیږي که لرې لګیږي نه دی صحیح، او که چیري په لرې والي او نژدې والي کي شک وي نو احتیاط دا دی چي را و یې ګرزوي.

سوال:

که اووه سره ډبري یو ځای ور وغورزوي صحیح دی که یا؟

جواب: هره ډبره به جلا ور غورزوي که ټولي په یوه وار ور وغورزوي نو دا دیوې ډبري پر ځای دریږي شپږ به نوري ور غورزوي.

سوال:

که وکیل ونیسي وکیل به څنګه فعل کوي او کله وکیل نیولی سي؟

جواب: هر کله چي سړی په ولاړي لمونځ نسي کولی هغه د رمی لپاره وکیل نیولی سي او وکیل به اول د ځان لپاره رمیه کوي او بیا دموکل لپاره.

سوال:

که څوک ډبري نکړي پیدا څه به کوي؟

جواب: هر شی چي د ځمکي له جنسه وي رمی په صحیح ده. که لوټه وي، که کج وي که چونه وي که دپخې خښتي توکري وي او که بل د ځمکي جنسه وي، او که د ځمکي له جنسه نه وي په هغه شي رمی نسي کولی لکه هنداره یا اوسپنه یا چوټه یا بل داسې شی.

سوال:

د ځلو ویشتلو ترتیب څنګه دی؟

جواب: د ځلو تر مینځ ترتیب واجب دی یا سنت، اول به جمره اولیٰ ولي بیا وسطیٰ بیا عقبه، که اولی وروسته کړې هغه نوري به بیرته په ترتیب را ګرزوي او که اولی پریږدي او هغه نورو دوې وولي نو اولي دې وولي بیا

دو همه بيا جمره عقبه يعني بيرته دي له سره را وګرزوي .

سوال :

که څوک تر اووه ډبري زيات ځلي وولي څه به کوي؟

جواب : تر اووه واره زيات ويشتل مکروه دي .

سوال :

ښځه نائب درولی سي که يا؟

جواب : بغير له عذره نائب نسي درولی ، او د ښځو لپاره افضل دا دی چي د شپې ځلي وولي .

سوال :

په رميه کي مکروهات کوم کوم دي؟

جواب په اوله ورځ تر زوال وروسته او په نورو ورځو کي تر زوال مخته مکروه دي همدارنګه په غټه ډبره يا د مسجد په ډبره يا د جمرې په ډبره يا په مرداره ډبره ويشتل هم مکروه دي ، او تر اوو ډبرو زيادت او د سنت طريقې مخالفت يا نږدې ورته درېدل او يا ترتيب پرېښودل دا ټول مکروه دي او همسي د ډبرو ور غورزول هم مکروه دي .

سوال :

کله چي له رمی فارغ سي مکې ته د تګ طريقه څه ده؟

جواب :٫ کله چي له رمي فارغ سي مخ پر مکه دي روان سي چي ابطح (خيف) مقام ته ورسيږي را کښته دي سي دعا دي وکړي کښته کېدل سنت دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

باب طواف الصدر یا رخصت

سوال:
طواف رخصت یا صدر یا وداع پر چا واجب دي او څه وخت به يې کوي؟
جواب: طواف صدر پر بیاباني حاجي واجب دي که مفرد وي که متمتع وي که قارن وي او پر مکي نه دي واجب، او همدا رنګه پر يوازي عمره کونکي هم نه دي واجب، او وخت يې وروسته له طواف زيارت دی که څه هم د اختر په ورځ وي.
سوال:
مستحب وخت د طواف صدر کوم وخت دی؟
جواب: د طواف صدر وخت له طواف زيارت وروسته دی او آخير وخت نلري خو مستحب دا دی چي کله د سفر اراده وکړي نو طواف صدر دي وکړي مګر که چيري سړی بند سي یا ښځه حائضه سي يا نفاسه سي يا کوچنی وي نو طواف صدر نسته باندي، او که څوک د اقامت نيت وکړي نو طواف صدر ځيني ساقطيږي.
سوال:
که څوک طواف صدر یا رخصت پريږدي نو څه به کوي؟
جواب: که چيري تر ميقات نه وي دباندي نو بيرته دي را وګرزي او طواف دي وکړي او که چيري وتلی وي نو دم باندي لازميږي.
سوال:
د طواف صدر طريقه څه ده؟
جواب: کله چي د تګ اراده وکړي مسجد ته دي داخل سي او په حجر اسود دي

شروع وکړي استلام دي وکړي وروسته دي اووه واره طواف وکړي په دغه طواف کي رمل او سعي نسته کله چي د زم زم اوبه څښي په هر وار کي به اول وايي (بِسْمِ اللّٰهِ وَالْحَمْدُلِلّٰهِ وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ) او په اخير وار به وايي (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ رِزْقًا وَّاسِعًا وَ عِلْمًا نَافِعًا وَشِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ)په هر وار کي به کعبې ته کوري او ورته مخامخ به وي او د زم زم اوبه به پر سر او مخ توی کړي او ځان دي اوبه کړي او ملتزم ته به ولاړ سي .

سوال:

کله چي له کعبې ځي او جلا کیږي په څه طریقه به ځي؟

جواب: کله چي له کعبې جلا کیږي ځي به او کعبې ته به کوري ژاړي به او غمجن غوندي به ځي او پر شا تګ نه دی سنت، بیا دي مدینې منورې ته ولاړ سي چي تګ يې جامع سيء د دواړو حرمينو ته .

❁❁❁

باب دی په بیان د حج قران کي

سوال:

افضل حج کوم حج دی؟

جواب: افضل حج حج قران دی هم تر تمتع هم ترافراد حج قران هغه حج دی چي د حج او عمرې دواړو نیت په یوه وار وکړي بیاباني سړی او یا جلا جلا چي د حج احرام پر عمره داخل کړي مخکي تراکثر طواف د عمرې که څه هم حج له یوه وي او عمره له بله .

سوال:

مکي حج قران په څنګه طریقه کولی سي؟

جواب: د مکي لپاره حج قران نسته مګر هغه وخت يې کولی سي چي

صحرا ته ولاړ سي لكه بياباني .

سوال :

كه يو څوك د تشريق په ورځو كي احرام وتړي څه به كوي؟

جواب : كـه څـوک د تشـريـق پـه ورځـو كـي احـرام پـه عمره وتړي احرام يې صحيح او عمل دي نه كوي تر هغه وخته چي د تشريق ورځي وزي ، ځكه په دغـه ورځـو كـي لـه عـمرې بنـد دی ، او عمره عبارت له افعالو ده نو ځكه يې نيت صحيح دی او فارق ورته ويل كيږي او دم د شكر به كوي او كه چيري پـه دغـو شپـو كـي د عـمرې اعمال هم وكړي پروا نلري ځكه ادا او وجوب يې سره برابر سوو .

سوال :

كه څوک د عمرې افعال په دغو شپو كي پريږدي څه به كوي او كه يې وكړي څه به كوي مخكي تر سعي د حج؟

جواب: كـه څـوک د عـمرې افـعـال پـريـږدي قضا او دم پر لازميږي او كـه يې وكړي يوازي دم پر لازم دی قـضـا نـه غواړي او دغـه مسـئله ډېره پېښېږي او ډېر خلک د حج تر سعي مخكي دوې عمرې كوي .

سوال :

كه څوک قارن وي څو سعي او طوافونه به كوي ؟

جواب : قـارن به دوې سعي او دوه طوافونه كوي يو د حج او بل د عمرې مگر اول بـه د عـمرې لپاره طواف اووه شوطه وكړي په اولو درو كي به رمل كوي او بيا بـه دوه ركعاته لمونځ وكړي او بيا به د عمرې سعي وكړي وروستـه به د حج لپاره طواف قدوم وكړي په رمل سره او سعي دي وكړي او كه طوافونه او سعـيـې سره گډ كړي نو اول يې د عمرې او دوهم يې د حج كيږي مگر سره گډول يې مكروه دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال :

د متمتع او قارن لپاره هديه څنګه کول پکار ده؟

جواب : پر قارن او متمتع هديه واجب ده له دې وجهې چې الله (ج) توفيق ورکړي د ادا د حج او عمرې په يوه کال کې او اول او ښ دوهم غويي دريم پسه دی چې څومره قيمتي وي دغونه افضل دی .

سوال :

آيا د هديې حلالېدل لازمي دي لپاره د ذمې د خلاصېدلو؟

جواب :لپاره د ذمې خلاصېدلو حلالېدل او هديه کول او پر ېښودل ټول کفايت کوي مګر حلالېدل په ورځو د اختر او په حرم پوري تعلق لري اول وخت يې له سپېدو د ايام النحر شروع کيږي تر سپېدو مخکې نه دی روا او آخير وخت يې د ايام النحر لمر لوېدل دي .

سوال :

که څوک د هديې تر ذبح مخکې وفات سي او هديه باندي کيږي قارن وي يا متمتع وي څه حکم لري؟

جواب : که قارن يا متمتع تر ذبح مخکې وفات سي وصيت په هديه سره واجب دی، يعني د زکندن په وخت کې به وصيت کوي .

سوال :

که څوک د هديې وس نلري څه به کوي؟

جواب : که څوک د هديې وس نلري هغه دي روژې ونيسي درې د حج په ورځو کې او اوه وروسته او متمتع کولی سي چې د عمرې په احرام روژه ونيسي مخکې تر احرام د حج خو احتياط دا دی چې وروسته تر احرام د حج روژه ونيسي او که چيري داتم او نهم په ورځ څوک روژه ضعيف کوي نو بايد تر هغه مخکې درې وروژې پوره کړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
که له چا څخه روژې قضا سي څه حکم لري ؟
جواب: که له چا څخه روژې قضا سي بيا هديه پر لازميږي او ټول عمر نه ځيني ساقطيږي .
سوال:
که چا قدرت پر هديه پيدا کړ څه به کوي؟
جواب: که چيري يې قدرت پر هديه پيدا کړ مخکي تر سر خرېيلو نو روژې باطليږي او دم پر واجبيږي .
سوال:
که مکي سړی قران يا تمتع وکړي څه حکم لري؟
جواب: ګنهګار دی او جبري دم پر لازميږي .
سوال:
د جبري دم په بدل کي روژې نيولی سي که يا؟
جواب: د جبري دم په بدل کي روژې نسي نيولی ځکه روژې د شکر د دم په بدل کي نيول کيږي نه د جبري دم په بدل کي .
سوال:
د روژو په نيولو کي پيوستوب ضروري دی که يا؟
جواب: پيوستوب د روژو نه په درو روژو کي ضروري دی او نه په اوو کي ضروري دی، او دا اوو روژو نيول د حج له افعالو تر فراغت وروسته روا د که څه هم په مکه کي وي او مستحب کار دا دی چي دغه اووه روژې هغه وخت ونيسي چي کور ته ستون سو .
سوال:
که يې چيري دغه درې روژې نه ونيولې او ځان يې حلال کړی بې له ذبح نو

څه حکم لري؟
جواب : پر ده باندي دوه دم لازميږي يو لپاره د قران يا تمتع او بل لپاره د حلالېدو .
سوال :
د روژې نيول د چا لپاره صحيح دي او د چا لپاره نه دي صحيح ؟
جواب : د چا کـه د يوې مياشتي نفقه وه نو هغه غني دی روژې نسي نيولی او که د چا د يوې مياشتي نفقه نه وه نو هغه ته روژې نيول صحت لري .
سوال :
حج قران د مکې د اوسېدونکي لپاره صحيح دی؟
جواب: حج قران د اهل مکې لپاره او د هغه چا لپاره چي اهل د حل او د ميقات وي نه دی صحيح خو کـه چيري مکي سړی ولاړ سي صحرا ته مخکي تر مياشتو د حج بيا حج قران کولی سي .



باب دی په بيان د حج تمتع کي

سوال :
تمتع څه ته وايي؟
جواب : تمتع په لغت کي په معنی د تلذذ او نفع اخيستلو په شي سره راځي ، او په اصطلا ح کي دې ته وايي چي په يوه کال کي بې له کور ته تګه د حج په مياشو کي يو ځايوالی د حج او د عمرې وکړي .
سوال :
د تمتع شرطونه څو دي؟
جواب : د تمتع شرطونه يوولس (۱۱) دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

١ . د عمرې ټول يا زيات طوافونه به د حج په مياشتو كې كوي .
٢ . د عمرې احرام به د حج پر احرام مخته كوي .
٣ . د عمرې طوافونه به ټول يا زيات د حج تر احرام مخته كوي .
۴ . عمره به نه فاسدوي .
٥ . حج به نه فاسدوي كه يې چيري فاسد كړ او عمره يې نكړه فاسده نو متمتع نه بلل كيږي .
٦ . كور ته به نه ځي تر څو چې حج او عمره دواړه نه وي ادا سوي .
٧ . حج او عمره به دواړه په يوه سفر كې وي .
٨ . د حج او عمرې دواړو ادا به په يوه كال كې وي .
٩ . عدم توطن په مكه كې، يعني مكه به د ځان وطن نه جوړوي چې دا اراده وكړي چې زما وطن نور مكه ده بلې خوا ته نه ځم په دغه صورت كې متمتع نه بلل كيږي بلكې بيرته به دې اصلي وطن ته اراده وي د تگ .
١٠ . په داسې حال كې چې دى حلال وي د حج مياشتى به نه پر داخليږي، يعني چې د حج مياشتې داخليږي ده به د عمرې احرام تړلى وي .
١١ . بياباني به وي يعني كور به يې تر ميقات دباندې وي كه داخل وي بيا متمتع نه بلل كيږي .

سوال:
حج تمتع مكې سړى كولى سي؟
جواب: مكې سړي لره حج تمتع نسته همدا رنگه اهل ميقات والا لره هم حج تمتع نسته، متمتع هغه څوك كېدى سي چې تر ميقات دباندې به وي .

سوال:
مسجد حرام والا به څه وخت عمره كوي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: علامه عمر النسفيؒ په تفسير کي ليکلي دي چي د مسجد حاضرين ته مناسب دی چي د حج له مياشتو بغير په نورو مياشتو کي عمره وکړي خو که يې وکړي هم صحيح ده خو وافضل کار نه دی .

سوال:

کوم متمتع افضل دی هغه چي هديه وليږي او که هغه چي نه يې وليږي؟

جواب: هغه متمتع افضل دی چي هديه وليږي، تر هغه متمتع چي هديه نه وليږي .

سوال:

آيا هديه ته به يو شي په غاړه ورځړوي؟

جواب: هو! ورځړوي به يې، يو توټه له څرمني يا د چمپل يا د درختي پټوکی به په غاړه ور وځړوي او دا د دې علامه ده چي دا هديه ده او څوک تعرض په ونکړي: لقوله تعالى ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تُحِلُّواْ شَعَآئِرَ اللّهِ وَلاَ الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلاَ الْهَدْيَ وَلاَ الْقَلآئِدَ وَلا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَاناً ﴾ (المائدة:۲)

سوال:

آيا ړنګولې بهتره دي که غاړکی په غاړه کي ور اچول؟

جواب: غاړکی بهتره ده .

سوال:

د هديې شعار يعني تر بوک لاندي پهنيزه وهل بيا يې بوک په وينه ور رنګول دا صحيح دي که يا؟

جواب: هو صحيح دي .

سوال:

يو ځايوالی د دوو حجو يا عمرو صحيح دی که يا؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: یو ځایوالی د دوو حجو یا عمرو که احراما وي که افعالا دا مطلق مکروه دي، که صحرایي وي که مکي وي .

سوال:

هغه متمتع چې هدیه یې لیږلې وي کله چې مکې ته داخل سي څه به کوي؟

جواب: طواف دې وکړي او د عمرې لپاره دې سعي وکړي، او محرم دې پاته سي ځان دې نه حلالوي .

سوال:

که یو چا هدیه ولیږله او نیت یې د تمتع وو نو کله چې له عمرې فارغ سو نو ده ته دا ظاهره سوه چې تمتع نسي کولی نو په هدیه به څه کوي؟

جواب: د ده خوښه چې هر څه په کوي کولی یې سي .

سوال:

که چیري متمتع نحر وکړي بیا یې رجوع وکړه وروسته تر حلق و خپل هل ته بیا یې حج وکړ څه حکم لري؟

جواب: په داسي حالت کې شی نسته پر، ځکه دی غیر متمتع دی او که صحراته ولاړی خو کور ته نه ولاړی نو بیا دی متمتع دی او پر ده باندي دوې هدیې دي .

سوال:

متمتع چې هدیه نه وي لیږلې چې مکې ته داخل سو څه به کوي؟

جواب: طواف فرضي دې وکړي د عمرې د حج په میاشتو کې او سعي دې وکړي وجوبي او حلق دې وکړي استحبابي او که چیري محرم پاته سي هم صحیح دی .

سوال:

آیا پر متمتع باندي طواف قدوم سته که یا؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: پر متمتع طواف قدوم نسته بالاتفاق .
سوال:
احرام به له کوم ځایه تړي؟
جواب: احرام به له مسجد حرم څخه کوي یا له حطیم څخه او له ټول حرم څخه صحیح دی .
سوال:
که څوک له حرم څخه ووتی او بیا یې له هغه ځای څخه احرام وتړی نو څه حکم لري؟
جواب: که چیرې دیو غرض صحیح لپاره ووزي او بیا له هغه ځایه احرام وتړي پروا نلري او شی نه پر لازمیږي، او که د احرام په قصد ووتی بیا دم پر لازمیږي .
سوال:
که څوک متمتع له عمرې منع کړي څنګه دی؟
جواب: متمتع له عمرې منع کول له مذهبه مخالفت دی
سوال:
که څوک د دوو عمرو احرامونه سره جمع کړي څه حکم لري؟
جواب: که څوک د دوو عمرو احرامونه سره جمع کړي دم پر لازمیږي په اتفاق د ټولو علماوو او صحیح قول دا دی چې دواړي عمرې پر لازمیږي .
سوال:
جمع په مابین کې د حج او عمرې صحیح دی که یا؟
جواب: جمع په مابین کې د حج او عمرې سنت دی د بیاباني لپاره او مکي ته جمع مکروه ده، جمع د نسوکو پر دوه قسمه ده یو دا چې حج عمرې ته ور ضم کړي مخکې تر حلالېدلو له عمرې دغه قسم بیاباني ته سنت دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

مـكي تـه مـكـروه دى دو هم دا چي عـمـره حج ته ور ضم كړي مخكي تر سعي كه تر طواف هم مخكي وي كه وروستـه، دغـه قسم دواړو ته مكروه دى خو د مكي لپاره زيات كراهت لري تر بياباني .

سوال:

كه څوک مكي وي او عمره او حج سره ګډ كړي څه حكم لري؟

جواب: مـكـي لـره نـه دى صـحـيـح خـو كـه چيري حج پـر عـمـره داخل كـړي مـخـكـي تـر طـواف د عمرې عـمـره يې پـورتـه كيږي او دم د پورتـه كېدو باندي اوړي او كـه عـمـره او حـج دواړه پـوره كـړي هـم صـحـيـح دى مكر دم د جمع پر اوړي او كـه حـج پـريـږدي حـج او عـمـره دواړه پر لازميږي او كه حج پوره كړي عـمـره نستـه .

سوال:

كه د دم وس نلري روژې نيولى سي؟

جـواب: هـر دم چـي پـه سـبـب د رفـض لازم سي له هغه څخه روژه نه صحيح كـيـږي .

سوال:

كه چيري څوک احرام د حج وتړي او بيا يې فسخ كړي عمرې ته او يا د عمرې احرام فـسـخ كـړي حج تـه جواز لري كه يا؟

جـواب: هـيـڅ فـسـخ د احرام د عمرې و حج ته او د حج و عـمـرې ته صحت نلري او كـوم چـي د صـحـابـه كـرامـو فسـخ وه هـغـه خاص په هغه پسي وه لپاره د مـعـلـومـولـو د صـحـت د عـمـرې پـه مـيـاشـتـو د حج كي او لپـاره د ګرزولو د صحابـه كـرامـو لـه رواج د جهـالـت چـي دوى پـه مـيـاشتـو د حج كي عـمـره نه كـولـه .



باب دی په بیان د جنایاتو کي

سوال :

منهيات په حج کي څه دي؟

جواب : د حج منهايت هغه دي چي په سبب د احرام يا د حرم منع وي هغه دا دي:

۱ . ويښتان لري کول

۲ . نوکان پرېکول

۳ . ګنډلي کالي اغوستل

۴ . جماع کول

۵ . خوشبويي لګول

٦ . تېل استعالول

۷ . ښکار کول

۸ . پرېښودل د واجب له واجباتو د حج

۹ . ذکر د جماع په حضور کي د ښځو، خو داآخيرنی دم نه لازموي .

سوال:

د حج فديه ورکول ممنوع شی روا کوي که يا ؟ او حج ته تاوان رسوي که يا؟

جواب : فديه ممنوع او حرام شی نه روا کوي او که څوک ممنوع عمل وکړي حج يې له مبرور والي څخه وزي .

سوال

: که څوک په زور په چا حرام عمل وکړي يا ناخبره وي يا يې هېر وي يا بيده وي يا يې په خطا وکړي نو څه حکم لري؟

جواب : په وجوب د جزا کي قصد او خط او هېره او ناپوهي او زور او خوب

او وينبـتـيا تول سره برابر دي يعني په تولو صورتو كې جزا لازميږي .

سوال :

كه بل محرم سرې ته خوشبويي ور ولګوله څه حكم لري؟

جـواب : جزا پـر مـفـعـول ده يـعـنـي د هـغـه چا پر كالو چې پر كالو يې خوشبو لګېدلې وي .

سوال :

كه چيري چا ګنډل سوې جامې واغوستې څه حكم لري؟

جواب : كه څوک ګنډلي جامې ديوې پوره ورځې يا شپې پر اندازه واغوندي نـو دم پـر لازميـږي او كـه يې تر دې كم واغوندي نو صدقه پر لازميږي يعني يوه فديه به وركوي .

سوال :

كـه چيـري چـا جـامـې اغـوسـتـي وي او نيت وكړي او تر يوې ورځې كم وخت نسک تول ادا كړي لكه عمره څه به كوي؟

جـواب : څـومـره وخـت چـي يـې اغـوسـتـي وي د هـغـه وخـت پـه اندازه بـه د دمو قيمت وركوي .

سوال :

كه ډېري ورځې ګنډلي جامې واغوندي څه به كوي؟

جواب : د تولو ورځو لپاره يوه دم كافي ده . (۱)

سوال :

كه چيري محرم تولي جامې واغـوندي يعني قـميص چپـنه لنګوټه او خولی او پرتوګ او موزې او دا اغوستل يې هم ډېر وخت وي لكه يوه ورځ يا ډېري ورځې او كبنلي يې هم نه وي او يا يې د شپې د خوب لپاره وكاږي د ورځي يـې بيـر تـه واغـونـدي او يا يې د شپې ديخ لپاره واغوندي د ورځې يې بير ته

Maktaba Tul Ishaat.com

وكاړي نو پر دغه سړي څه لازميږي؟
جواب: يو پسه پر لازميږي خو دا هغه وخت كه يې د كښلو په وخت كې د بيرته نه اغوستلو نيت نه وو كړى، او كه يې د نه اغوستلو نيت كړى وو او يا يې د اول وار د اغوستلو كفاره ور كړه بيا يې دوهم وار واغوستې نو اتفاقا پر ده دوهمه كفاره هم ستنه .
سوال:
كه محرم د تبې په وجه يوه ورځ ګنډلې جامې واغوندي او بله ورځ يې تبه ختمه سي او و يې كاږي او هر وخت چې يې بيا تبه سي وايې غوندي نو پر دغه سړي څو كفارې دي؟
جواب: دا اغوستل يو اغوستل بلل كيږي صرف يوه كفاره پر ستنه .
سوال:
كه چيري محرم د عذر په وجه ګنډلې جامې واغوندي او هغه عذر ختم سي بل عذر ور پېښ سي د دې عذر له وجهي بيا جامې واغوندي نو پر دې سړي څو كفارې دي؟
جواب: د شيخينو په نزد دوې كفارې پر لازميږي او د امام محمدؒ په نزد يوه كفاره پر لازمه ده .
سوال:
كه چيري محرم چپنه او يا بل داسي شی لكه چپنه پر اوږو واچوي او پر ځان يې را وپېچي پر دغه سړي څه لازميږي؟
جواب: پسه پر لازميږي كه څه هم لاسونه يې په لستونو كې نه وي داخل كړي او كه يې لاسونه په لستونو كې داخل كړي وو او پر ځان يې نه وه رانېچلې هم پسه پر لازميږي .
سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

كه چيرې محرم چپنه پر اوږو واچوي او پر ځان يې نه راوپېچي او لستوني هم نكړي پكښې داخل نو څه پر لازميږي؟

جواب: پر دې سړي شى هم نه لازميږي يعني نه پسه او نه صدقه، ليكن بيا هم دا مكروه كار دى ځكه له سنتو مخالفت دى .

سوال:

كه محرم سړى او محرمه ښځه ګنډل سوي او رنګول سوي جامې واغوندي نو څه پر لازميږي؟

جواب: پر سړي دوه پسونه لازميږي او پر ښځه يو پسه لازميږي .

سوال:

آيا د جامې په اغوستلو سره كفارې متعددي كيږي؟

جواب: هو! په ځيني صورتو كي متعددي كيږي لكه دا لاندي صورتونه:

۱ . محرم جامې وكاږي او بيرته يې واغوندي .

۲ . چي محرم په دوو ځايو كي جامې واغوندي په يو ځاى كي د عذر له وجهي او په بل ځاى كي بې له عذره .

۳ . د عذر تر ختمېدلو وروسته د جامو پر اغوستلو دوام .

۴ . يو عذر ختم سي او بل عذر راسي .

۵ . چي نارينه داسي جامې واغوندي چي هم ګنډل سوي وي او هم رنګول سوي وي .

سوال:

كه محرم تول شپه ګنډل سوي جامې اغوستې وې هم پسه پر لازميږي ؟ آيا د ورځي په اغوستلو سره پسه لازميږي او كه د ورځي په مقدار سره هم لازميږي؟

جواب: د شپې په جامه اغوستلو سره هم پسه لازميږي ورځ شرط نه ده

بلکي د ورځي مقدار شرط دی یعني چي د يوې ورځي پر اندازه یې واغوندي هغه که د شپې وي که د ورځي پسه لازمیږي .

سوال:

که محرم یوه ورځ یا یوه شپه سر یا مخ پټ کړي څه پر لازمیږي؟

جواب: پسه پر لازمیږي .

سوال:

که محرم یوه شپه یا یوه ورځ تر څلورمي حصې زیاته اندازه سر یا مخ پټ کړي نو هم پسه پر لازمیږي؟

جواب: هو! پسه پر لازمیږي ځکه د څلورمي حصې حکم د ټول مخ یا سر دی .

سوال:

که چیري محرم سړی د سر یا مخ تر څلورمي حصې کمه اندازه پټه کړي نو شی پر سته که یا؟

جواب: په دغه صورت کي پسه نسته خو صدقه پر لازمیږي .

سوال:

که چیري محرم یو شی پر سر واچوي قصد یې پټول وي عادتاً نو څه پر لازمیږي؟

جواب: پسه پر لازمیږي .

سوال:

که محرم په نکریزو سر ولړي یوه شپه یا یوه ورځ او د نکریزو بوی هم تلي او سختي هم وي نو څه پر لازمیږي که یا؟

جواب: پر دې سړي دوه پسونه لازمیږي یو د پټولو په سبب او بل د خوشبویي په سبب .

Maktaba Tul Ishaat.com

فصل في لبس الخفين قبل القطع

سوال:

كه چيري محرم دوې موزې مخكې تر پرېكېدو يوه ورځ په پښو كړي يا وروسته تر پرېكېدو نو څه پر لازميږي؟

جواب: كه چيري تر پرېكېدو مخكې يې په پښو كړي نو پسه پر لازميږي او كه تر پرېكېدو وروسته يې په پښو كړي نو صدقه پر لازميږي .

سوال:

كه چيري محرم موزې تر بجلكو لاندې پرې كړي بيا يې په پښو كړي نو څه پر لازميږي؟

جواب: هيڅ شى زموږ پر مذهب نه پر لازميږي .

سوال:

پر محرمې ښځې د خلكو په حضور كې دا لازمه ده چې شى پر مخ را ځړوي كه يا؟

جواب: هو! پر ښځه دا واجب دي چې د خلكو پر حضور كې به يو شى پر مخ را ځړوي .

سوال:

آيا محرمه ښځه به روى بند اغوندي كه يا؟ كه يوه ورځ يا يوه شپه يې واغوندي نو شى پر لازميږي كه يا؟

جواب: نه به يې اغوندي كه يوه ورځ يا شپه يې واغوندي نو پسه پر لازميږي .

سوال:

كه محرم ټول اندام خوشبويه كړي يا د اندام څلورمه حصه خوشبويه كړي نو څه پر لازميږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : په دوارو صورتو کي پسه پر لازميږي .
که د اندام تر څلورمي حصې کم خوشبويه کړي نو څه پر لازميږي؟
جواب : صدقه پر لازميږي .
عضو کوم جزء ته وايي؟
عضو سر ته وايي اوږې ته وايي برېتو ته وايي لاس ته وايي او ورون ته وايي .
سوال :
که خوشبويي لږ وه نو اعتبار و خوشبويي ته دی که اندام ته؟
جواب : اعتبار و خوشبويي ت دی نه و اندام ته .
سوال :
که محرم ټول اندامونه پر يوه ځای خوشبويه کړي نو څو پسونه پر لازميږي .
جواب : يو پسه پر لازميږي .

فصل فى الكحل المطيب
يعني خوشبويه رانجي

سوال:
که محرم په خوشبوداره رنجو ډېر واره سترګي توري کړي نو څه پر لازميږي؟ او څو واره ډېر بلل کيږي؟
جواب : پسه پر لازميږي، او د ډېر په تعبير کي اختلاف دی ظاهره دا ده چي دري واره ډېر بلل کيږي؟
سوال :
که محرم يو يا دوه واره په خوشبويه رنجو سترګي توري کړي نو څه پر لازميږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: صدقه پر لازميږي .

سوال:

كـه محرم پـه داسـي رنـجـو سـتـر كـي تـوري كـړي چـي بـوى نـلـري نـو څـه پر لازميږي ؟

جواب: هيڅ شى نه پر لازميږي .

فصل دى په خوراک او څښاک
د خوشبويه شي كي

سوال:

كـه محرم خـوشبـويـه شـى وخـوري لكـه زعفران او پـه اكثره خولـه پسـي ومښلي او يا په اكثره خوله پسي و نه مښلي لږ وي نو څه پر لازميږي؟

جواب: كـه پـه اكثـره خـولـه پوري مښتي وو نو پسه پر لازميږي او په اكثره خوله پوري نه ومښتى نو بيا صدقه پر لازميږي .

سوال:

كـه محـرم خـوشبويه شى په خوراكي شي كي وخوري او دا خوشبويه شى په خـوراكـي شـي كـي پـو خ سـوى وي يا نـه وي پـو خ سـوى نـو څـه شـى پـر لازميږي؟

جـواب: كـه پـو خ سوى وو هيڅ شى نه پر لازميږي او كه كي پو خ نه وو نو بيـا اعتبـار و غـالـب تـه دى يعني كه خوراكي شى ډېر وو بيا شى نسته او كه خوشبويه شى ډېر وو نو بيا دم سته پر .

سوال:

كه خوشبويه شى د چښلو په شى كډ سوى وو او محرم يې وچښي نو شى پر لازميږي كه يا؟

جـواب: كـه خـوشـبـويـه شـى د چښلو تر شي ډېر وو بيا پسه پر لازم دى او كه

Maktaba Tul Ishaat.com

کم وو بیا صدقه پر لازمه ده او که یې له دغه شي ډېر ډېر چنبل کول نو بیا که څه هم خوشبویه شی د چنبلو تر شي کم وي هم پسه لازمیږي .

سوال:

که محرم عین خوشبویه شی وچښې نو شی سته پر که یا؟

جواب: پسه پر لازم دی .

فصل دی په تداوي سره د خوشبویه شي

سوال:

که محرم پر زخم خوشبوداره دوا واچوله څه شی پر لازمیږي؟

جواب: صدقه پر لازمیږي .

سوال:

که د محرم جامې ته خوشبویي ورسېدله او دستي یې لرې کړه او یا یې پرېوله او خوشبویي یې ډېره وه پر دغه سړي څه شی لازمیږي ؟

جواب: هیڅ شی نه لازمیږي .

سوال:

که د محرم جامو ته خوشبویي ورسیږي یوه ورځ یا تر یوې ورځې کم وخت څه حکم یې دی؟

جواب: که یوه ورځ پوره خوشبویي وي پر نو پسه پر لازم دی او که تر ورځې کم وخت وه نو بیا صدقه پر لازمه ده .

سوال:

محرم به دغه خوشبویي چې جامې ته رسېدلې ده پخپله پرېمنځي که په بل به یې پرېمنځي؟

جواب: دواړې طریقې جائز دي خو ښه دا ده چې په بل یې پرېمنځي د دې لپاره چې په پرېوللو کې ده ته خوشبویي و نه رسیږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
كه حاجي د احرام په وخت كي داسي جامي واغوستلي چي په زعفرانو يا داسي نورو خوشبويه رنكونو رنكول سوي وي نو پر دغه محرم شى سته كه يا؟
جواب: كه يې بوى تلى يعني پر خلكو يې بوى لكېدى او پوره ورځ يې واغوستلي نو دم پر لازم دى او كه يې پوره ورځ نه واغوستلي نو بيا صدقه پر لازمه ده او كه يې بوى نه تلى نو بيا شى نسته پر، خو دا هغه وخت كه جامي ګنډلي نه وي.
سوال:
د احرام د جامو تر احرام مخكي خوشبويه كېدل او بيا احرام په تړل جواز لري كه يا؟
جواب: جواز لري خو مكروه دي اتفاقاً.
سوال:
كه د محرم جامه يوه لوېشت په اوږده او په بره په خوشبويي سره دا په لږ كي داخله دي كه په ډېر كي؟
جواب: دا په لږ كي داخله ده كه يوه ورځ ورسره تېره كړي نو حكم يې صدقه ده.
سوال
: كه يو حاجي تر احرام مخكي خوشبويي لګولي وي او تر احرام وروسته هم دا خوشبويي ختمه نه وي او پر خلكو يې بوى لګېږي نو څه حكم يې دى؟
جواب: شى نسته پر.
سوال:
كه محرم د لنګ يا پټو په يو طرف پسي مشك يا كافور يا عنبر وتړل او

خوشبویي یې هم کوله نو څه حکم یې دی؟
جواب: کـه ډېـره وه پسـه پـر لازمیـږي او که لږ وه صدقه پر لازمیږي، خو په دې شرط چې پوره ورځ وي .
سوال:
که محرم په پټو یا لنګ پوري د عود خوشبویه لرګی وتړي څه حکم یې دی؟
جواب: تر څو پوري چې یې د مښلو په واسطه یا بله واسطه بوی نه وي کړی شـی نـه پـر لازمیږي ،او کـه یې بـوی وکړ نـو بیا یې حکم د عنبرو دی چې مخکي بیان سو .
سوال:
کـه یـو محـرم نکریزي پر سر واچولې یا یې پر ږیره واچولې او یا یې پر لاسو واچولې نو څه حکم یې دی؟
جواب: که چیري باریکي وې لکه اوبه نو یو پسه پر لازمیږي او که ختېه وې نـو بیـا دوه پسـونـه پـر لازمیږي یـو د خوشبویي له وجهي او بل د پټوالي له وجهي ځکه په ختېه نکریزو پټوالی هم راځي دا که نارینه وو، او که ښځه وه بیـا پـه دواړو صـوروتـو کـي یو پسه پر لازمیږي، چې یوازي د خوشبویي له وجهي دی .
سوال:
که محرم سر په وسمه رنګ کړي څه حکم یې دی؟
جواب: پسه پر لازمیږي .
سوال: که محرم سر په ګل ختمي پرېوي څه حکم یې دی؟
جواب: پسه پر لازمیږي .
سوال:
که محرم سر په صابون پرېوي څه حکم یې دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :شی نه پر لازمیږي، په دې شرط چې خوشبویه صابون به نه وي، بلکې عام صابون به وي .

سوال :
که محرم په داسې تېلو بدن یا سر غوړ کړی چې خوشبویي هم لري نو څه حکم یې دی؟

جواب : که یې پوره اندام په غوړ کړ نو دم پر لازمیږي او که پوره اندام نه وو نو بیا صدقه پر لازمه ده .

سوال :
که محرم په داسې تېلو بدن یا سر غوړ کړي چې خوشبویي نلري نو څه حکم یې دی؟

جواب : راجح قول دا دی چې صدقه پر سته، دغه تېر مذکور حکم هغه وخت لري چې دغه تېل د خوشبویي لپاره استعمال سي او که د تداوي لپاره استعمال سول بیا شی نسته .

سوال :
که د محرم پښې چاودلې وې یا یې پزه خوږېده یا یې غوږونه خوږېدل نو دغه بې خوشبویې تېل یې استعمال کړل نو څه حکم یې دی؟

جواب : هیڅ شی نه پر لازمیږي .

سوال :
که د محرم پښې چاودلې وې په وازکه یا غوړو او یا لم یې غوړې کړې څه شی پر سته که یا؟

جواب :هیڅ شی نسته .

سوال :
که یو محرم پر بل محرم خوشبویي وپاشله او یا حلال پر محرم خوشبویي

Maktaba Tul Ishaat.com

وپاشله نو پر دوارو جزا سته كه څنګه؟
جواب: پر پاسونكي جزا نسته پر هغه چا جزا سته چي پر ده پاشل سوې ده.
سوال:
كه محرم د سر څلورمه حصه يا ټول سر يا ږيره وخريي نو پسه پر لازميږي كه يا؟
جواب: هو! پسه پر لازم دى.
سوال:
كه محرم تر څلورمه حصه كم سر وخريي څه حكم لري؟
جواب: صدقه پر لازمه ده.
سوال:
كه محرم خپل سر په څلور مجلسه كي وخريي يعني په هر مجلس كي د سر څلورمه حصه نو څه حكم لري؟
جواب يو پسه پر لازميږي خو كه يې د اول لپاره كفاره نه وه وركړې.
سوال:
كه محرم د سر له ډېرو ځايونو څخه لږ لږ حصه وخريله چي سره را جمع يې كړي څلورمه حصه ځيني جوړيږي نو څه حكم لري؟
جواب: يو پسه پر لازميږي.
سوال:
كه محرم د سر يا ږيري څخه وېښتان وكښل څه شى پر لازميږي؟
جواب: پر هر ويښته باندي يو يو موټ وره پر لازميږي.
سوال:
كه يو محرم سر وخريي او ګنډلي جامې يې هم واغوستې نو څو كفارې پر لازميږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دوې كفارې پر لازميږي چې دوه پسونه دي ځكه چې جنايات مختلف سول .

سوال:

كه محرم برېتونه لنډ كړه يو څه يا ټول او يا يې وخرېيل نو څه حكم ى دى؟

جواب: صدقه به كوي .

سوال

: كه محرم ټوله غاړه وخرېيله يا يې څلورمه حصه وخرېيله نو څه حكم يې دى؟

جواب: كه يې ټوله وخرېيله نو پسه پر لازميږي او كه يې څلورمه حصه وه بيا به صدقه وركوي .

سوال:

كه محرم سينه يا پنډۍ يا ورنونه خرېيل څه حكم يې دى؟

جواب: مفتى به قول دا دى چې صدقه پر لازمه ده .

سوال:

آيا څلورمه حصه د دغو اندامو چې اوس تېر سول پر ځاى د ټول دريږي كه يا؟

جواب: نه څلورمه پر ځاى د ټول نه دريږي .

سوال:

د لنډېدلو حكم د خرېيلو دى كه يا؟

جواب: هو! د لنډېدلو حكم د خرېيلو دى .

سوال:

كه محرم يو بغل يا دواړه وخرېيل يا يې وكنبل نو حكم يې څه دى؟

جواب: كه يې دواړه بغلونه وخرېيل يا يې وكنبل او يا يې يو بغل وخرېيى نو دم پر لازم دى او كه يې يو بغل لا پوره نه وو كنبلى نو بيا صدقه پر لازمه

Maktaba Tul Ishaat.com

د .

سوال:

که ښځه څلورمه حصه د سر یا تر دې زیات لنډ کړي نو څه حکم یې دی؟

جواب: که ښځه څلورمه حصه د سر یا تر دې زیات د ګوتی د سر پر اندازه لنډ کړي نو دم پر لازم دی .

سوال:

که نارینه ټول سر یا څلورمه حصه د سر یا تر دې کم لنډ کړي نو څه حکم یې دی؟

جواب: که څلورمه حصه یا ټول سر لنډ کړي نو پسه پر لازم دی او که کم وو نو بیا صدقه ده .

سوال:

که محرم او دس کاوو او له ږیري یې ویښتان وختل نو څه حکم یې دی؟

جواب: که د محرم له ږیري څخه د اوداسه یا د مینځلو په وخت کي درې ویښتان وختل نو یو موټ اوړه به خیراتوي او یا د هر ویښته په مقابل کي به یوه خورما خیراتوي .

سوال:

که محرم د غیر محرم سر وخرییي نو څه حکم یې دی؟

جواب: صدقه به کوي یعني نیمه پیمانه غنم به خیراتوي .

سوال:

که یو محرم د بل محرم سر وخرییي څه حکم یې دی؟

جواب: پر سر خرییونکي صدقه لازمه ده او پر هغه چا چي سر یې خریيل سوی دی پر هغه پسه لازم دی .

سوال:

کـه مـحـرم په داسي حال کي سر و خرېيي چي د حج او عمرې له اعمالو فارغ سوی وي نو څه حکم یې دی؟

جواب: شی نسته پر،

سوال:

که د محرم ويښتان د مرض له وجهي ختل نو څه حکم یې دی؟

جواب شی نسته پر .

سوال:

که د محرم په ستر ګه کي ويښته شين سي څه حکم یې دی؟

جواب: و دي کاږي شی نسته پر .

سوال:

که د محرم له بدن څخه پوست جلا سي سره له ويښتانو څه حکم یې دی؟

جواب: هيڅ شی نسته پر .

سوال:

که حلال د محرم سره د ده په اجازه و خرېيي نو څه حکم یې دی؟

جواب: پر حلال شي نسته او پر محرم پسه لازم دی .

سوال:

که محرم د حلال سر و خرېيي نو څه حکم یې دی؟

جواب: پر محرم صدقه لازمه ده پر حلال شی نسته .

سوال:

کـه مـحـرم د دواړو لاسو او د دواړو پښو نوکان یا د يوه لاس او د يوې پښې نوکان پرې کړل نو څه حکم یې دی؟

جواب: پسه پر لازم دی .

سوال:

که محرم د یوه لاس او یوې پښې لږ نوکان پرې کړل نو څه حکم یې دی؟
جواب: پر هر نوک یوه صدقه لازمه ده.
سوال:
که محـرم د لاسـو او پښو نوکان په څلورو ځایو کې پرې کړل نو څو کفارې پر لازمې دي؟
جواب: څلور کفارې پر لازمې دي یعنې څلور پسـونه به حلالوي.
سوال:
که دیو محرم نوک مات سو او بیا یې پرې کړ نو څه حکم یې دی؟
جواب: شی نسته پر.
سوال:
که محرم د بل چا نوکان ور پرې کړل نو حکم یې څه دی؟
جواب: د نوکانو حکم عین د سر حکم دی.
سوال:
: که محرم ممنوع شیان د عذر او مرض په سبب وکړل نو حکم یې څه دی؟
جواب: دغه محرم ته اختیار دی که درې روژې نیسي او که نیمه نیمه کاسه صدقه ورکوي شپږو مسکینانو ته.
سوال:
که محرم د کفارې پر اداکولو قدرت نه درلودی آیا دا عذر دئ؟
جواب: یا دا عذر نه دی.
سوال:
او که محرم دا ممنوعه شیان بې له عذره وکړي نو حکم یې څه دی؟
جواب: پسه پر لازم دی.
سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

که پر محرم پسه واجب سي او یا صدقه پر واجب سي آیا دا روا ده چي د پسه پر ځای مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي او یا روژې ونیسي اویا یې قیمت ورکړي؟ آیا دا روا ده چي د صدقې پر ځای روژه ونیسي؟

جواب: د پسه پر ځای ډوډۍ ورکول یا روژې نیول یا یې قیمت ورکول جواز نلري، او د صدقې پر ځای روژه نیول جواز لري.

سوال:

که پر محرم پسه واجب سي یا صدقه پر واجب سي او پر ده یې ادا کول سخت وي نو څه به کوي؟

جواب: دا پسه او صدقه د ده پر ذمه پاته دي تر هغه وخته چي دی قدرت پیدا کوي او که یې ونکړي ګنهګار دی او که مړ کېدی وصیت به کوي.

سوال:

چي عذر بلل کیږي هغه څه شی دی؟

جواب: کوم شیان چي عذر بلل کیږي او محرم ته د هغه په وجه ممنوعات روا کیږي هغه ډیر دي یو څو به یې موږ دلته د مثال په توګه ذکر کړو:

۱. تبه، هر رقم تبه چي وي.

۲. زیات یخ

۳. زیاته ګرمي

۴. زخم

۵. شینجکی

۶. د ټول سر درد

۷. د نیم سر درد

۸. سپږي وغیره

سوال:

هغه شيانچي عذر نه بلل كيږي هغه كوم دي؟
جواب : هغه شيان چي عذر نه بلل كيږي هغه هم ډېر دي يو څو به يې دلته د مثال په توګه ذكر كړو .

۱ . خطا
۲ . هېره
۳ . بې هوښي
۴ . زور
۵ . خوب
٦ . نه قدرت پر كفاره

فائده جليله

خوشبويي لګول يا خوشبويه شى خوړل يا چښل، سترګي په خوشبويه رنجو تورول، ګنډلي جامې اغوستل، يو اندام خرېيل يا نوكان پرې كول كه محرم دغه مذكور شيان د يو عذر په وجه وكړل نو ده ته اختيار دى په مابين د درو شيانو كي:

۱ . پسه دي په حرم كي حلال كړي هديه دي كړي .
۲ . شپږو مسكينانو ته دي نيمه نيمه كاسه غنم وركړي، خو كه دغه شپږ مسكينان د حرم وي بيا ډېر ثواب لري .
۳ . درې روژې دي ونيسي .

او كه محرم د عذر په وجه هغه كار ونه كړي چي په هغو كي صدقه لازميږي لكه مثلا څلورمه حصه اندام خرېيل يا تر پوره ورځې كم ګنډلي جامه اغوستل نو بيا به نيمه كاسه غنم مسكين ته وركوي يا به يوه روژه نيسي كه پسه حلال كړي هم ورته جائز دى .

سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

کـه یو مـحرم پـر بـل مـحرم خوشبويي وپـاشلـه يا يې کنډلي جامې ور واغوستلې او يا يې سر ور پټ کړ نو آيا پر دواړو جزا سته؟
جواب: پـر پاشونکي جزا نسته پر پاشل سوي سته يعني پر فاعل نسته پر مفعول سته، که څه هم په قصديې دا کار کړی وي .
سوال:
جماع په کوم صورت کي حج او عمره فاسدوي؟
جواب: جماع هغه وخت حج او عمره فاسدوي چي دا پنځه شرطونه پر ځای سي:
١ . جماع به قبل او يا دبر کي وي .
٢ . جماع بـه لـه انسان سره وي، له حيوان سره جماع يې نه فاسدوي، او غټ به وي يعني حد د شهوت ته به رسېدلی وي .
٣ . پـه حج کي به پر عرفات تر درېدلو به مخکي وي، او په عمره کي به تر طوافونو مخکي وي .
۴ . يو ځايوالی د فرجينو به وي يعني ذکر او قبل يا دبر
٥ . د فرجينو په مابين کي به حائل يا پرده نه وي .
سوال:
که حاجي داسي فعل وکړي چي حج په فاسدېږي نو څه به کوي؟
جواب: د دغه حج پاته افعال به هم سر ته رسوي او قضاء هم پر سته يعني بل کال به بيا بل حج کوي .
سوال:
کـه څوک پـه هېره يا په خطا سره جماع وکړي يا په زور يو څوک جماع پـه وکړي لکه له ښځي سره خپل خاوند په زور جماع وکړي نو بای هم حج فاسد دی که يا؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: په جماع سره مطلقا حج فاسدېږي هغه كه په ه ېره وي كه په خطا وي او كه په قصد وي كه په زور وي او كه په رضا وي په ټولو صورتو كې حج فاسد دى.
كه حاجي كوچنى وي يا لېونى وي حج فاسد كړي نو قضا پر ستـه كه يا؟
جواب: هو ا قضا پر دواړو ستـه.
سوال:
كه محرم لـه يوې ښځي سره په يوه ځاى كي ډېر واره جماع وكړي نو حكم يې څه دى؟
جواب: يو پسه پر لازم دى.
سوال:
كه محرم د عرفات تر درېدو وروستـه او تر سر خرېيلو او طواف زيارت مخكي جماع وكړي نو څه حكم يې دى؟
جواب: حج يې نه دى فاسد او اوښ پر لازم دى.
سوال:
كه محرم تر طواف زيارت وروستـه او تر سر خرېيلو مخكي جماع وكړي نو څه حكم يې دى؟
جواب: پسه پر لازم دى.
سوال:
آيا په جماع كولو سره چي اوښ واجبېږي څه شرائط لري كه يا؟
جواب: څلور شرطونه لري:
١. د عرفات تر درېدو به وروستـه وي.
٢. د سر تر خرېيلو او طواف زيارت به مخكي وي.
٣. عاقل به وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۴ . بالغ به وي .

سوال:

که حاجي طواف زیارت د جنابت په حال کي وکړي او وروسته جماع وکړي بیا غسل وکړي او طواف بیرته را وګرزوي نو څه حکم يې دی؟

جواب: یو پسه پر لازم دی .

سوال:

که محرم په ماسوا د فرج کي جماع وکړي انزال سي یا نسي انزال نو حکم يې څه دی؟

جواب: یو پسه پر لازم دی که تر عرفات مخکي وي که وروسته که انزال سوی وی او که نه وي .

سوال

: که محرم د خپلي ښځي فرج ته په کتو سره یا په فکر وهلو سره انزال سي یا په خوب احتلام ورته پېښ سي نو څه حکم يې دی؟

جواب: هیڅ شی نسته پر .

سوال:

که چا یو واجب شی د عذر په وجه پرېښوده لکه طواف د حائضې یا درېدل پر مزدلفه نو څه حکم يې دی؟

جواب: شی نسته پر .

سوال:

محرم ته د کومو حیوانانو ښکار جائز دی؟

جواب: د دریاب ښکار ورته جائز دی او د وچي ښکار نه دی ورته روا کمال قال الله تبارک و تعالی: ﴿ أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعاً لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُماً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

تُحْشَرُونَ﴾ (المائدة:٩٦)

سوال:

که محرم ضرري شی مړ کړي لکه سپی یا زمری چې پر ده حمله کوي څه حکم یې دی؟

جواب: شی نسته پر.

سوال:

که محرم د ښکار حیوان مړ کړي لکه د غره پسه یا یو مرغه یا بل داسي شی نو څه حکم یې دی؟

جواب: کوم حیوان چې ده مړ کړی د هغه قیمت به خیراتوي.

سوال:

که محرم یو شی زخمي کړي څه حکم یې دی؟

جواب: د زخم د تاوان قیمت به خیراتوي یعني تر زخمي کېدو مخکي چې هغه حیوان څومره قیمت درلودی له زخم وروسته چې یې څومره به قیمت کي کموالی راغلی وي هغه کموالی به خیراتوي.

سوال:

که له هغه زخمه څخه هغه حیوان مړ سي بیا یې څه حکم دی؟

جواب: بیا به د پوره حیوان قیمت خیراتوي.

سوال:

که محرم په حل یا په حرم کي د ښکار یو داسي حیوان مړ کړي چې هغه د بل چا په ملک کي وو نو څه حکم یې دی؟

جواب: کفاره به هم ادا کوي او مالک ته به تاوان هم ورکوي.

سوال:

که دوه محرمان یو شی په دواړو مړ کړي څه حکم یې دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : پر هر يوه ځانته مستقله جزا ده .

سوال :

كه حاجي قارن او حاجي مفرد په دواړو يو شی مړ كړي څه حكم يې دی؟

جواب : پر قارن دوې جزاوي دي او پر مفرد يوه جزا ده .

سوال : كه حلال سړی د حرم ښكاري حيوان زخمي كړي؟

جواب : د زخم پـه وجـه چـي څومره كموالی يې پـه قيمت كې راغلی دی هغومره به خيراتوي .

سوال :

كه حاجي هكۍ ماته كړه څه حكم يې دی؟

جواب : د هكۍ قيمت پر لازم دی .

سوال :

كه يو سړي تر احرام تړلو مخكې يو ښكاري شی كير كړي او وروسته احرام وتړي نو دغه ښكار د ده له ملكه وزي كه يا؟

جواب : نه ، د ده له ملكه نه وزي دا همېشه د ده ملك دی .

سوال :

كه د محرم په كور كې ښكاري حيوانان وي لكه كوتري يا نور داسي شيان نو آيا ايله كول پر لازم دی كه يا؟

جواب : ايله كول يې نه دي پر لازم كه مړه سي هم پر ده شی نستـه .

سوال :

ايا د اشارې او دلالت فرق سته كه يا؟

جواب : ځا داسي ويلي دي چي دلالت په ژبه سره وي او اشاره په لاس سره وي او تحقيق دا دی چي دلالت په غائب كې وي او اشاره په حاضر كې وي .

سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

آيا دلالت او د دلالت مثل محرم ته حرام دی که یا؟
جواب: هو ! حرام دی .
سوال:
پر محرم چې د دلالت جزا واجبېږي هغه په کومو شرطونو سره؟
جواب: هغه په لاندي شپږ شرطونو سره:
۱ . ويشتـل به د دلالت په سبب وي .
۲ . ويشتـل بـه پـه داسـي ال کـي کيږي چې دلالت کـونکي بـه ځان نه وي حلال کړي بلکي په احرام کي به وي .
۳ . چې ور ودي ښودی هغه شی به بيا ځان نسي خلاصولی .
۴ . چې ته دلالت ورته کوي هغه سړی به نه وي په خبر .
۵ . هغه سړی به پر دلالت کونکي ګمان د صادق کوي نه د کاذب .
٦ . دلالت کونکي به محرم وي .
سوال:
کـه يـو مـحـرم بـل ته دلالت او ښوول وكړي هغه يې بل ته وكړي هغه يې بيا دريم ته وكړي هغه يې وولي څه حکم يې دی؟
جواب: پر درو سره جزا ستـه .
سوال:
آيا محرم ته د ښکار سوي شي خرڅول او رانيول روا دي که یا؟
جواب: نه، نه دي روا .
سوال:
کـه مـحـرم حـلال سـړی وکيـل کړي او هغه د ښـکار حيوان رانيـسـي دا روا دي که یا؟
جواب: هو! په وکالت د حلال سره د ښکار شی رانيولی شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
آيا محرم په ميراث او رانيولو سره د ښكار د حيوان مالك كېدلی سي كه يا؟
جواب: په ميراث سره يې مالك كېدلی سي اما په رانيولو سره يې نسي مالك كېدلی .
سوال:
آيا د حرم د حيوانانو مرګ روا دی كه يا؟
جواب: د حرم د حيوانانو مرګ نه دی روا نه محرم ته او نه حلال ته، ما سوی له پنځو شيانو چي هغه په حديث سره ځيني استثنا سوي دي: (عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰه عَنهَا اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ: خَمسٌ فَوَاسِقُ يُقتَلنَ فِی الحَلِّ وَالحَرَمِ اَلفَأرَةُ وَالعَقرَبُ وَالحِدَأةُ وَالكَلبُ العَقُورُ وَالغُرَابُ الأبقَعُ۔) (اخرجه مسلم)
موږک، لړم، تپوس، کارګه او خروړی سپی .
سوال:
كه څوک د حرم ملخ مړ كړي څه حكم يې دی؟
جواب: صدقه به كوي .
سوال:
كه محرم د حرم درخته پرې كړي يا ملخ كباب كړي يا د حرم د حيوان هګۍ پخه كړي يا د حرم د حيوان شيدې ولوشي څه حكم يې دی؟
جواب: پر ده باندې د دغو شيانو قيمت لازم دی چي خيراتوي به يې .
سوال:
كه محرم شپږه مړه كړي څه حكم يې دی؟
جواب: خيرات به كوي .
سوال:
كه محرم حلال سړي ته امر وكړي هغه شپږه مړه كړي او يا يې اشاره ورته

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړه هغه مړه کړه څه حکم يې دی؟
جواب: پر امر کونکي او اشاره کونکي جزا سته يعني پر محرم .
سوال:
که پر محرم يا حلال سړي په حرم کي يو حيوان حمله کوي او دی يې مړ کړي څه حکم يې دی؟
جواب شی نسته پر .
سوال :
که محرم له پښي څخه کوتره ايله کړه او هغه مړه سوه څه حکم يې دی؟
د کوتري قيمت به خيراتوي .
سوال :
هر هغه کار چي د محرم مقصد داوي چي د حرم حيوان ته فائده ورسوي او هغه مړه سي څه حکم يې دی؟
جواب: د فايدې په صورت کي يې تاوان نسته .
سوال:
که محرم د ځمکي حشرات مړه کړي په حرم يا پهحل کي لکه لړم يا مار يا موږک څه حکم يې دی؟
جواب: شی نسته پر .
سوال:
آيا محرم اوبن يا پسه يا چرګ يا غويي حلالولی سي که يا؟
جواب: هو! حلالولی يې سي .
سوال: آيا محرم يا حلال سړی په حرم کي د ښکار حيوان حلالولی سي که يا؟
جواب: محرم او حلال ته په حرم کي د ښکار د حيوان حلالول او خوړل دواړه حرام دي زموږ پر مذهب .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:

د حرم درختې څو قسمه دي او د کومو درختو شکول او کښل روا دي او د کومو نه دي روا؟

جواب: د حرم درختې پر څلور قسمه دي .

۱ . چې په عادت کې یې خلک شنه کوي لکه عام کښتونه .

۲ . خلک یې په حرم کې شنه کړي خو په عادت کې یې خلک نه شنه کوي لکه د مسواک درخته .

۳ . په حرم کې پخپله شنه سي خو په عادت کې یې هم خلک شنه کوي، د دغو درو قسمو شکول او کښل روا دي او جزا هم نه پر لازمیږي .

۴ . څلورم قسم هغه دی چې په عادت کې خلک نه شنه کوي او پخپله په حرام کې شنې سي، د دغه قسم درختو شکول او کښل نه دي روا، نه محرم ته او نه حلال ته، که د چا په ملک وي او که نه وي، او که وچې سي بیا پروا نلري، او دا ذخر چې یو قسم پاسته وابښه دي د دې شکول روا دي ځکه په حدیث کې د دې جواز راغلی دی: (فَقَالَ عَبَّاسٌ إِلَّا الإِذْخِرَ، يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، فَإِنَّا نَجْعَلُهُ فِيْ قُبُوْرِنَا وَ بُيُوْتِنَا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِلَّا الإِذْخِرَ۔)

سوال:

آیا د کفارې د وجوب حکم دستي ادا کول دي که وروسته والی یې روا دی؟

جواب: حکم یې په وروستوالي سره دی که وځنډیږي پروا نلري خو ښه دا دی چې دستي ادا سي .

سوال:

آیا د کفارې د وجوب څه شرطونه سته که یا؟

جواب: هو ا کفاره په لاندې شرطو سره واجبیږي:

۱ . مسلمان به وي

۲ . عاقل به وي
۳ . بالغ به وي
۴ . د واجب پر ادا كولو به قدرت لري

سوال:
آيا نر او ښځه په وجوب د جزا كي سره برابر دي كه يا؟
جواب: هو ! نر او ښځه سره برابر دئ .

سوال:
آيا نر او ښځه په وجوب د جزا كي سره برابر دي كه يا؟ او يايې په رضا وكړي يا يې څوك په زور په وكړي يا يې په ويښه وكړي‌او يا يې په خوب كي وكړي يا يې د بيهوښۍ په حالت كي وكړي نو آيا په دغو ټولو صورتو كي يو رقم جزا ده او كه څه فرق يې سته؟
جواب: په دغو ټولو حالاتو كي چي ممتنع كار وكړي جزا پر سته او يو رقم جزا ده څه فرق يې نسته .

سوال:
د مناسكو په عباراتو كي چي د جزا په ځاى كي دم ذكر سي څه شى ځيني مراد دي؟
جواب: د جزا په ځاى كي چي هر وخت دم ذكر سي پسه ځيني مراد دى ما سوا له دوو ځايو:

۱ . چي حاجي د عرفات له درېدو او سر خرېيلو وروسته جماع وكړي‌نو دلته اوښ يا غويى پر لازم دى .

۲ . چي حاجي په جنابست سره يا حايضة يا نفاسه د حيض او نفاس په حالت كي طواف زيارت وكړي نو دلته اوښ پر لازم دى ، له دې دوو پرته بل په هر ځاى كي پسه دى .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
آیا د هدیې د صحت او جواز لپاره څه شرطونه سته که یا؟
جواب: هو! د هدیې د صحت او جواز لپاره لاندې پنځلس شرطونه دي:
۱. که د پسه هدیه وه د پوره یوه کال به وي که څه هم په صورت کوچنی وي.
۲. له هر قسم عیوبو به سالمه وي لکه د اضحیې پسه.
۳. په حرم کې به یې حلالوي که هدیه د شکر وي او که د جبر.
۴. هدیه به تر جنایت وروسته وي.
۵. هدیه به یا د پسه وي یا د اوښ یا د غویي د بل شي دا نه صحیح کیږي.
۶. حلالوي به یې که یې یو چا ته ژوندی په خیرات کې ورکړي نه صحیح کیږي.
۷. فقیرانو ته به یې خیراتوي که یې غنیانو ته ورکړي نه صحیح کیږي.
۸. هدیه به له حلالیدو وروسته نه هلاکوي مثلا چې خرڅه کړي یا یې غني ته ورکړي که یې خرڅه کړي یا یې غني ته ورکړ ي پر ده یې قیمت لازم دی، او دغه رنګه قصاب ته به د حلالېدو یا له پوسه کېدو په مزدوري کې د هدیې غوښې یا نورې اجزاوې لکه څرمن یا سر یا پښې یا وړی نه ورکوي، که یې قصاب په دغه شرط ور حلاله کړي بیا نه دی صحیح.
۹. داسې څوک به په هدیه کې له ځانه سره نه شریکوي چې مقصد یې غوښې وي.
۱۰. هدیه به د اختر په ورځ حلالوي او په تمتع او قران کې یې د اختر تر اولې ورځې وروسته هم حلالولی سي لکه دوهمه ورځ یا دریمه.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱ . نیت به یې د کفارې وي .
۱۲ . پر مسکینانو به یې خیراتوي خپل مور او پلار او دارنګه نیکګانو او اناګانو ته به یې نه ورکوي او دارنګه خپل اولاد او لمسیانو ته به یې نه ورکوي .
۱۳ . مسلمان یا کتابي به یې حلالوي یعني داسې څوک چې ذبح یې صحیح وي .
۱۴ . د هدیې د ذبح په وخت کې به بسم الله وایي که شافعی مذهبه په قصد بسم الله پرېږدي نو نه صحیح کېږي .
۱۵ . حلالونکی به تر حلالېدو مخکې د هدیې مالک وي، مثلاً که پردی پسه د هدیې په نیت حلال کړي او وروسته یې ځیني رانیسي نه صحیح کېږي، او د هدیې پر ځای قیمت ورکول هم نه صحیح کېږي .
سوال :
آیا د منی پر خلکو د اختر لمونځ سته که یا؟
جواب : د منی پر خلکو د اختر لمونځ نسته ځکه دوی په مناسکو مشغوله وي .
سوال :
که محرم د عذر له وجهې ګنډلي کالي واغوستل او یا یې خوشبويي ولګوله او یا یې سر وخرېيې او یا یې نوکان پرې کړل څه حکم یې دی؟
جواب : حکم یې دا دی چې درې کاسې غنم به ورکوي یا شپږ کاسې اوربشی یا بل شی .
سوال :
د کفارې په ورکولو کې کاسه په څه اعتبار معتبره ده؟
جواب : په اعتبار د وزن، یعني هغه کاسه ده چې په هغې سره غنم او

اوربشي او خرما او وڅکي تلل کیږي نه نور شیان .

سوال :

: په کفاره کي چي سرې وریجي یا جواري او یا ماش یا نخود ورکوي نو په دې شیانو کي وزن معتبر دی که قیمت ؟

جواب : قیمت معتبر دی وزن ته اعتبار نسته .

سوال:

د کفارې په ورکولو روپۍ ښه دي چي وریې کړي که غنم یا اوړه؟

جواب : روپۍ اولیٰ دي چي وریې کړي .

سوال :

صدقه به چا ته ورکوي؟

جواب : مسکین ته به یې ورکوي، غني ته به یې نه ورکوي، او نه خپل مور او پلار یا نیکه او انا ته او نه خپل اولاد او لمسیانو ته .

سوال :

که یو سړي تر نیمي زیات شوطونه طواف وکړی او تر نیمي کم پریښي دي یا پر شیطان تر نیمایي زیاتي ډبري وولي او لږ پریښي دي یا زیات نوکان پریښي دي لږ پرې کړي نو څه پر لازمیږي؟

جواب : د هر شوط په پرېښودلو سره نه کاسې غنم پر لازمیږي همدا رنګه د هري ډبري په پرېښودلو سره نه کاسې غنم پر لازمیږي او دا رنګه د هر نوک په پرې کېدو سره نه کاسې غنم پر لازمیږي .

سوال:

که محرم کفاره په روژه سره ادا کوي نو آیا د دې لپاره څه شرطونه سته که یا؟

جواب: محرم په لاندي څلورو شرطو سره کفاره په روژه ادا کولی سي:

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ . نيت به يې د كفارې كړى وي .

۲ . نيت به يې له شپې كړى وي نه د ورځې .

۳ . معين نيت به يې كړى وي .

۴ . په ايام منهيه وو كې به نه وي، او اتصال نه دى پكښې شرط .

سوال: .

پر محرم چې جزا له وجهې د پسه كفاره واجبه سوي وي نو دى پخپله د هغې كفارې د پسه غوښې خوړلى سي كه يا؟

جواب: د جزا د كفارې د پسه د غوښو خوړل نه دي ورته روا، او كه د جزا كفاره نه وي بلكې د قران يا تمتع پسه وي يا نفلي وي يا د اختري وي بيا يې خورك ورته روا دى .

سوال :

په كوم كار سره چې پر حاجي مفرد باندې يوه جزا لازميږي آيا كه هغه كار حاجي قارن وكړي هم يوه جزا پر لازميږي او كه دوې؟

جواب : په هر كار سره چې پر حاجي مفرد يوه جزا لازميږي په هغه كار سره پر حاجي مقرن دوې جزاوي لازميږي ما سوا له يو څو مسئلو چې د احنافو امامانو استثنا كړي دي هغه دا دي:

۱ . چې حاجي قارن تر ميقات بې احرامه تېر سي وروسته احرام وتړي او را وهم نه كرزي نو پر ده يو پسه لازميږي .

۲ . چې حاجي قارن د حرم درخته پرې كړي نو يو پسه پر لازم دى .

۳ . چې حاجي پر ځان نذر كړي چې زه به په پښو حج يا عمره كوم او وروسته د حج او عمرې دواړو نيت وكړى او پر يو شي سپور سي نو يو پسه پر لازم دى .

۴ . چې حاجي قارن په بې اودسۍ سره طواف زيارت وكړي نو هم پر ده

Maktaba Tul Ishaat.com

یو پسه لازم دی .

۵ . چي حاجي قارن بې له عذره تر امام مخته له عرفاته راکښته سي نو هم پر ده یو پسه لازم دی .

٦ . چي حاجي قارن پر مزدلفه درېدل پرېږدي نو هم پر ده یو پسه لازم دی .

۷ . چي حاجي قارن تر حلالېدو مخته سر وخرېيي نو هم پر ده یو پسه لازم دی .

۸ . چي حاجي قارن د اختر په ورځو کي سر نه وخرېيي نو هم پر ده یو پسه لازم دی .

۹ . چي حاجي قارن حلالېدل د اختر تر ورځو وروسته کړي نو هم پر ده یو پسه لازم دی .

۱۰ . چي حاجي قارن د شیطانانو ویشتل پرېږدي یا ټول یا دومره اندازه چي په پرېښودلو سره يې پسه یا صدقه واجبېږي نو هم پر ده یو پسه لازم دی .

سوال:

که محرم یو ممنوع کار په دې نیت وکړي چي زه له احرامه ځان په وباسم یعني نیت يې داوي چي زه احرام ماتوم د ده په ګمان سره نو آیا احرام يې مات سو که یا؟

جواب: په ممنوع کار کولو سره محرم له احرامه نه ووزي لکه ګنډلي جامې اغوستل یا خوشبويي لګول او یا نور داسي کارونه چي حلال ته روا وي محرم ته نه وي روا، بلکي دی به ځان بیرته محرم ګرزوي او یو پسه پر لازم دی .



Maktaba Tul Ishaat.com

باب دی په بیان د احصار کي
یعني بندېدل له حج یا عمرې څخه

سوال:
که محرم په فرضي یا نفلي حج کي تر احرام تړلو وروسته د عرفات له درېدو او طواف څخه د یو مانع په وجه بند سو نو حکم یې څه دی؟
جواب: تر احرام تړلو وروسته یې پوره کول پر ده واجب دي یا اداءً یا قضاءً یعني که بیر ته ایله سو مانع ختم سو وخت نه وو ځیني تېر ادا به یې کړي او که وخت ځیني تېر وو بل کال به یې قضا راړي.

سوال:
هر مانع ته بندویل کېدلی سي او که څه قیود لري؟
جواب: زموږ پر مذهب هر مانع ته بندویل کیږي او بند په دوولس وجهو راځي:

۱. د دښمن په وجه بند سي هغه که مسلمان وي که کافر.
۲. د درندګانو په وجه بند سي لکه زمری یا پړانګ یا لېوه.
۳. حکومت په وجه بند سي مثلاً په بندي خانه کي یې بندي کړي.
۴. د هډ د ماتوالي په وجه بند سي تګ نسي کولی.
۵. د مرض په وجه بند سي یعني په تګ سره یې مرض زیاتیږي.
٦. د ښځي محرم یا مېړه مړ سي.
۷. نفقه یې هلاک سي.
۸. سپرلۍ هلاک سي.
۹. له تګ څخه عاجز وي له اوله د احرامه.
۱۰. د مکې یا عرفې لاره ځیني ورکه سي.

١١ . خاوند خپله ښځه منع کړي په نفلي حج کي .
١٢ . عده د طلاق ده .

سوال:
خاوند خپله ښځه په فرض حج کي له عرفات درېدو یا طواف څخه منع کولی سي؟
جواب: نه، نه یې سي منع کولی ځکه دا فرض دي خاوند خپله ښځه له فرضو نسي منع کولی .

سوال:
که محرم پر عرفات ودرېږي بیا مانع ورته پېښ سي نو آیا دا بند بلل کیږي؟
جواب : نه، دا بند نه دی .

سوال :
که محرم د حج یا عمرې یا د دواړو تر احرام تړلو وروسته بند سو نو څه حکم یې دی؟
جواب: د احرام د خلاصولو لپاره به هدیه استوي هدیه که پسه وي که غویی او که اوښ وي .

سوال:
اوښ یا غویی د څو کسانو هدیه کېدلی سي؟
جواب : د اوو کسانو هدیه کېدلی سي .

سوال :
که حاجي قارن بند سو څو هدیې به استوي؟
جواب:حاجي قارن به دوې هدیې استوي .

سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

كـه حـاجي قـار ن د حـج او عـمرې ځـخـه بند سو او د ه يوه هديه واستوله د دې لپاره چي د حج له احرام ځخه خلاص سي او د عمرې په احرام كي پاته وي نو آيا په دې سره د حج له احرامه دى خلاصېدلى سي؟

جواب : دى محرم دى د حج له احرام ځخه نسي خلاصېدلى ځكه حج او عمره نه سره جلا كيږي .

سوال :

كـه حـاجي قـار ن لـه حـج او عـمرې ځـخـه بند سو او د دوو هديو پيسې يې واستـولې و حرم ته او په حرم كي دوې هديې نه په كېدلې نو يوه هديه يې را نيـولـه او حـلالـه يې كړه نو اوس دى له دواړو احرامو ځخه خلاص دى كه له يوه ځخه؟

جواب : لـه يـوه ځـخـه هـم نـه خـلاصيږي ځكه پر ده دوې هديې دي او د حج او عمرې په مينځ كي جلاوالى هم نسي راتلى .

سوال :

مـحـرم د هـديې په استولو سره حلال دى او كه به د هديې تر حلالېدو انتظار كوي؟

جواب : په استولو نه حلاليږي بلكي چي هديه حلاله سوه بيا دى حلال دى .

سوال :

كه بندي محرم له هديې ځخه عاجزه سو څه حكم يې دى؟

جـواب : دى تـر هـغـو پـوري مـحـرم دى چـي هـديـه پيدا كوي د هديې پر ځاى صدقه يا روژه كفايت نه كوي .

سوال :

كـه مـحـرم هـديـه پـه حـرم كي حـلالـه كړي او دى اراده د خپل ځان د حلالېدو وكړي نـو سـر خـرېيـل پـر ده واجب دي او كه په نورو ممنوعه شيانو سره هم

حلالېدلی سي لکه نوکان پرې کول؟

جواب: چې هدیه حلاله سوه په هر ممنوع کار سره دی له احرامه ووزي او سر خرېیل مستحب دي .

سوال:

که د محرم دا کمان وو چې هدیه حلاله سوې ده او ده ممنوع کارونه وکړل او وروسته معلومه سوه چې هدیه نه ده حلاله سوې څه حکم یې دی؟

جواب: پر ده یوه جزا لازمیږي .

سوال:

که محرم بندي سو او د هدیې تر استولو مخکي یا وروسته خلاص سو څه حکم یې دی؟

جواب: بندي محرم چې خلاص سي په دې کي پنځه صورته راځي:

۱ . د هدیې تر استولو وروسته خلاص سي، په دغه صورت کي پر ده واجب دي چې ځي به حج به کوي، په هدیه سره ځان نسي حلالولی .

۲ . د هدیې تر استولو وروسته خلاص سي، خو د حج او هدیې د دواړو پر نیولو په خپل وخت کي قدرت لري، دلته هم پر ده واجب دي چې ځي به حج به کوي، په هدیه سره ځان نسي حلالولی .

۳ . دهدیې تر استولو وروسته خلاص سي خو د یوه پر نیولو هم قدرت نلري، دلته پر ده تګ نه دی واجب بلکي په هدیه سره ځان حلالولی سي .

۴ . یوازې د هدیې پر نیولو قدرت لري، دلته هم پر ده تګ نه دی واجب بلکي په هدیه سره ځان حلالولی سي .



Maktaba Tul Ishaat.com

باب دی په بیان د قضا د حج او عمرې کي

سوال:
که محرم د سپېدو تر راختلو مخکي عرفات ونیوی نو حج یې وسو که یا؟
جواب: محرم چي تر سپېدو مخکي عرفات ونیسي حج یې صحیح دی.
سوال: که د حاجي قارن او حاجي متمتع حج تېر سو نو د شکریې پسه ځیني ساقطیږي که یا؟
جواب: ساقطیږي.

فصل دی په بیان د هغو اسبابو کي چي د حج قضا واجبوي

سوال:
په کومو اسبابو سره د حج قضا واجبیږي؟
جواب: په لاندي څلورو اسبابو سره د حج قضا واجبیږي.

۱. تېرېدل د درېدو پر عرفات.
۲. بندي کېدل له درېدو پر عرفات.
۳. د حج له احرام تړلو وروسته احرام ماتول.
۴. جماع کول

سوال:
که پر یو چا حج واجب وو او مړ سو وصیت یې هم نه وکاوو نو دغه سړی ګنهکار دی که یا؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: هو ! ګنهګار دی بالاتفاق .
سوال:
: که محرم طواف زيارت د جنابت په حال کي يا ښځي د حيض او نفاس په حال کي وکړ نو څه حکم يې دی؟
جواب: که ټول طواف يا تر درې شوطه زيات طواف يې په جنابت يا د حيض او نفاس په حالت کي کړی وو نو اوښ پر لازم دی .
سوال:
په مذکوره صورت کي طواف را ګرزېدل سته که يا او محرم ګنهګار بلل کيږي که يا؟
جواب: که په مکه کي وو د طواف را ګرزېدل پر واجب دي او طواف چي را وګرزوي بيا دم يعني اوښ حلالول ځيني ساقط دی او ګنهګار په هر صورت کي دی .
سوال:
که له مکې څخه وتلی وو بيا به د دغه طواف لپاره نوی احرام تړي که پخوانی احرام کفايت کوي؟
جواب: که تر ميقات تېر سوی وو بيا به نوی احرام د عمرې لپاره تړي اول به د عمرې طواف وکړي بيا به دغه طواف وکړي او که تر ميقات نه وو تېر سوی بيا دغه احرام کافي دی .
سوال:
دغه طواف به بيرته د اختر په شپو کي را ګرزوي که وروسته؟
جواب: دواړه صورته جائز دي خو که يې د اختر په شپو کي را وګرزاوه بيا شی نسته پر او که يې د اختر تر شپو وروسته را وګرزاوو بيا پسه پر لازم دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
كه يې تر څلور شوطه كم طواف د جنابت يا حيض يا نفاس په حالت كې كړي وو څه حكم يې دى؟
جواب: د هر شوط لپاره به نيمه كاسه غنم خيراتوي او كه يې طواف بيرته را وګرزاوو بيا شي نسته پر.
سوال
: كه طواف زيارت د بې اودسۍ په حالت كې څوك وكړي څه حكم يې دى؟
جواب: كه څوك ټول طواف يا څلور شوطه په بې اودسۍ وكړي پسه پر لازم دى او مستحب دا ده چې طواف بيرته راوګرزوي او كه په مكه كې وو كه يې طواف بيرته را وګرزوى بيا نو شي نسته پر، كه يې د اختر په شپو كې را وګرزوى او كه يې وروسته را وګرزوى بيا پسه پر لازم دى.
سوال:
كه يې تر څلور شوطه كم طواف زيارت په بې اودسۍ سره وكړ څه حكم يې دى؟
جواب: پر هر شوط نيمه كاسه غنم پر لازميږي.
سوال:
كه يو چا په طواف زيارت كې درې شوطه يا تر دې كم پرېښودل څه حكم يې دى؟
جواب: پسه پر لازم دى، او دغه رنګه په لاندې صورتو كې هم پسه پر لازميږي:

١. چې پر يو شي سپور وي طواف كوي.
٢. د بل چا پشا وي طواف كوي.
٣. په لوڅ بدن طواف كوي

Maktaba Tul Ishaat.com

که معذور وو ضعیف وو یا مریض بیا شی نسته پر .

سوال:

که سړی طواف زیارت د اختر تر شپو وځنډوي څه حکم یې دی؟

جواب: که ټول یا تر درې شوطه زیات وځنډوي نو پسه پر لازم دی او که تر درې شوطه کم وي بیا د هر طواف لپاره نیمه کاسه غنم دي .

سوال:

که سړی طواف زیارت په حالت د جنابت کې وکړي او طواف صدر په پاکي وکړي څه حکم یې دی؟

جواب: په مذکور صورت کې که طواف صدر په ورځو د اختر کې وکړي یو پسه پر لازم دی او که یې د اختر تر ورځو وروسته وکړ دوه پسونه پر لازم دي اکه د اختر په ورځو کې طواف صدر هم وکړي او طواف زیارت هم را وکرزوي بیا شی نسته پر .

سوال:

که سړی څلور شوطه یا تر دې زیات طواف زیارت پریږدي بیا طواف صدر وکړي څه حکم یې دی؟

جواب: په مذکور صورت طواف زیارت چې څومره پاته سوی دی په طواف صدر هغه پوره کیږي خو دوه پسونه پر لازم دي اول د تاخیر د اکثرې حصې د طواف زیارت په وجه دوهم د پرېښودو د اکثري حصې د طواف صدر په وجه .

سوال:

که سړی یو شوط د طواف زیارت وکړي اویو یا دوه شوطه د طواف صدر وکړي څخه حکم یې دی؟

جواب: په مذکور صورت کې که یو یا دوه شوطه د طواف زیارت وکړي او

Maktaba Tul Ishaat.com

يو يا دوه شوطه د طواف صدر وكړي نو د طواف صدر شوطونه هم د طواف زيارت بدل كيږي نو اوس كه د طواف زيارت شوطونه د طواف صدور له شوطو سره څلورو ته رسېدل نو پر ده دوه پسونه او نيمه كاسه غنم لازم دي او كه د طواف زيارت شوطونه د طواف صدر له شوطو سره څورو ته نه رسېدل بيا به دغه اووه شوطه پوره كړي طواف زيارت به سي او دوه پسونه هم پر ستـه اول د طواف زيارت د تاخير په وجه دوهم د طواف صدور د پاته كېدو په وجه .

سوال:
كه ښځه په حيض كي وه خو د اختر په اخيره ورځ پاكه سوه او طواف زيارت يې نه وو كړى نو څه به كوي؟

جواب: كه تر لمرر لوېدو دومره وخت ووو چي دې طواف زيارت ټول يا څلور شوطه يا تر دې زيات پوره كولى سو نو طواف زيارت پر لازم دى كه يې نه وكړي پسه پر لازم دى او كه تر لمر لوېدو پوري كم وخت وو د طواف څلور شوطه نه پكښي پوره كېدو هم طواف پر لازم دى كه يې نه وكړي صدقه پر لازمه ده .

سوال:
كه ښځه دومره وخت پاكه وه چي ټول يا څلور شوطه طواف زيارت يې كولى سو خو دې نه وكړ او په حيض كي سو نو څه حكم يې دى؟

جواب: په مذكور صورت كي پسه پر لازم دى او كه يې وخت تر دې كم وو بيا شي نسته .

سوال:
كه ښځه د حيض حالت كيويني په دوا بندي كړي يا يې بندي نكړي غسل وكړي بيا طواف وكړي تر هغه وروسته يې د حيض په شپو كي بيرته ويني

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلې نو څه حکم يې دی؟
جواب: طواف يې صحيح دی خو داسخته ګنهګاره ده که يې طواف بيرته را وګرزوی نو شي نسته پر او راګرزول يې واجب دي که يې نه را وګرزوی اوبښ پر لازم دی .
سوال:
که څا ټول طواف صدر پرېښودی څه حکم يې دی؟
جواب: تر هغه وخته چې په مکه کې وي بيرته به يې را ګرزوي که يې نه را وګرزوی پسه پر واجب دی .
سوال:
که څا کمه حصه د طواف صدر پرېښوده څه حکم يې دی؟
جواب: که څا درې شوطه يا تر دې کم د طواف صدر پرېښودل نو ذ هر شوط لپاره نيمه کاسه غنم پر لازم دي
سوال:
که څوک طواف صدر په حال د جنابت يا په حال د بې اودسۍ کې وکړي څه حکم يې دی؟
جواب: که څوک طواف په حالت د جنابت کې وکړي او بيرته يې نه را وګرزوي پسه پر لازم دی او که يې بيرته په پاکې سره را وګرزوي بيا شی نسته پر، او که يې په بې اودسۍ وکړي بيرته يې نه را وګرزوي د هر شوط لپاره صدقه پر لازمه ده او که يې په اوداسه بيرته را وګرزوي بيا شی نسته .
سوال:
که څوک طواف قدوم په حالت د جنابت کې وکړي څه حکم يې دی؟
جواب. که يې ټول يا اکثره حصه په جنابت کړې وي او بيرته يې نه را

Maktaba Tul Ishaat.com

وکرزوي نو پسه پر لازم دی او که یې بیرته په پاکې سره را وکرزوي بیا شی نسته .

سوال :

که څوک طواف قدوم په بې اودسۍ وکړي څه حکم یې دی؟

جواب : کـه یې بیرتـه پـه اوداسـه را وکـرزو شـی نسـتـه پر او کـه یې نـه را وکرزوي نو د هر شوط لپاره نیمه کاسه غنم پر لازم دي .

سوال :

که یو څوک طواف قدوم پرېږدي څه حکم یې دی؟

جواب : طواف قدوم سنت دی پرېښودل یې مکروه دي خو بیا هم کې پرېږدي شی نسته پر ، د نفلي طواف حکم هم لکه د طواف قدوم داسې دی .

سوال :

کـه څـوک د عـمـرې طـواف پـه حال د جنابت یا بې اودسۍ یا د حیض یا نفاس کې وکړي څه حکم یې دی؟

جواب : پـه ټولو صورتو کې پسـه پر لازمیږي .

سوال :

که څوک د عمرې طواف پرېږدي څه حکم یې دی؟

جـواب : د عـمرې طواف که درې شوطه یا تر دې کم پاتـه سي او بیرته یې نه را وکـرزوي نـو پسـه پـر لازم دی او کـه تـر درې شـوطـه زیات پاتـه سي بیا یې را کرزېدل واجب دي ، او که یې نه را وکرزوي هم پسـه پر لازم دی .

سوال :

کـه حـاجي قـارن د عـمـرې طـواف او طـواف قـدوم دواړه بې اوداسه وکړي څه حکم یې دی؟

جـواب : طـواف عـمـره بـه بیـرتـه تر اختر دمخـه را کرزوي که داختړ دورځې

Maktaba Tul Ishaat.com

سپېدې را پورته سوې او ده طواف عمره نه وو را گرزولي بيا پسه پر لازم دى .

سوال:

: كه څوک طواف عمره او بيا سعى د صفا او مروا په بې اودسۍ وكړي څه حكم يې دى؟

جواب: كه يې طواف نه را وگرزوى نو پسه پر لازم دى د طواف په بدل كي، او پر سعي شى نه لازميږي .

سوال:

كه د چا پر بدن يا جامو مرداري وي طواف وكړي څه حكم يې دى؟

جواب: مكروه دى خو شى نه پر لازميږي .

سوال:

كه د چا په طواف كي داسي خلل راغلى وي چي دم پر واجبېدى نو دم ښه دى كه بيرته طواف را گرزېدل؟

جواب: طواف را گرزېدل افضل دي .

سوال:

كه له چا څخه د طواف دوه ركعاته لمونځ پاته سي څه حكم يې دى؟

جواب: دغه دوه ركعاته د سړي له ذمې څخه نه ساقطيږي كه څيني پاته سي بل ځاى به يې را گرزوي كه كلونه پر تېر سي هم نه ساقطيږي خو ډېر ځنډول يې مكره دي .

سوال:

كه څوک سعي پريږدي څه حكم يې دى؟ حج ته يې تاوان رسي كه يا؟

جواب: كه له سړي څخه ټوله يا اكثره برخه د سعي پاته سوه پسه پر لازم دى خو حج يې صحيح دى او كه د عذر له وجهي پاته سي بيا شى نسته .

سوال:
كه تر اكثره برخه كمه پاته سوه څه حكم يې دی؟
جواب: كه درې شوطه يا تر دې كمه حصهٔ پاته سوه نو د هر شوط لپاره به نيمه كاسه غنم وركوي خو كه د ټولي صدقې قيمت له پسه سره برابر وو بيا ده ته اختيار دی كه پسه وركوي او كه غنم.
سوال:
كه څوك ټوله سعي يا اكثره حصه په سپرتيا وكړي څه حكم يې دی؟
جواب: كه د عذر په وجه وو شی نسته او كه عذر نه وو بيا پسه پر لازم دی، او كه درې شوطه يا تر دې كم په سپرتيا وكړي بې له عذره نو بيا هم شی نسته پر.
سوال:
كه څوك سعي تر طواف مخته وكړي څه حكم يې دی؟
جواب: سعي يې نه صحيح كيږي بيرته به يې را وګرزوي كه يې نه را وګرزوي پسه پر لازم دی.
سوال:
كه څوك بالكل سعي ونكړي څه حكم يې دی؟
جواب: كه تر ميقات ووتی او سعي يې نه وه كړې نو ښه دا دی چي پسه حلال كړي خو دا هم ورته روا دي چي بيرته را وګرزي نوی احرام وتړي نور افعال د حج وكړي او بيا سعي وكړي.
سوال:
كه څوك سعي وكړي خو صفا او مروا ته نه وخيژي څه حكم يې دی؟
جواب: كراهت لري خو شی نسته پر.
سوال:

که څوک سعي د اختر تر شپو وځنډوي څه حکم يې دی؟

جواب: کراهت لري خو نور شی نه پر لازميږي، که څه هم په کلو يې وځنډوي.

سوال:

که حاجي د اختر په سهار د مزدلفې دربدل پر بښوول څه حکم يې دی؟

جواب: که بې له عذره وو پسه پر لازم دی، او که مثلا ډېر مريض وو يا ضعيف وو يا زنانه وه درش څخه بېرېده بيا شی نسته پر.

سوال:

که حاجي د مزدلفې شپه بل ځای تېره کړي څه حکم يې دی؟

جواب: د مزدلفې شپه بل ځای تېرول مکروه ده خو شی نه لازموي.

سوال:

که حاجي په عرفات کي بند پاته سو د مزدلفې دربدل ځيني پاته سو څه حکم يې دی؟

جواب: که د بنديدو عذر د بندګانو لخوا وو لکه حکومت يا دښمن بيا پسه پر لازم دی او که د بندګانو لخوا نه وو بيا شی نسته.

سوال:

چي پر محرم دم لازم سي چيري به يې حلالوي په حرم کي که بل ځای؟

جواب: دم القران، دم المتمتع، دم النذر په حدودو د حرم کي حلالول لازم دي که يې تر حرم دباندي حلال کړي دم ځيني ساقطيږي.

سوال:

د اختر پسه به چيري حلالوي؟

جواب: د اختر پسه او دغه رنګه نفلي هديه هر ځای حلالولی سي.

سوال:

كه حاجي سر په حل كي وخريي يا يې د اختر تر شپو وځنډوي څه حكم يې دى؟

جواب: په دواړو صورتو كي پسه پر لازم دى .

سوال:

كه حاجي د شيطان تر ويشتلو مخكي سر وخرېيي څه حكم يې دى؟

جواب: كه حاجي مفرد وو يو پسه پر لازم دى كه حاجي متمتع يا قارن وو بيا دوه پسونه پر لازم دى .

سوال:

كه حاجي تر شيطان ويشتلو او سر خرېيلو مخكي طواف ركن وكړي څه حكم يې دى ؟

جواب: شى نسته پر خو دغه عمل مكروه دى .

سوال:

كه حاجي رمى پرېښوده څه حكم يې دى؟

جواب: كه يې د اولي ورځي ټولي ډبري چي اووه دي يا اكثره حصه يې چي څلور دي او د باقي دوو ورځو ټولي ډبري چي يوويشت دي يا اكثره حصه يې چي يو ولس دي پرېښودل پسه پر لازم دى .

سوال:

كه يې د يوې ورځي رمى و بلي ورځي ته پرېښوده څه حكم يې دى؟

جواب: كه يې د يوې ورځى رمي و بلي ورځي ته پرېښوده پسه پر لازم دى او كه يې په راتلونكي شپه كي چي د دغي اولي او دوهمي ورځي د مابين شپه ده وكړه بيا شى نسته .

سوال:

كه محرم شپږه مړه كړي څه حكم يې دى؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب : كه يوه شپږه مړه كړه يا يې له بدنه وغورزوله څه صدقه دي وكړي مثلاً لكه يوه ګوله ډوډۍ خيراتول او داسي نور ، او كه دوې يا درې شپږي مړې كړې بيا دي يوه لپه غنم خيرات كړي او كه تر درې هم زياتي وې بيا دي په قدر د زيادت صدقه وكړي .

سوال :

كه محرم خپلي جامې پرېولې د دې لپاره چي سپږي يې مړې سي يا يې لمر ته كښېښودلې څه حكم يې دی؟

جواب : كه يې قصد د سپږو مړه كېدل وو او سپږي هم ډيري وې نو نيمه كاسه غنم دي خيرات كړي او كه يې قصد د سپږو مړه كېدل نه وو بيا شی نسته پر .

سوال:

كه محرم بل چا ته د سپږي مړه كېدلو امر وكړي څه حكم يې دی؟

جواب : كه محرم بل چا ته د سپږي مړه كېدلو يا غورزولو امر وكړي نو پر محرم هغه قدر صدقه ده لكه خپله چي يې مړه كړي او دغه رنګه كه محرم و بل چا ته خپل كالي د دې لپاره وركړل چي سپږي يې مړې كړي هم پر محرم صدقه سته .

سوال:

كه محرم د بل چا له بدنه سپږه مړه كړه يا يې وغورزوله يا يې د ځمكي سپږه مړه كړه څه حكم يې دی؟

جواب : شی نسته پر .



Maktaba Tul Ishaat.com

باب دی په بیان کي
د حج کولو د بل پر ځای

سوال:
آیا د بل پر ځای حج کول روا دي که یا؟
جواب: د بل پر ځای حج کول روا دي ځکه یو سړی د خپل نیک عمل ثواب بل چا ته بخښلی سي که هغه مړ وي که ژوندی که لمونځ وي که روژه وي که صدقه وي که بل عبادت لکه تلاوت د قرآن یا نور ذکرونه، هر څوک چي دا اعمال وکړي او ثواب یې بل چا ته وبخښي بېشکه چي ثواب یې هغه چا ته رسیږي د اهل السنت والجماعت پر مذهب: مَنْ مَرَّ عَلَى الْمَقَابِرِ فَقَرَأَ فِيهَا قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ إِحْدٰى عَشَرَةَ مَرَّةً ثُمَّ وَهَبَ اَجْرَهُ الْاَمْوَاتَ أُعْطِى مِنَ الْأَجْرِ بِعَدَدِ الْأَمْوَاتِ (الرافعي عن علي)
ترجمه: که څوک پر قبرو تېرېدی او یوولس واره یې قل هو الله احد وویل او ثواب یې مړو ته ور وبخښی نو ده ته به د مړو په حساب ثواب ورکول سي، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ ضَحّٰى بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ فَقَالَ عِنْدَ ذَبْحِ الْأَوَّلِ: عَنْ مُحَمَّدٍ وَ آلِ مُحَمَّدٍ وَ قَالَ عِنْدَ ذَبْحِ الثَّانِي: عَمَّنْ اٰمَنَ بِي وَ صَدَّقَ بِي مِنْ أُمَّتِي۔

سوال:
پر یو سړي حج واجب سو او په دغه کال د ستي حج ته روان سو او په لار کي مړ سو حج یې نه وکړ نو دی ګنهکار دی که یا؟
جواب: دا سړی نه دی ګنهکار ځکه ده حج نه دی ځنډولی تر خپل وخت.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حج بدل شرطونه

۱ . عجز د حاجي دی له ادا د مناسکو د حج .
۲ . دوام د عجز دی تر مرګه پوري .
۳ . نیت د نائب دی لپاره د حج د آمیر یا مړي .
۴ . د مړي یا امیر په مال به حج کوي که تبرعا مامور په خپل مال حج وکړي نه دی روا، دا که چیري مړی یا امیر وصیت کړی وو که یې وصیت نه وو کړی وارث یا بل چا تبرع وکړه امید سته چي الله (ج) یې قبول کړي ان شاء الله تعالی .
۵ . مصرف که لږ د مامور وي ډېر د امیر وي صحت لري، که یې ټوله خرچه یا اکثره خرچه له ځانه وکړه بیا به پر امیر رجوع کوي، که د مړي په مال مامور تجارت وکړي او ګټه په وکړي حج صحت لري زموږ په مذهب .
٦ . نائب به پخپله حج کوي نه په بل چا .
۷ . تعین د نائب دی د خپل حج لپاره .
۸ .وجوب د حج دی پر حاجي باندي .
۹ . وجوب د عذر دی مخکي تر تعین د نائب .
۱۰ . تعین د نائب دی له وطنه د حاجي .
۱۱ . د نائب د حج سفر په طیاره یاموټر یا کښتۍ وغیره کي .
۱۲ . د صحیح حج ادا کول، نه د فاسد .
۱۳ . د امیر د امر مطابق حج ادا کول، یعني مفرد یا قران یا تمتع .
۱۴ . په یوه حج احرام تړل نه په دوو .
۱۵ . اظهار د حج د شخص واحد لپاره .
۱٦ . د امیر له میقاته احرام تړل .
سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

که حاجي پر لاره وفات سو اراده يې د حج کړې وه نو وارث به د مړه پر ځای له کوم ځايه حج کوي؟

جواب: د مړي له وطنه به يې کوي زموږ پر مذهب.

سوال:

که امير ډېر وطنونه درلودل مامور به د ده له کوم وطنه حج کوي؟

جواب: چې مکې ته نژدې وي.

سوال:

که امير د حج امر کړی وو مامور عمره وکړه بل کال يې له مکې څخه حج وکړ حج صحت لري که يا مامور ضامن دی که يا؟

جواب: حج صحت نلري مامور ضامن دی.

سوال:

که مامور بغير احرام تر ميقات تېر سي دم پر چا لازم دی؟

جواب: دم پر مامور واجب دی بيرته به راګرزي که نه راوګرزي ضامن دی.

سوال:

که دوو کسانو يو چا ته د حج امر وکړ مامور د دواړو لپاره احرام وتړي صحت لري که يا؟

جواب: حج د مامور کيږي او د دواړو ضامن دی که يې تعين د احرام تر شروع مخکې وکړ بيا د هغه متعين له ضمانت څخه خلاص دی د هغه بل ضامن دی.

سوال:

که مامور يعني زوی د پلار او مور په حج سره احرام وتړي وروسته يې تعين وکړي صحيح دی که يا؟

جواب: هوا صحيح دی، رسول الله ﷺ فرمايي چې څوک د مور او پلار حج

Maktaba Tul Ishaat.com

ادا كړي يا يې پور ادا كړي د قيامت په ورځ به په نېكو خلكو كي را پورته سي، په بل روايت كي راځي كه څوک د مور او پلار حج وكړي له ده څخه هم قبول دى او له مور او پلار څخه هم قبول دى، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمْ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ حَجَّ عَنْ وَالِدَيْهِ ، وَلَمْ يَحُجَّا أَجْزَأَعَنْهُ وَ عَنْهُمَا وَبُشِّرَتْ أَرْوَاحُهُمَا فِي السَّمَاءِ وَكَانَتْ لَهُ عِنْدَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ بِرًّا۔

سوال:

د حج بدل د صحت شرطونه څو دي؟

جواب: څلور دي:

۱ . اسلام او عقل د حاجي چي امير دى .

۲ . اسلا او عقل د نائب چي مامور دى .

۳ . تميز دى يعني معتوه به نه وي چي په خبر نه پوهيږي .

۴ . نه فوتېدل د حج له نائب څخه .

سوال:

كه مامور خپل حج نه وي كړى د بل حج كولى سي كه يا؟

جواب: هو! و دې ته حج الصروره وايي، خو البته حج صروره يعني چي خپل حج يې نه وي كړى د بل حج كوي دا مكروه تحريمي دى، خو افضل دا دى لكه په بدائع كي چي وايي چي اول به خپل حج كوي تر څو تارک د عبادت له خپل نفس نسي .

سوال:

كه مامور فقير وى د امير په نفقه په تک سره مكي ګرزي كه يا، حج باندي واجبيږي كه يا؟

جواب : نه مكي ګرزي نه حج باندي واجب دى .

Maktaba Tul Ishaat.com

بحث د مامور په نفقه کي

سوال:
امير به څومره نفقه مامور ته ورکوي؟
جواب: د ډوډۍ، کټغ، اوبو، صابون او داسي نور ضروريات د سر خرېيلو او د حمام مصرف به ورکوي، دا به په اوسط طريقه سره وي چي نه ډېر زيادت وي او نه کمبوت، همدا رنګه په وس زمانه کي به د پاسپورټ او وېزې مصرف د طيارې ټکټ او داسي نور مصارف چي حاجي چاره نه ځيني لري دا به ټول په اوسطه طريقه سره ورکوي .
سوال:
که مامور په مکه مکرمه کي وطن ونيسي او هلته سکونت اختيار کړي نفقه پر چا ده؟
جواب : پر مامور ده .
سوال:
که مامور تر ايام حج مخکي سفر وکړي نفقه به د خپل مال کوي که د امير؟
جواب: مناسب دا دی چي تر بغداد يا تر کوفې يا تر مکې پوري د امير له مال څخه نفقه وکړي چي مقيم سي بيا دي له خپل مال څخه کوي .
سوال:
که مامور په خپلو حوائجو مشغول سي حج ځيني تېر سي امير يا د ده ورثه به څه ورسره کوي؟
جواب: معروفه نفقه به ځيني اخلي او که مامور بل کال په خپل مال د امير لپاره حج وکړي هم صحت لري .
سوال :

Maktaba Tul Ishaat.com

که مامور ووايي چې زه له حج څخه منع سوم تصديق يې کيږي که يا؟
جواب: نه کيږي تر څو چې امر مانع ظاهراً د مامور په خبره شاهدي ورنکړي .
سوال:
قرباني د شکريې او جنايت پر امير ده که پر مامور؟
جواب: پر مامور دي، او دم د احصار پر امير ده . (۱)

۱ . ارشاد الساري ص ٥،٦

باب العمره

سوال:
عمره سنت ده که واجب؟
جواب: عمره وړوکی حج ده او سنت موکد ده على المختار .
سوال:
عمره معلوم وخت لري که هر وخت کيږي؟
جواب: نه يې لري .
سوال:
په کومو ورځو کي عمره مکروه ده؟
جواب: په ورځ د عرفې او په ورځ د اختر او پهورځو د تشريق کي مکروه ده .
سوال:
د حج او عمرې څه فرق دی؟
جواب: په يوولس شيانو کي فقر سره لري:
۱ . حج فرض دی عمره سنت ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ . عمره معلوم وخت نلري او د حج وخت معلوم دی .

۳ . عمره نه فوتيږي .

۴ . په عمره کي پر عرفات او مزدلفه درېدل نسته نه خطبه سته نه د شيطانانو ويشتل سته او په حج کي دا ټول سته .

۵ . په عمره کي نه طواف وداع سته او نه طواف صدر ،او په حج کي دواړه سته .

٦ . په عمره کي بدنه په فساد سره نه لازميږي .

۷ . په عمره کي که معتمر جنب وي يا ښځه حايضه يا نفاسه وي بدنه نه لازميږي بلکي پسه لازميږي .

۸ . د عمرې ميقات حل دی که مکي وي که افاقي وي که تر مابين د مکي او افاق وي .

۹ . د عمرې د طواف په شروع کي تلبيه نه ويل کيږي .

۱۰ . په عمره کي طواف قدوم نسته .

۱۱ . د عمرې په طواف کي په جنابت سره نسته .

سوال : د عمرې فرض څو دي؟

جواب: دوه دي اول نيت دوهم طواف .

سوال : د عمرې واجب څو دي؟

جواب: دوه دي اول سعي د صفا او مروا، دوهم سر خرېيل يا لنډول .

سوال : که عمره فاسده سي نو په قضا کي نوی احرام غواړي که يا؟

جواب : هو! نوی احرام غواړي .

سوال : په عمره کي رمل او اضطباع سته که يا؟

جواب : په اول درو طوافو کي رمل سته او اضطباع په ټولو کي سته .

سوال : د عمرې افضل وخت کوم دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: عمره د روژې په مياشت كي افضل ده .

سوال: ډېري عمرې كول څه حكم لري؟

جواب: ډېري عمرې كول مستحب دي .

نذر په حج او عمره سره

سوال: نذر په حج او عمره سره څو قسمه دى؟

جواب: دوه قسمه دى اول صريح دوهم كنايي .

سوال: صريح نذر څو قسمه دى؟

جواب: دوه قسمه دى اول مطلق دوهم مقيد .

سوال: كنايي نذر څو قسمه دى؟

جواب: دوه قسمه دى اول مطلق دوهم مقيد .

سوال: نذر په حج يا عمره سره په صريح او مطلق الفاظو كوم دى؟

جواب: چي ووايي چي پر ما د الله (ج) د بيتې حج واجب دى چي كوم به يې يا ووايي چي په ما حج واجب دى د الله لفظ نه كي ذكر، په دغه نذر به وفا كوي حج به كوي .

سوال:

نذر په حج يا عمره سره په مقيدو الفاظو كوم دى؟

جواب: چي ووايي چي كه فلاني ته الله (ج) شفا وركړه يا فلانى كه راغى نو پر ما حج يا عمره يا دواړه واجب دي چي كوم به يې، نو كه شرط موجود سو وفا به كوي .

سوال:

نذر په حج يا عمره په كنايي مطلقو الفاظو كوم دى؟

جواب: چي ووايي چي زه به تګ مكې يا كعبې يا بيت الله ته كوم يا زيارت البيت به كوم .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: نذر په حج يا عمره په كنايي معلقو الفاظو كوم دى؟

جواب: چي وو ايي كه فلانى له مرضه جوړ سو زه به بيتې ته ځم يا داسي نور الفاظ، په كنايي الفاظو كي نيت غواړي كه يې په مذكورو الفاظو سره نيت د حج يا عمرې نه وو بيا نه واجبيږي .

سوال:

افضل الاماكن (ځايونه) كوم دي؟

جواب: مسجد حرم، مسجد نبوي، بيت المقدس، مسجد قبا، مسجد جامع، د كلي مسجد، فضيلت يې د مذكور ذكر په ترتيب دى .

د هديې اوقرباني بحث

سوال:

په هديو او قربانيو كي كومه هديه او قرباني افضله ده؟

جواب: اول اوښ، دوهم غويي دريم پسه .

سوال: هديې څو قسمه دي او له كومو هديو د هديې خاوند خوراک كولى سي او له كومو يې نسي كولى؟

جواب: هديې شپږ قسمه دي:

۱. اضحيه
۲. هدية التمتع
۳. هدية القران
۴. هدية الجزاء
۵. هدية الكفارة
٦. هدية النذر

له اولو درو څخه صاحب الهديه خوراک كولى سي او له وروستنى درو څخه يې نسي كولى .

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:

هغه کوم عیوب دي چي په حیوانکي وي نو هدیه یا اضحیه یې صحت نلري؟

جواب: هغه لاندي اووه (۷) عیوب دي:

۱. چي ټول یا اکثر غوږ یې پرې وي.

۲. چي خلقة یو یا دواړه غوږونه نلري.

۳. چي لکۍ یا لم یې پرې وي.

۴. چي ړوند وي

۵. چي ګوډ وي د حلالېدو ځای ته نسي تللی.

۶. چي مریض وي خوراک نسي کولی یا غاښونه نلري خوراک نسي کولی.

۷. چي دومره ډنګر وي په هډوکو کي مازغه نلري.

سوال:

هغه کوم عیوب دي چي هغه په حیوان کي وي خو بیا هم هدیه یا اضحیه یې صحیح وي؟

جواب: هغه لاندي اته (۸) عیوب دي:

۱. چي د غوږ، لکۍ یا لم اکثره حصه یې پاته وي.

۲. کلی وي یا یې ښکر مات وي.

۳. لېونی وي.

۴. خصي وي.

۵. غوږ یې ځیري وي یا سوری وي.

۶. پمن وي خو چاغ وي.

۷. چي ېلاربه وي مع الکراهة جواز لري.

Maktaba Tul Ishaat.com

۸. کوډ وي خو تک کولی سي یا غاښونه نلري خو خورک کولی سي.

سوال:

هدیه به د څونه عمر وي؟

جواب: اوښ به په شپږم کال کي داخل وي، غویی به په دریم کال کي داخل وي پسه به په دوهم کال کي داخل وي.

فصل دی په متفرقو مسئلو کي

تر لمانځه روژې او زکات وروسته افضل عمل حج دی، یوه روپۍ خیرات داوو سوو ثواب لري، نفلي حج د امام اعظمؒ په نزد تر خیرات افضل دی، په حج سره ټول صغیره ګناهونه معافیږي ان شاء الله تعالی.

سوال: حج اکبر کوم یو دی؟

جواب: په حج اکبر کي اختلاف دی څوک وایي چي د اختر اوله ورځ ده څوک وایي چي د اختر دوهمه ورځ ده څوک وایي چي هغه ورځ ده چي رسول الله ﷺ حج پکښي کړی دی، مجاهدؒ وایي چي حج اکبر حج قران دی او حج اصغر حج افراد دی، مشهوره دا ده چي د جمعې او عرفې ورځ سره برابر سي هغه حج اکبر دی.

سوال:

حج په حرام مال سره څه حکم لري؟

جواب: فرض یې ساقطیږي ظاهراً حج قبول او مبرور نه دی.

سوال:

په حج سره ګناهونه معافیږي که یا؟

جواب: صغیره ګناهونه معافیږي او کبیره ګناهونه معافیږي نه خو کمیږي انشاء الله تعالی.

سوال:

Maktaba Tul Ishaat.com

که څوک د مړي حج وکړي څونه ثواب لري؟
جواب: حج د مړي لپاره نويشته کيږي او د حاجي لپاره به خلاصون له اوره پيدا سي ان شاء الله تعالی .
سوال:
په حرمينو کي استوګنه څه حکم لري؟
جواب: د امام اعظمؒ او نورو محتاطينو په نزد په مکه مکرمه کي استوګنه مکروه ده ځکه چي داسي روايات سوي دي چي په مکه کي حسنات او نېکۍ په يو لک چنده کيږي او ګناهونه هم په يو لک چنده کيږي، او په مدينه منوره کي هم استوګنه داسي دهٔ لکه په مکه مکرمه کي خو د هغه چا لپاره نه ده مکروه چي پر خپل نفس او ځان اعتماد لري يعني ادب تعظيم او تقوی کولی سي داسي چا ته په مکه مکرمه کي استوګنه مستحب ده او په مدينه منوره کي افضل ده .
سوال:
د حرم شريف حدود څو ميله دي؟
جواب: ټول څلور دېرش (۳۴) ميله دي د مدينې له طرفه درې ميله د جعراني له طرفه اووه ميله د جدې له لاري لس ميله د طائف له لاري اووه ميله د عراق د لاري هم اووه ميله دی .
سوال:
که يو څوک تر حرم دباندي داسي جنايت وکړي چي حد پر واجبيږي لکه قتل، زنا يا شراب او حرم ته داخل سي څه حکم لري آيا حد به پر جاري کيږي که يا؟
جواب: په حرم کي دننه حد نسي پر جاري کېدلی او نه يې په زور را ايستلی سي بلکي بيع شراء خوراک او څښاک ټول شيان دي پر منع کړي چي

Maktaba Tul Ishaat.com

مجبور سي يا پخپله را ووزي او يا هلته مړ سي .

سوال :

په مکروه ووختونوکي لکه د لمر ختو وخت يا لوېدو يا استواء وخت په مکه مکرمه کي هم لمونځ مکروه دی که يا؟

جواب : هو! مکروه دی .

سوال :

آب زم زم د تبرک لپاره څوک استعمالولی سي؟

جواب : هو! د تبرک لپاره مستحب دي ، ډېر اب زم زم څښل مستحب دي د ايمان نښه ده .

سوال :

د بيت الله شريفي پوښ خرڅېدل را نيول تقسيمول چا ته په ملک ورکول جواز لري که يا؟

جواب : هو! که يې باچا خرڅ کړي روپۍ دي بيرته پر بيته ولګوي که يې خوښه وه پر فقيرانو دي تقسيم کړي که اهل مکي وي که بل څوک؟

سوال :

که څوک پاک شی په بيته شريفه پوري د تبرک لپاره مښي او بيا يې له ځان سره وړي خادم الکعبه يې منع کولی سي که يا؟

جواب : نه ! نه يې سي منع کولی .

سوال :

مکې ته په داخلېدو سره به حاجي کوم اداب مراعاتوي؟

جواب : راسته پښه به مخته کوي د دخول په وخت کي او چپه پښه به مخته کوي د خروج په وخت کي ، ماثوره دعا به کوي ، دوه رکعاته نفل به کوي ، عاجز او وېرېدونکی به وي ، لوڅي پښې به وي ، سر به د بام طرفته نه

Maktaba Tul Ishaat.com

پورته كوي، د رسول الله ﷺ د مصلي قصد به لري .

سوال :

د دعا د قبلېدلو كوم ځايونه دي؟

جواب : ملتزم، تر ميزاب لاندي، مقام ابراهيم، صفا او مروا، عرفه، مزدلفه ، منى، د ځلو د ويشتلو وخت، د بيتې شريفي د لېدلو وخت، داخل حطيم، حجر اسود، ركن يماني .

سوال :

رسول الله ﷺ په كومو ځايونو كي لمنځونه كړي دي؟

جواب : د حجر اسود مطاف ته نږدې، په ركن عراقي كي، د بيتې شريفي په دروازه كي، د بيتې شريفي مخامخ، په حطيم كي دننه په كعبه كي، د ركن يمانيو په مابين كي، په ركن يماني كي، په مصلى د ادم عليه السلام كي چي جانب د ركن يماني دي .

سوال :

د كومو ځايو زيارت كول مستحب دي؟

جواب : د لاندي ځايونو زيارت كول مستحب دي:

۱ . د خديجې رضى الله تعالى عنها زيارت چي فاطمه رضى الله تعالى عنها هم دالته پيدا سوې ده او د رسول الله ﷺ مسكن هم دى او رسول الله ﷺ به همېشه دالته مقيم ووتر ځو چي هجرت يې وكاوو .

۲ . د مولد شريف زيارت كول .

۳ . د ابو بكر صديق ؓ د سراى زيارت كول .

۴ . د علي ؓ د مولد زيارت كول .

۵ . دارقم د مولد زيارت كول .

۶ . د غار ثور زيارت كول .

۷ . د مسجد جن زیارت کول .

۸ . دمسجد شجره زیارت کول .

۹ . د مسجد الجیاد زیارت کول .

۱۰ . د مسجد الغنم زیارت کول .

۱۱ . د مسجد ابي قیس زیارت کول .

۱۲ . د مسجد بذطوی زیارت کول .

۱۳ . د مسجد جعرانه زیارت کول .

۱۴ . د مسجد الکبش زیارت کول .

۱۵ . د مسجد خیف زیارت کول .

۱٦ . د مسجد چي راسته طرفه ته د مقوف دی د هغه زیارت کول .

۱۷ . د غار مرسلات زیارت کول .

۱۸ . د اهل معلٰی زیارت کول مستحب دي .

په اهل معلٰی کي صحابه تابعین اولیاء او صالحین پټ دي خو د معلوم صحابي قبر معلوم نه دی، مګر صالحینو د خدیجة کبرٰی رضی الله عنها قبر په خوب لیدلی چي د عیاضؒ په څنګ کي دی، او چي څوک وایي چي دغه معلوم قبر د عبد الله ابن عمرؓ دی دا نه دی صحیح ، له تابعینو څخه عطا ، سفیان بن عیینه او فضیل رضی الله تعالی عنهم دلته مدفون دي، حاجي ته مناسب دی چي د اهل معلٰی زیارت وکړي او تبرک حاصل کړي او سلام باندي ووایي او ډېر قرأت د دوی شاوخوا ووایي او ډېري دعاوي وکړي او ذکر وکړي او استغفار ووایي او د ځان او ټولو مسلمانانو لپاره دعا وکړي او ذکر وکړي او استغفار ووایي او د ځان او ټولو مسلمانانو لپاره دعا وغواړي ، سورت فاتحه، اول د سورت بقره تر مفلحون پوري، ایت کرسي او سورت تکاثر او قل هو الله دی (۱۲) یا (۱۱) یا (۷) یا (۳) واره ووایي ثواب دی د

Maktaba Tul Ishaat.com

اهل معلٰی وارواحو ته ور وبخښي .



د رسول الله ﷺ د زیارت
ثبوت فضیلت او اداب

قال الله تعالی: ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّاباً رَّحِيماً ﴾ (النساء)

وعن عبد الله بن عمر قال قالرسول الله ﷺ: مَنْ حَجَّ فَزَارَ قَبْرِی بَعْدَ مَوْتِیْ كَانَ كَمَنْ زَارَنِی فِی حَيَاتِی۔ (رواه سننه الكبرى ج ص ۰۰) وعن أبى الجعد الضمرى أن النبى ﷺ قال: لا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدِ: الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِیْ هٰذَا وَمَسْجِدِ الْاَقْصٰی۔ (رواه البخارى فى الصحيح عن أبى الوليد وأخرجه مسلم من وجه آخر عن شعبة) وعن عبد الله بن دينار أن ابن عمر كان اذا أراد سفرا أو قدم من سفر جاء قبر النبى ﷺ فصلى عليه ودعا ثم انصرف، قال محمد: هكذا ينبغي أن يفعله اذا قدم المدينة يأتى قبر النبى ﷺ - (الموطأ روايه محمد بن الحسن)

د سید المرسلین ﷺ زیارت په اجماع د علماؤ قولا او فعلا افضل د سننو او اوکد د مستحباتو او د لوی ثواب وسیله ده او بعض مالکیه یې واجب بولي رسول الله ﷺ وایي چې څوک زما زیارت وکړي د هغه لپاره زما شفاعت واجب دی لـه دې څخه مراد د خاص مراتبو او لوړو درجاتو حاصلول دي .

سوال :
زیارت بنځو ته مستحب که مکروه دی؟
جواب مستحب دی .

سوال: اول به حج کوي که زيارت؟
جواب: اول به حج کوي وروسته زيارت.
سوال: که پر مدينه منوره تېرېدى اول به حج کوي که زيارت؟
جواب: اول به زيارت کوي ځکه له نږدېکېدو سره د زيارت پرېښودل بدبختي ده.
سوال: مدينې منورې ته سړى ورځي په څه طريقه او ادابو به ورځي؟
جواب: لاندي اداب او طريقه به رعايتوي:
۱. کله چي مدينې منورې ته ور نږدې سي غسل او نظافت به وکړي.
۲. په لاره کي به ډېر ډېر درود وايي.
۳. کله چي مدينې منورې ته نږدې کيږ په ډېر ذوق شوق او محبت کي به وي.
۴. کله چي مدينې منورې ته ورنږدې سو تګ دي چابک کړي.
۵. په زيارت کي به کوښښ د ډېر ډېر درود ويلو کوي.
۶. کله چي يې ستر کي پر روضه مطهره ولګيږي درود به وايي.
۷. چي له دابې يا موټر څخه کښته سي ښه دا دى چي لوڅي پښې په ژړا او تواضع دي ور روان سي.
۸. پاکي جامې دي واغوندي افضل نوي جامې دي.
۹. خوشبويي دي ولګوي افضله د مشکو خوشبويي ده.
۱۰. دا دعا به وايي: بِسْمِ اللّٰهِ مَا شَاءَ اللّٰهُ لا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ رَبِّ أَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَ أَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ حَسْبِيَ اللّٰهُ آمَنْتُ بِاللّٰهِ لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَ ارْزُقْنِيْ مِنْ زِيَارَتِ رَسُوْلِكَ ﷺ مَا رَزَقْتَ اَوْلِيَائُكَ وَ اَهْلُ طَاعَتِكَ وَانْقَذْنِيْ مِنَ النَّارِ وَاغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ يَا خَيْرَ مَسْئُوْلٍ بِوَسِيْلَةِ الرَّسُوْلِ ﷺ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال:
حاجي چي حرم ته ننوزي په کوم لاره به ننوزي او څه به کوي او څه به وايي؟
جواب: حاجي چي کله و حرم شريف ته د زيارت لپاره ننوزي داسي نيت به کوي چي زه مجرم ګنهګار او بد کردار مختور مسئول او پر او ملامت د عذر او عفوي او بخښلو لپاره درځم په همدې نيت او کامل اخلاص به پر باب جبريل باندي ور ننوزي چي راسته پښه به اول دننه کړي دادعا به وايي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ وَّصَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ وَافْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، او د رسول الله ﷺ د مبتركي حجرې و شاته محراب النبي ﷺ ته يا د مسجد كوم ځاى چي ورته اسانه وي په هغه كي به دوه ركعاته لمونځ د تحيې وكړي، البته كه پر باب جبريل تك ورته اسانه نسو پر هره دروازه چي راسي پروا نلري كه څه هم افضل باب جبريل دی، صرف د دې خبري لحاظ ساتل ضروري دي چي پر داسي دروازه دي نه راځي چي د مسجد شريف تر داخليدو مخكي د مواجهه ځاى ته د حضور پر نور اقدسﷺ راسي ځک بيا به په هغه صورت كي ضرور بايد سلام او احترام دمخه تر تحيه كوي چي دا خلاف د ادب دی كه يې نه كوي بيا تر هغه زياته بې التفاتي او بې ادبي ده، پر هره دروازه چي داخل سو د مسجد شريف تعمير زيبايي او نورو قيمتي ظروفو او فروشو ته به التفات نه كوي بلكي په زيارت د رعب او حضور او خشوع به د خپل څښتن متعال جل سلطانه د حق د ادا كولو او هم د دې لوی نعمت د شكر څر ګندولو او د دې شريف لوړ مقام مسجد د تحيې لپاره به دوه ركعاته لمونځ چي په اول ركعت كي به قل يا ايها الكافرون او په دوهم ركعت كي به قل هو الله وايي او سلام به كرزوي بيا به الله (ج) ته پر سجده پرېوزي او ذكرونه به ووايي او بيا به سر

Maktaba Tul Ishaat.com

راپورته کړي حمد او ثنا به ووايي وروسته به د خالق لايزال (ج) څخه توفيق د ادب او توبې او د استقامت د شريعت او د تل لپاره د دې لوړ نعمت په نصيب کول د ځان او قريبانو او امت لپاره او د دارينو د سعادت غوښتنه به کوي، بيا به د سردار الکونين رسول الثقلين امام القبلتين ﷺ اقدس حضور ته او قبر منور ته په داسې حال کې روان سي چې زړه به يې د وسوسو او فاسدو افکارو او باطلو خيالاتو او دنياوي قاذوراتو او هوايي شهواتو څخه پاک وي، او سلام به ورته عرض کړي او داسې به وايي:

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا اَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَ بَرَكَاتُهٗ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰهِ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاخَلِيْلَ اللّٰهِ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَيْرَ خَلْقِ اللّٰهِ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَفْوَةَ اللّٰهِ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدَ الْمُرْسَلِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَااِمَامَ الْمُتَّقِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ اَرْسَلَهُ اللّٰه تَعَالىٰ رَحْمَةً لِلْعَالَمِيْنَ ، اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاشَفِيْعَ الْمُذْنِبِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُبَشِّرَ الْمُحْسِنِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ وَ عَلٰى جَمِيْعِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَالْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِيْنَ وَ عَلٰى آلِكَ وَ اَهْلِ بَيْتِكَ وَ اَصْحَابِكَ اَجْمَعِيْنَ وَ سَائِرِ عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ جَزَاكَ اللّٰه عَنَّا اَفْضَلَ وَ اَكْمَلَ مَا جَزٰى بِهٖ رَسُوْلًا عَنْ اُمَّتِهٖ وَ نَبِيًّا عَنْ قَوْمِهٖ وَ صَلَّى اللّٰه عَلَيْكَ اَزْكٰى وَ اَعْلٰى وَ اَنْمٰى صَلٰوةً صَلَّاهَا عَلٰى اَحَدٍ مَنْ خَلَقَهٗ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَ اَشْهَدُ اَنَّكَ عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ وَ خِيَرَتُهٗ مِنْ خَلْقِهٖ وَ اَشْهَدُ اَنَّكَ بَلَّغْتَ الرِّسَالَةَ وَ اَدَّيْتَ الْاَمَانَةَ وَ نَصَحْتَ الْاُمَمَ وَ جَاهَدْتَّ فِى اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ وَ عَبَدْتَّ رَبَّكَ حَتّٰى اَتَاكَ الْيَقِيْنُ ، صَلَاةُ اللّٰهِ وَ مَلَائِكَتِهٖ وَ جَمِيْعِ خَلْقِهٖ مِنْ اَهْلِ السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اٰتِهِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامَ الْمَحْمُوْدِ نِ الَّذِىْ وَعَدْتَّهٗ رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِيْنَ آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَلائِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَ بِالقَدرِ خَيرِهٖ وَ شَرِّهٖ ، اَللّٰهُمَّ افْثَبْتنَا عَلٰى ذَالِكَ وَ لَا تَرُدنَا عَلٰى اَعْقَابِنَا رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَ هَبْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً اِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ، رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَداً ، رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَ بِالْاِيْمَانِ وَ لَا تَجْعَلْ فِى قُلُوْبِنَا غِلًّا لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَؤُفٌ رَحِيْمٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَسْئَلُكَ الشَّفَاعَةَ فِى الدُّنْيَا وَالْبَرْزَخِ وَالْآخِرَةِ۔

او بیا به نیم گز د راسته اوړې لوري ته را تېر سي او پر سیدنا ابوبکرؓ به سلام و وایي او داسي به وایي:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَفِيَّ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا وَزِيْرَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ثَانِىَ رَسُوْلِ اللّٰهِ فِى الْغَارِ وَ رَفِيْقِهٖ فِى الْاَسْفَارِ وَ آمِيْنِهٖ عَلَى الْاَسْرَارِ۔

بیا به نیم گز پر راسته اوږه د باب البقیع په لوري را تېر سي پر دوهم یار امیر المؤمنین عمر الفاروقؓ به سلام و وایي او داسي به وایي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَلسَّلَامُ عليك يَا يَا مَنْ كَمَّلَ بِهٖ الْاَرْبَعِيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنِ اسْتَجَابَ اللّٰهُ فِيْهِ دَعْوَمُ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ اَظْهَرَ اللّٰهُ بِهٖ الدِّيْنَ۔

بیا به یوه لوېشت قدر په چپه اوږه را وګرزي د باب السلام لوري ته د دواړو یارانو مبارکانو او د رسول الله ﷺ د اقدسي روضې تر مینځ به ودرېږي او دواړو یارانو ته به داسي سلام و وایي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا صَاحِبَىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا خَلِيْفَتَىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا يَا وَزِيْرَىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ۔

بیا به پر چپه اوږه را وګرزي د باب السلام لوري ته او د رسول الله ﷺ د اقدسي روضې مخته به ودرېږي او د الله (ج) حمد او ثنا به و وایي چي د دې عظیم نعمت عنایت یې راته وکړ، او بیا به درود شریف و وایي په ډېر زیات شوق او ذوق او محبت سره، او بیا به دا د دنیا او ما فیها اعلی او اشرف

Maktaba Tul Ishaat.com

هستی و الله (ج) ته شفیع کړي په داسي حال کي چي شا به یې قبلې ته وي او مخ به یې ورضې ته وي، او لاسونه به په دعا او عجز سره پورته ونیسي او دځان او مور او پلار او مشائخو او استاذانو او قریبانو او ټولو مسلمانانو لپاره به دعا وغواړي او پر خپلو دعاګانو سر بېره به دا عربي دعا ووایي: اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاشَفِيْعَ الْمُذْنِبِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَااِمَامَ الْمُتَّقِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا قَائِدَ الْغُرِّ الْمُحَجَّلِيْنَ رَسُوْلُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَامَنَّةَ اللهِ سُبْحَانَهُ وَ تَعَالٰى عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا طٰهٰ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا يٰسٓ اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ اَوْ عَلٰى اَهْلِ بَيْتِكَ الطَّيِّبِيْنَ وَ عَلٰى اَزْوَاجِكَ الطَّاهِرَاتِ الْمُبَرَّاتِ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ عَلٰى اَصْحَابِكَ اَجْمَعِيْنَ اَللّٰهُمَّ آتِهٖ نِهَايَةَ مَا يَنْبَغِيْ اَنْ يَّسْئَلَهُ السَّائِلُوْنَ وَ غَايَةَ مَا يَنْبَغِيْ اَنْ يُّؤمِلَهُ الْآمِنُوْنَ اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ قُلْتَ وَ اَنْتَ اَصْدَقُ الْقَائِلِيْنَ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ جَاءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوْا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوْا اللهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا۔

او که چا وصیت ورته کړی وي یا پیغام ورکړی وي هغه به هم ور ورسوي او داسي به وایي: اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ او یا به و وایي چي فلاني د فلاني زوی سلام درباندي وایي:

بیا به په ډېر ادب او احترام ممبر شریف او روضې شریفي ته تشریف راوړي چي د ممبر او قبر مابین دی دالته به نفلي لمونځونه وکړي او دعاګاني به وکړي او حجرې مبارکي ته به په مینه او محبت ګوري او که یې د هجوم په وجه نسو لیدلی بیا به قبلې مبارکي ته ګوري

او هر وار چي مبارکي حجرې ته نږدې تېرېږي اول به و درېږي بیا به سلام ورته ووایي که څه هم د دېوال فاصله په مابین کي وي او په زیات شوق او محبت او په تکرار سره به درود وایي او دا سطواناتو په منځ کي به

زيـات لـمـنـځـونـه كـوي پـه دې شـرط چې نورو لمونځ كونكو تـه ضـرر او تـكـلـيف نـه وي ، او د مـديـنـې مـنـورې پـه ښـار كي چې څونه وخت اوسيږي پـنـځـه لـمـنځـونه به په مستحبه طريقه سره كوي او روژې به نيسي اوزيات نـفـلـونه به كوي او تهجد به كوي ځكه چې دا ډېر قيمتي وخت دى يوه ثانيه بـه نـه ضـائـع كـوي او پـه اول قدم كي به دا كوښښ كوي چې ټول لمنځونه د رسـول الله ﷺ پـه هغه مسجد كي ادا كړي كوم چې درسول الله ﷺ پـه وخت كي جوړ سوى دى .

د رسـول الله ﷺ تـر مـواجهې وروسـتـه د جنت البقيع زيارت كول هره ورځ مستحب دي . (۱)

اهـل بـقـيـع تـه چې كله ور داخل سي پر ټول اهل د دې مبارکي مقبرې به سلام ووايي چې پـه دې مبارکـه مـقـبـره كـي دلسو زرو پـه شا وخوا صحابه كـرام پـټ دي دا ټـول بـه يې پـه نظر كي نيولي وي ، او دا دعا دي ووايي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُتَقَدِّمِيْنَ وَالْمُتَأَخِّرِيْنَ آنَسَ اللّٰهُ وَحْشَتَكُمْ وَرَحِمَ اللّٰهُ غُرْبَتَكُمْ وَضَاعِفْ حَسَنَاتِكُمْ وَكَفِّرْ سَيِّئَاتِكُمْ رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا وَلِوَالِدِيْنَا وَلِاَسَاتِذِنَا وَلِاِخْوَانِنَا وَلِاَوْلَادِنَا وَلِاَحْفَادِنَا وَلِاَقَارِبِنَا وَلِاَصْحَابِنَا وَلِمَنْ لَهُ حَقٌّ عَلَيْنَا وَلِمَنْ اَوْصَانَا وَاسْتَوْصَنَا وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ الْاَحْيَاءِ مِنْهُمْ وَالْاَمْوَاتِ رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَؤُوْفٌ رَّحِيْمٌ۔

بيا بـه د عـثـمـان بـن عـفـانؓ زيـارت تـه راسي چې د مقبرې د لمر ختو په طـرف كـي دى او داسـي بـه سلام ورتـه ووايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا اِمَامَ الْمُسْلِمِيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ثَالِثَ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ذَالنُّوْرَيْنِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَاحِبَ الْهِجْرَتَيْنِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ جَمَعَ الْقُرْآنَ بَيْنَ الدَّفَّتَيْنِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَبُوْرًا عَلَى الْاَقْدَارِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مَنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

بَشِّرِ النَّبِيَّ الْمُخْتَارِ بِدُخُولِكَ الْجَنَّةَ مَعَ الْاَبْرَارِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَكَاتُهُ ـ ١ . ارشاد الساري ص ٥٦٩

د جنة البقيع شريفي مزار

١ . قبر د عثمان بن عفانؓ چي جامع د قرآن دی او دریم خلیفه د اسلام دی او د رسول الله ﷺ زوم دی .

٢ . قبر د ابي سعيد الخدريؓ چي له لويو اصحابو څخه دی او لوی راوي د حديثو دی .

٣ . قبر د سعد بن معاذؓ دی چي رسول الله ﷺ د ده له جنازې سره د كوتو پر سرو تللی په سبب د ډېروالي د ملائكو او دی له لويو انصاري صحابه وو څخه دی .

۴ . قبر د فاطمه بنت اسد چي د عليؓ مور ده او رسول الله ﷺ خپل قميص د تبرک لپاره ورکفن کړی وو ، دغه درې سره په يو چار دېوال کي دي داسي سلام به باندي ووايي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا أَبَا سَعِيْدِ الْخُدْرِيْ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَعْدُ ابْنُ مَعَاذٍ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا فَاطِمَةَ بِنْتِ اَسَدٍ اُمُّ عَلِيٍّ ،بيا به قبر د بي بي حليمي ته راسي چي د رسول الله ﷺ رضعي مور ده سلام به ورته ووايي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكِ يَا حَلِيْمَةَ سَعْدِيَّةَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكِ يَا مُرْضِعَةَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ.

٥ . بيا به شهدا الحره ته راسي او داسي سلام به ورته ووايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا شُهَدَاءِ الْحَرَّةِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا مُجَاهِدِيْنَ فِي الْاِسْلَامِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ جَزَاكُمُ اللهُ خَيْرَ الْجَزَاءِ.

٦ . بيا به د رسول الله ﷺ د زوی ابراهيم زيارت ته راسي چي هلته نور شپږ صحابه كرام هم سته داسي سلام به ورته ووايي: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا اِبْرَاهِيْمَ ابْنِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا يَا عُثْمَانُ بْنِ مَظْعُوْنِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا عَبْدَالرَّحْمٰنُ بْنُ عَوْفٍ يَا اَخِ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فِي الرَّضَاعَةِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا اَحَدَ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَشَرَةَ الْمُبَشَّرَةَ بِالْجَنَّةِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَعْد بْنُ وَقَّاصٍ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا عَبْدَاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سر رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ وَسِوَاكَهُ وَ نَعْلَهُ وَ طُهُوْرُهُ فِي السَّفَرِ۔

۷ . بيا به د نافع او امام مالک قبر ته راسي سلام به پر ووايي .

۸ . بيا به د ابو سفيان او عبد الله بن جعفر او عقيل قبر ته راسي او سلام به پر ووايي .

۹ . بيا به د امهات المؤمنين زيارت ته راسي او سلام به پر ووايي .

۱۰ . او بيا به د رسول الله ﷺ د لونو زيارت ته راسي او سلام به پر ووايي .

۱۱ . بيا به د اهل بيت زيارت ته راسي سلام به پر ووايي .

۱۲ . بيا به د رسول الله ﷺ د عماتو زيارت ته راسي او سلام به پر ووايي .

د فاطمې رضی الله تعالی عنها په قبر کي اختلاف دی څوک وايي چي په بقيع کي دی ځيني وايي چي په خپله خونه کي دی .

فصل دی په بيان د هغو مساجدو کي چي رسول الله ﷺ ته منسوب دي

بيا به مسجد قبا ته تشريف راوړي چي دوه رکعاته لمونځ په مسجد قبا کي ديوې عمرې ثواب لري ، ښه به داوي چي تر اودس يا غسل کولو وروسته په مسجد قبا کي دوه رکعاته لمونځ د تحية المسجد وکړي او بيا دوه رکعاته نور وکړي حي د عمرې په څېر ثواب تر لاسه کړي .

له مسجد حرام و مسجد مدينه او مسجد اقصٰی وروسته مسجد قباء افضل المساجد دی ، د سعدؓ او د ام کلثومؓ د سرايونو تبرک به هم حاصل کړي ځکه چي د سعدؓ په سرای کي رسول الله ﷺ استراحت کړی دی او په

Maktaba Tul Ishaat.com

دار ام کلثوم کي يې په اوله مرحله د هجرت کي نزول کړی دی .

بيا به مسجد جمعه ته تشريف راوړي چي د مسجد قبا شمالي لوري ته دی چي هلته رسول الله ﷺ د جمعې لمونځ کړی دی .

بيا به مسجد فتيح ته راسي چي د مسجد قبا شرقي لوري ته دی، په مسجد شمس سره مشهور دی .

بيا به مسجد بني قريضه ته راسي، بيا به مسجد ام ابراهيم ته تشريف راوړي چي رسول الله ﷺ زوی هلته دنيا ته راغلی دی .

بيا به مسجد خلص ته راسي، بيا به مسجد الاجابة ته راسي او بيا به مسجد الفتح ته راسي چي د جبل سلع په لمن کي دی او هلته مسجد سلمان فارسيؓ هم دی، اومسجد ابوبکرؓ هم داو مسجد عمرؓ هم دی، او مسجد علیؓ هم دی او مسجد فاطمهؓ هم دی، د دې ټولو تبرک به حاصل کړي، او د مسلمان له ازاره به ځان ساتي، او لمنځونه به پکښي وکړي که څه هم مورخين د دې مساجدو نسبت و مذکورو صحابه وو ته بې ځايه بولي .

بيا به مسجد القبلتين ته راسي چي رسول الله ﷺ دلته اول بيت المقدس ته لمونځ کاوو، بيا به مسجد بني حرام ته راسي چي هلته يو غار دی چي رسول الله ﷺ ناسته پکښي کړې ده او وحی باندي نازله سوې ده، بيا به مسجد سقيا ته راسي چي د بير سقيا شمالي لوري ته دی هلته هم رسول الله ﷺ لمنځونه او دعاوي کړي دي، بيا به مسجد ذو باب ته راسي، بيا به مسجد صغير ته راسي چي د سيد الشهداء حمزةؓ زيارت يې شرقي لوري ته دی، بيا به مسجد بقيع ته تشريف راوړي، بيا به مسجد فاطمه ته راسي بيا به مسجد مصلی العيد ته راسي، بيا به د ابوبکر صديقؓ مسجد ته راسي .

Maktaba-Tul-Ishaat.com

فصل دی په زيارت د جبل احد كي

د احد د شهداوو د زيارت مستحبه طريقه دا ده چي د سهار مهال په او داسه باندي رسي د ماپښين لمونځ به بيرته مسجد نبوي ته ورسوي، اول شروع په زيارت د مسجد حمزهؓ وكړي عبد الله بن جحشؓ او مصعبؓ هم له ده سره په مشهد كي پټ دي .

عبد الله، عمرو، عبد الله بن حسحاس، ابو يمن، خلاد، خارجه، سعد، نعمان رضی الله تعالی عنهم دا ټول د حمزهؓ د غرب پ لور د پنځوس ګزه په اندازه پټ دي، د احد د باقي شهداوو قبرونه نه دي معلوم، دوی ټول اويا نفره دي داسي سلام به باندي ووايي : اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ، بيا به د احد د غره جلا زيارت وكړي ځكه چي رسول الله ﷺ د جنت د اركانو بللی دی .

هغه كوهيان او څاهان

چي رسول الله ﷺ ته منسوب دي

بيا به بير رويس ته راسي چي مسجد قبا ته نژدې ده پر دې څاه باندي رسول الله ﷺ او ابو بكر صديقؓ او عمرؓ ناسته كړې ده .

بيا به بيري عرس ته راسي چي دا څاه هم د قبا په لوري ده چي رسول الله ﷺ د دې څاه په اوبو اودس تازه كړی دی .

بيا به بير العهن څاه ته راسي چي د مدينې منورې پر اطرافو په غره كي ده د دې څاه په باره كي هم دا روايت سوی دی چي رسول الله ﷺ اودس ځيني تازه كړی دی .

بيا به بير البعه ته راسي چي بقيع ته نژدې د قبا پر لاره د خرما په باغ كي ده د دې په باره هم د رروايت دی چي رسول الله ﷺ سر په مينځلی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

بيا بـه بيـر بـضاعـه تـه راسي چي رسـول الله ﷺ يې په اوبو اودس تازه کړی دی .

بيا به بير روحاته راسي چي رسول الله ﷺ اوبه څيني څښلي دي .

بيا بـه بيـر اهـاب تـه راسي چي د مديني منورې د ښار غربي لوري ته ده چي رسول الله ﷺ خپلي مباركي نارې پكي توف كړي دي .

بيا به بير انس بن مالكؓ ته راسي .

بيا بـه بيـر رومـه ته راسي چي رسول الله ﷺ د دې په باره كی ويلي دي چي چا چي په رومه كي څه جوړه كړي وي هغه ته به جنت ور كول كيږي .

بيا به بير عليؓ ته راسي دا په ذالحليفه كي ده .

بيـا بـه مسـجـد ذالـحـليـفـه تـه راسي چي ميقات د مديني منورې دی او رسول الله ﷺ نزول او لمونځ پكښي كړي دي اواحرام يې څيني تړلی دی .

بيا به مسجد المعرس ته راسي چي مديني منورې ته نژدې دی .

بيـا بـه مسـجـد راحاء تـه راسي چي له مديني منورې دېرش يا څلوېښت ميله لرې دی .

بيـا بـه مسجد عرق الظبيه ته راسي چي له الرحاء څخه دوه ميله لرې دی چي رسول الله ﷺ او اويا نبيانو صلوات الله عليهم لمونځ پكښي كړی دی .

بيـا بـه مسـجـد غزاله ته راسي چي د الرحا د شيللې په آخير كي دی دلتـه هم رسول الله ﷺ لمونځ كړی دی .

بيـا بـه مسـجـد الصفراء ته راسي چي هلتـه د بدر د غزا د شهيـد ابو عبيده بن حرثؓ زيارت دی .

بيا به مسجد بدر ته راسي چي هلته لوی بدري صحابه دي .

بيـا بـه د جحفه مساجدو ته راسي چي اول مسجد يې د جحفه په اول كي

Maktaba Tul Ishaat.com

دی او لـه مکي مکرمې ډېرش میله لري دی دوهم مسجد يې په اخير کي دی چې د مکې پـه دوه میلـه فـاصله کي دی دریم مسجد يې درې میله لري دی دوه مسجدونه نور هم دی .

بیـا ب مسجد الـفتـح تـه راسي چې رسول الله ﷺ د فتح پـه حـال کي لمونځ پکښې کړی دی .

بیـا بـه مسجد بسرف ته راسي چې هلتـه دام المؤمنین میمونه رضی الله تعالی عنها زیارت دی .

خپل وطن او کور ته د راتګ
آداب او مسنونه طریقه

کلـه چې حاجي د رسول الله ﷺ او نـورو مـذکورو مقاماتو له زیارت څخه فارغ سي نـو مستحبـه طریقـه دا ده چې دوه رکعاته لمونځ دي په مسجد نبوي کـي وکـړي او د خپـل حج او د نورو مسلمانانو د حج د قبلېدو دعاګاني دي وکړي بیا به خپل کورته په خیر د رسېدلو دعا وکړي بیا به دغه لاندي دعا وکړي:

اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ هٰذَا آخِرَ الْعَهْدِ بِنَبِيِّكَ وَ مَسْجِدِهٖ وَ حَرَمِهٖ وَ يَسِّرْلِيَ الْعَوْدَ اِلَيْهِ وَالْعُكُوْفَ لَدَيْهِ وَ ارْزُقْنِيَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَ رُدَّنَا اِلٰى اَهْلِنَا سَالِمِيْنَ غَانِمِيْنَ اٰمِنِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ، ډېري او ښکي به توی کـړي دا د قبـول عـلامــه ده ډېره ژړا او غـم بـه کـوي پـر فـراق او جدايي د خیرالکونین رسول الثقلین ﷺ، له قدرت سره برابره به څه صدقه وکړي و اذکار به وايي چې کله خپل وطن ته نژدې کیږي دغه دعا به وايي : آئبون تائبون لربنا حامدون ، چې کله خپل ښار يا کلي ته داخل سي اول به مسجد ته ورسي دوه رکعاته د تحیې لمونځ به وکړي کله چې کور ته داخلیږي دغه دعا به ډېره وایي توبا توبا لـربنا او بالایغادر علینا حوبا، کله چې کور ته داخل

Maktaba Tul Ishaat.com

سي دوه ركعاته لمونځ به د تحية المنزل وكړي پر اتمام د حج او كور ته په خير را رسيدلو به شكر ادا كړي په باقي عمر كي به د ښكو صالحو افعالو اقوالو او اعمالو كوښښ كوي .(۱)

سوال:

حج په مزدوري روا دی او كه نه؟

جواب: محترمو حاجيانو په مزدوري حج بالكل نه دی صحيح او كه چا ته روپۍ وركړي حج د هغه چا دی چي حج يې كړی دی د هغه مړي ته ثواب نسته نو ځان وساتئ چي هم روپۍ ولاړې او هم ثواب نسته لكه په حرم كي خلك ګرزي (۲۰۰۰) ريال واخلي او و مړي ته يې هم ثواب نه رسيږي لكه دغه مذكوره كتابونه وګورئ: كنز، وقايه، مجمع، مختار، رد المحتار: ج ۲: ص ۱۲۶۰. ارشاد الساري ص ۵۸۷

اشباه النظائر: الخامس: عدم اشتراط الاجرة على الصحيح فلو استأجر رجلًا بان قال: له استأجرتک على الحج عنى بكذا لا يجوز حجه عنه . . .

مناسک ملا على قارى: ص ۲۸۸

خو بيا هم تكراراً وايم حج نه صحيح كيږي يعني ثواب يې نسته او نه هم ثواب رسيږي او داسي هم كېداسي چي دغه سړي د بل چا سره هم وعده د حج كړې وي چه زه ستا دپاره حج كوم .

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat.com